يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوٓا إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ النَّاسِ بِالْبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِى سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ

اې مومنانو! ددې اهل کتابو د زیاترو علماوو او روحانیونو حال دا دی چې د خلکو مالونه په ناروا لارو خوري او هغوی د الله له لارې څخه منع کوي او هغه خلك چې سره او سپین زر خزانه کوي او د خدای په لاره کښې يې نه لګوي؛ نو دوی ته د دردناکه عذاب زیری ورکړه.

مؤسسة العزائم الإعلامية

غازي خراسان

دیني، تاریخي، سیاسي، ادبي او خبري مجله

12 ګڼه

دوولسمه ګڼه / چهارشنبه 1 ربيع الثانى 1444هـ

د مجلې له منځپانګې څخه

تفسير القرآن الكريم

طالبان د هيرا منډيې د دلالانو شاګردان

د ناټوګۍ درباريان

خراسان د مرتدينو مقبره

- سيرت النبي صلى الله عليه وسلم
- نثر الؤلؤ والمرجان
- د اصحابو د ژوند پلوشې عبد الله بن حذافه السهمى
- الفلاح والرشاد فى مسايل الجهاد

دافريدو ميرني بنير چمتو

تقبله الله تعالى

تړي غازيان | لنډه کيسه

... خومزل داسی حال ته رسولې يو چی دتنديې دلاسه نور دژوند اخري شيبې محسوسوو، ژبې مو داسې کلکې شوې لکه په خوله کې مو چې د لرګي تخته نيولې وي اويا مو د رخت ټوټه خوله کې وي په تير انقلاب کې هم دومره سخت امتحان سره نه وم مخ شوی، مخکې که امتحانات سخت وو، خو د خوراک څښاک ترتيب به يو څه برابر وو تنده به دومره نه اوږديده ....

مؤسسـة العـزائم يـې وړانـدې کـوي

دیني برخه

1 تفسير القرآن الكريم

7 نثر اللؤلؤ والمرجان (في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان) لسم درس

11 الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد (صحيح البخاري كتاب الجهاد) لسم درس

16 سوال ځواب

18 د الله عزوجل په آیتونو ایمان راوړه سمه لاره به ومومې!

سیاسي برخه

25 ناکاره ملایات لعنتیان دي غضب پرې شوی!

29 طالبان د هیرا منډی د دلالانو شاګردان

38 د ناټوګی درباریان

ادبي برخه

42 شعر (وحشت عام شوی)

43 ترې غازیان (لنډه کیسه)

47 د افریدو میړني

51 شعر

تاریخي برخه

52 سیرت النبي صلی الله علیه وسلم

57 عبدالله بن حذافة سهمي رضی الله عنه

خبري برخه

61 انفوګراپیک

62 خراسان د مرتدینو مقبره

تفسير القرآن الكريم
سُورَةُ التَّوْبَة
دولسم درس ١٢

أعوذ بالله من الشيطان الرجيم

مخکې آيتونو کې د صحابه وو توبه ذکر شوه او د منافقانو خباثتونه ذکر شول، وس دې آيت کې الله عزوجل د منافقانو يوه بله دسيسه بيانوي، چې دوی د اسلام په جامه کې مسلمانانو ته ضرر رسولو کوشش کوي. لکه مسجد ضرار يې جوړ کړی و. د اسلام په نوم د کفر مرکزونه جوړوي. او ددغه سنګر څخه د اسلام په ضد تبليغات ترسره کوي، مسلمانان بدناموي، تجسس کوي. نو ددغه مراکزو د منځه وړل فرض او واجب دي.

وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَكُفْرًا وَتَفْرِيقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَادًا لِمَنْ حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ مِنْ قَبْلُ وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا الْحُسْنَى وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ (107)

ژباړه: (او بعضې د منافقانو نه) هغه کسان دي چې جوړ کړې يې دی جمات د ضرر ورکولو لپاره او د وجې د کفر نه او لپاره د جدايي په منځ د مومنانو کې او مورچه (سنګر) لپاره د هغه چا چې خلاف يې کړی دی د الله تعالی او د هغه د رسول عليه السلام مخکې ددې نه، او خامخا دوی قسمونه کوي چې مونږ اراده نه ده کړې پدې سره مګر د نيکۍ او الله تعالی خبر ورکوي چې يقينا دوی دروغژن دي.

تفسير:

[وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَكُفْرًا وَتَفْرِيقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَادًا لِمَنْ حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ مِنْ قَبْلُ]:

حافظ ابن کثير ددې آيتونو شان نزول د امام سعيد بن جبير، امام مجاهد، امام عروه بن زبير، امام قتاده او نورو علماؤ څخه ذکر کړی دی، لنډيز يې داسې دی: په مدينه کې د خزرج قبيلې يو سړی و چې ابو عامر راهب ورته ويل کيدل او دا د جاهليت په وخت کې نصراني شوی و، په خزرج قوم کې د هغه لوي مقام و. کله چې نبي عليه السلام مدينې ته هجرت وکړو نو هغه ته يعني ابو عامر راهب ته يې د اسلام دعوت ورکړو خو هغه انکار وکړ.

[دا ابو عامر الراهب د مشهور صحابي حنظله رضي الله عنه، غسيل الملائکه پلار و، زوی ته يې انسان وګوري، او پلار ته يې وګورئ، بيخي د حيرانتيا خبره ده]

د بدر د غزا نه وروسته مکې ته لاړو او د قريشو کافران يې د نبي عليه السلام په خلاف جنګ ته وهڅول، د احد په غزا کې د کافرانو په صفونو کې مخکې راغلو او انصارو ته مخاطب کيدو سره يې دوی ته د خپل تائيد او نصرت دعوت ورکړو چې په ځواب کې انصارو ده ته ډير بد رد وويل، دې نه وروسته بيا دا روم ته لاړو او هلته يې هرقل پاچا د مسلمانانو په خلاف راتيز کړ او د هغه ځای نه يې په مدينه کې خپلو منافقانو ملګرو ته وليکل چې دوی يو مسجد جوړ کړي چې دغه کار سره يې هدف په مسلمانانو کې جدايي پيدا کول و او کله چې هغه مدينې ته راشي نو دغه مسجد به د مورچې په توګه استعمالوي نو هغوی پرې شروع وکړه او د مسجد قباء په خوا کې د نبي عليه السلام تبوک غزا ته تللو څخه مخکې جوړ کړ کله چې منافقانو هغه جوړ کړ نو نبي عليه السلام ته راغلل او ورته يې اوويل چې مونږ د کمزورو او بيمارانو لپاره مسجد جوړ کړی چې د يخنۍ او باران په وخت کې دلته راځي نو الله تعالی پدغه مسجد کې د مونځ کولو څخه نبي عليه السلام منع کړو، او ورته يې اوويل چې زه خو وس د سفر لپاره تياری کوم چې بيرته راشم نو بيا به درشم ان شاءالله، کله چې نبي عليه السلام د تبوک نه راوګرځيد، او مدينې ته د يوې ورځې يا د څه حصې د ورځې په اندازه باندې سفر پاتې شو نو پدې کې جبريل عليه السلام وحي راوړه او نبي عليه السلام ته يې ددغه مسجد ضرار خبر ورکړ او په هغه څه يې هم خبر ورکړ چې دوی پدې مسجد سره د کفر او مؤمنانو په مينځ کې د جدايي راوستلو اراده کړې وه او مسجد قباء هغه مسجد دی چې د هغې بنياد په تقوا سره ايښودل شوی بيا نبي عليه السلام مدينې ته د راتلو څخه مخکې ددغه مسجد ضرار د ړنګولو لپاره صحابه وليږل نو هغوی دغه مسجد وسوځولو. [تفسير ابن کثير]

نو الله عزوجل خپل نبي عليه السلام ته خبر ورکړو چې دوی دغه جمات د څلور علتونو لپاره جوړ کړی و:

اول: د ضرر ورکولو لپاره. دويم: په الله عزوجل باندې کفر له امله. په الله عزوجل باندې يې کفر کاوو او مسلمانانو سره يې سيالي کوله،ځکه دوی د منافقانو د تقويې مرکز جوړوو. دريم: د مومنانو ترمنځ تفرقه اچول. ځکه دوی دا اراده کړې وه چې مسجد قباء ته به نه حاضريږي، نو مسلمانانو جمعه به کمه شي، او پدې سره د خبرو اختلاف او د مينې محبت د منځه تلل راولاړيږي. څلورم: د الله او د هغه رسول عليه السلام سره جګړه کول. يعني د دوی سره د جګړې لپاره چمتوالی کول.

د مسجد ضرار تعريف: هر هغه جمات چې مسلمانانو ته د ضرر او اذيت رسولو لپاره جوړ شوی وي هغې ته مسجد ضرار وايي.

لهذا کوم مسجد چې په دليل سره ثابت شي چې دا مسجد ضرار دی نو په هغې کې لمونځ کول جائز ندي الله عزوجل فرمايي: لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا [سُورَةُ التَّوبَة : 108]

ژباړه: ته هيڅکله په دغې (ودانۍ) کښې مه دريږه.

مفسر قرطبي رحمه الله پخپل تفسير کې ويلي:

قَالَ عُلَمَاؤُنَا: وَكُلُّ مَسْجِدٍ بُنِيَ عَلَى ضِرَارٍ أَوْ رِيَاءٍ وَسُمْعَةٍ فَهُوَ فِي حُكْمِ مَسْجِدِ الضِّرَارِ لَا تَجُوزُ الصَّلَاةُ فِيهِ.

تفسير القرطبي ج ٨/ ص ٢٥٤.

ژباړه: زمونږ علماء وايي کوم مسجد چې مسلمانانو ته د ضرر ورکولو لپاره جوړ شي او يا د رياء او سمعت لپاره جوړ شي نو دا په حکم د مسجد ضرار کې دی او په دی کې لمونځ کول جائز ندي.

قاسمي رحمه الله پخپل تفسير محاسن التأويل (ج ٥ / ص ٥٠٥) کې ليکي: دلت الآية على أن كل مسجد بني على ما بني عليه مسجد الضرار، أنه لا حكم له ولا حرمة، ولا يصح الوقف عليه. وقد حرق الراضي بالله كثيرا من مساجد الباطنية والمشبهة والمجبرة وسبل بعضها. نقله بعض المفسرين. قال الزمخشري: قيل: كل مسجد بني مباهاة أو رياء وسمعة أو لغرض سوى ابتغاء وجه الله، أو بمال غير طيب فهو لاحق بمسجد الضرار. وعن شقيق أنه لم يدرك الصلاة في مسجد بني عامر، فقيل له: مسجد بني فلان لم يصلوا فيه بعد، فقال: لا أحب أن أصلي فيه، فإنه بني على ضرار، وكل مسجد بني على ضرار، أو رياء وسمعة فإن أصله ينتهي إلى المسجد الذي بني ضرارا.

ژباړه: کوم مسجد چې په هغه طريقه باندې جوړ شي چې په کومه طريقه مسجد ضرار جوړ شوی و نو دې باندې د مسجد حکم نه کيږي، او نه يې هم تعظيم شته او کومک ورسره کول سم ندي. او يقينا الراضي بالله د ډيرو باطنيه وو، مشبهه وو او مجبره وو جماتونه سوځولي وو او ددغه مساجدو ځمکې يې مباح پريښودلی چې د چا په ملکيت کې يې داخلې نکړی، دا د بعضې مفسرينو نه نقل دي. زمخشري په تفسير الکشاف کې وايي: ويل شوي دي هر هغه مسجد چې د فخر، رياء او شهرت لپاره جوړ شوی وي، يا د الله عزوجل د مخ د غوښتلو پرته د بل څه لپاره جوړ شوی وي، يا په داسې پيسو چې پاکې نه وي، نو دا هم د مسجد ضرار حکم لري. او شقيق به په مسجد بني عامر کې لمونځ نه کولو نو چا ورته اوويل چې فلاني مسجد کې خلکو تر اوسه لمونځ نه دی کړی [نوی جوړ شوی او ته پکې مونځ وکړه] نو هغه اوويل چې زه په هغه مسجد کې لمونځ کول نه خوښوم ځکه چې هغه مسلمانانو ته د ضرر لپاره جوړ شوی او هر مسجد چې د ضرر يا د رياء او سُمْعت لپاره جوړ شي نو ددی أصل هغه مسجد ته رسيږي چې هغه مسلمانانو ته د ضرر لپاره جوړ شوی وي.

وس هر هغه مسجد چې دا څلور صفات پکې وي، هغه مسجد ضرار دی او ړنګول يې په مسلمانانو فرض دي. نن سبا خلک د روافضو حسينيه او عبادت ګاه ته هم مسجد وايي، وايي اسلامي خلافت مسجد کې چاودنه کړې، سره ددې چې دا به د کتاب وسنت خلاف د مشرکانو يوه مهمه مورچه وي، چې د مسجد ضرار څخه به خطرناکه وي، خو ورانولو باندې يې خلک خفه وي.

مستدرک د حاکم کې روايت رازي چې د منافقانو مسجد ضرار نه لوګي روان و، نو د هغه مسجد به څه حکم

وي چې هغه د کفر او شرک مرکز وي، صحابه رضی الله عنهم ته په کې کنځل کيږي او هغوی ته په کې کافر ويل کيږي، د نبي عليه السلام په عزت باندی تور داغ لګول کيږي، د مسلمانانو مور ته په کې زناکاره ويل کيږي، د صوفيت په نوم د مسلمانانو فکر او نظر اشغاليږي، د حق په خلاف د باطل نظامي او عقيدوي سنګر وي، او ښکاره شرک په کې ترسره کيږي ددغه مسجد ورانول او سوځول په طريقه اولی سره واجب او لازم دي.

او طالبان به څنګه دا انتقاد کوي چې اسلامي خلافت مجاهدين په جمات [حقيقت کې د کفر او شرک سنګر] باندې بريد کوي، پوښتنه دا ده چې دوی خپله څومره جماتونه وران کړي دي، هغه جماتونه چې هلته د سابقه افغان حکومت پوستې وې، دغه رنګ د کابل ادارې په پوستو، ولسواليو، قرار ګاهو او ارګ کې هم جماتونه وو، مصحفونه وو، په بيرغ يې کلمه وه، طالبانو پرې ولې بريد کاوه ؟ کنه ددوی د اخستلو او خرڅولو تلې جدا جدا دي ؟ د غليظو مرتدو شيعه ګانو په ټينکونو آيتونه او کلمه ليکل شوي وي، د پاکستان په پوستو او چوڼيو کې هم جماتونه دي، نو آيا هلته به هم بريد ناروا وي ؟

[من قبل]: مخکې د غزوه تبوک څخه يا مخکې د مسجد جوړولو څخه مراد دی.

[وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا الْحُسْنَى وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ]:

{وَلَيَحْلِفُنَّ} : أي الَّذِينَ بَنَوْهُ. ژباړه: او خامخا دوی قسمونه کوي، يعني چا چې دا مسجد جوړ کړی دی.

{إِنْ أَرَدْنَا إِلا الْحُسْنَى} أَيْ: مَا أَرَدْنَاهُ بِبُنْيَانِهِ إِلَّا خَيْرًا وَرِفْقًا بِالنَّاسِ. ژباړه: مونږ خو دې جمات جوړولو سره د نيکۍ او خلکو سره د نرمۍ اراده کړې ده.

الله تعالی پرې رد کوي: {وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ} أَيْ: فِيمَا قَصَدُوا وَفِيمَا نَوَوا، وَإِنَّمَا بَنُوهُ ضِرارا لِمَسْجِدِ قُبَاء، وَكَفْرًا بِاللَّهِ، وَتَفْرِيقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ، وَإِرْصَادًا لِمَنْ حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ. ژباړه: الله عزوجل ګواهي ورکوي چې يقينا دوی درواغجن دي، په هغه څه کې چې دوی يې اراده او نيت کړی دی. او دوی دا جمات مسجد قباء ته ضرر ورکولو لپاره جوړ کړی، او په الله باندې کفر کولو، او د مومنانو ترمنځ تفرقه اچولو او الله او د هغه رسول پر ضد جنګيدونکو لپاره سنګر په پار جوړ کړی.

[مخکې آيت کريمه کې د مسجد ضرار پيژندنه وشوه، نو اوس دلته د مسجد ضرار حکم بيانوي چې دې کې مونځ کول منع دي]

لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَنْ تَقُومَ فِيهِ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ (108)

ژباړه: مه ودريږه ته پدې جمات کې هيچرې، خامخا هغه جمات چې بنياد يې کيښودلی شوی دی په اخلاص د عقيدې باندې د اولې ورځې څخه، لائق ددې دی چې ته پکې ودريږې. پدې جمات کې داسې سړي دي چې خپل پاکوالی خوښوي، او الله تعالی مينه کوي دداسې پاکو خلکو سره.

تفسير:

[لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا]:

أَيْ: فِي وَقْتٍ مِنَ الْأَوْقَاتِ. يعني په هيڅ وخت کې هم دلته مه ودريږه، او پدغه جمات کې د ودريدو منع پدغه جمات کې مونځ کولو لره هم مستلزم ده، چې ودريدل منع شو نو مونځ کول خو پکې په طريقه اولی منع شو. او کله په شريعت کې د مونځ څخه په قيام سره هم تعبير کيږي، لکه حديث کې راځي: من قام رمضان ايمانا واحتسابا، من قام ليلة القدر. او داسې نور. او يا د مونځ سره سره نفس ودريدل هم مراد دي، چې دغه شان جماتونو کې مه مونځ کوه او مه پکې ودريږه.

[لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَنْ تَقُومَ فِيهِ]:

دې جملې سره الله عزوجل د سابقه نهي علت ذکر کوي.

[لَمَسْجِدٌ]: دا لام د قسم لپاره دی. دويم: يا دا لام د ابتداء لپاره دی او پدې کې د جملې د مضمون تاکيد دی.

او د آبادۍ تاسيس څخه مراد د هغه کلکول او اوچتول دي، او تقوی باندې بنياد کيښودلو هدف دا دی چې په هغه صفاتو او عقائدو سره ددې بنياد کيښودل شوی دی چې هغې له امله انسان د بد انجام څخه محفوظيږي.

اوس د دې جمات څخه مراد کوم جمات دی ؟ نو دې کې دوه اقوال دي: اول قول د عبد الله بن عباس، ضحاک، شعبي او نورو څخه روايت شوی چې دې نه مراد مسجد قباء دی. دويم قول د نورو علماؤ دی چې دې نه مراد مسجد نبوي دی. فتح القدير ليکي چې اول قول راجح دی.

[مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ] دا متعلق دی د أُسِّسَ پورې، معنا به يې داسې شي چې ددې جمات بنياد د جوړونې اولې ورځې راهيسې په تقوی سره کيښودل شوی دی.

بيا د [أَوَّلِ يَوْمٍ] نه مراد د نبي عليه السلام د هجرت وخت دی، چې په لمړيو ورځو کې يې د مسجد قباء بنياد کيښود. او د همدې ورځې څخه عمر رضي الله عنه د اسلامي تاريخ بنياد کيښود، وايي الله تعالی دې ورځ ته اوله ورځ ويلي دي. نو دا هجري قمري تاريخ د نبي عليه السلام د هجرت ورځې څخه پيل شوی دی، متاسفانه چې نن اکثر خلک انګريزي تاريخ استعمالوي خو خپل اسلامي تاريخ ورته نه وي معلوم، د اسلامي مياشتو نومونه ورته نه وي معلوم، د کرکټ لوبغاړو نومونه به ورته زده وي، د سندر غاړو او ډمانو نومونه به هم ورته ورځي خو د اسلامي کال دولس مياشتو نومونه به ورته نه ورځي، دا د معاشرې حال دی، او ددې هجران تر ټولو ستر مجرم د وخت دولت دی، د امريکا لخوا طالبانو ته ورسپارل شوی نظام ددې مجرم دی، چې د کرکټ لوبه ډير په وياړ سره د ملي تلويزون څخه نشروي، خلک ورته ترغيبوي، لوړ پوړي چارواکي يې هم دغه لوبو ته ورځي، او په ټوله سيمه کې د ډيموکراسۍ ددغه ناروا لوبو يو غوغا جوړه وي، هر سړی تلويزون په لور منډې وهي، چې نن د افغانستان او پاکستان لوبه ده، نن د افغانستان او د هند لوبه ده، پدې کې بيا قوميت ته خبره وځي، دغه د سيکولر عقيدې خاوندان خپل ملي اتلان بولي، پدې کې قمار بازي کيږي، نو دغه ماحول سره د دې عصر ځوانان د اسلامي تعليماتو څخه ورځ تر بلې لرې کيږي، او د کفر او سيکولرزم فرهنګ، اخلاق او ثقافت زده کوي، بيا طالبان وايي چې زمونږ نظام اسلامي نظام دی، نور يې سترګې پټې کړي دي چې پدې فعاليتونو سره ځوان قشر د جهاد، هجرت، عبادت پرځای د کفارو تقاليدو او رسوماتو په زولنو تړي. والله المستعان.

[فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ]:

ددغه مومنانو طهارت سره مينې څخه مراد دا دی چې کله دوی د ناپاکۍ سره مخ شي نو ډير په اهتمام سره د پاکۍ غم کوي، يا چا دا معنا کړې ده: دوی په توبې او استغفار سره د ګناهونو څخه توبه ويستل خوښوي. خو اوله معنا غوره ده.

عن أَبي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ، وَجَابِرِ بْن عَبْدِ اللَّهِ، وَأَنَس بْن مَالِكٍ: أَنَّ هَذِهِ الْآيَةَ نَزَلَتْ: {فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ} [التوبة: 108] قَالَ: قَال رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ، إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَثْنَى عَلَيْكُمْ فِي الطُّهُورِ، فَمَا طُهُورُكُمْ؟ قَالُوا: نَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ، وَنَغْتَسِلُ مِنْ الْجَنَابَةِ، وَنَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ. قَالَ: "فَهُوَ ذَاكَ، فَعَلَيْكُمُوهُ". رواه ابن ماجة وسنده حسن لغيره.

ژباړه: ابو ايوب انصاري، جابر بن عبد الله او انس بن مالک رضي الله عنهم څخه روايت دی چې کله دا آيت کريمه نازل شو، نو نبی عليه السلام وفرمايل: اې د انصارو ډلې، يقينا الله تعالی ستاسې د پاکوالي صفت کړی دی، نو ستاسې [دا] پاکوالی څه شی دی ؟ هغوی ورته وويل: مونږ د مونځ لپاره اودس کوو، او د جنابت څخه غسل کوو، او په اوبو سره استنجاء کوو. هغه وفرمايل: دا همدغه پاکوالی دی، لازم يې ونيسئ.

دې حديث مبارکه کې د انصارو صفت راغلی دی، معلوميږي دا چې مهاجرينو به اکثر په کاڼو سره استنجاء کوله، خو انصارو به اوبه استعمالولی. او اوبو سره انسان ښه صفا کيږی، او صفايي د الله عزوجل ډيره خوښه ده. چې يو بنده خپل ځان د باطني او ظاهري ناولتوب څخه په کامله معنا باندې پاک کړی او بيا رب العالمين ته ودريږي، عبادت يې کوي، مناجات ورسره کوي، نو الله عزوجل باندې دغه بنده زيات ګران وي، دده دعا قبلوي، دده حاجتونه پوره کوي، خو کوم انسان چې د صفايي اهتمام نه کوي، نو الله عزوجل هغه انسان دومره نه خوښيږي. ددې خبرې يوه بيلګه به بيانه کړو، کله چې يو سړی د مسلمانانو امير خواته ورځي، د خليفة المسلمين ملاقات ته روان وي، نو ځان ښه خايسته کوي، او د خپل وسع مطابق ځان صفا کوي، نو الله عزوجل لپاره خو مثال نه بيانيږي، هغه لپاره خو زيات پاکوالی پکار دی.

[اوس دې آيت کريمه کې الله عزوجل نبي عليه السلام ته د مسجد ضرار څخه اجتناب کولو دويم علت

بیانوي، او د دوارو مساجدو تقابل ذکر کوي]

أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَى تَقْوَى مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَمْ مَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَى شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (109)

ژباړه: آیا نو هغه څوک چې کیښودې یې دی بنیاد د آبادۍ خپلې په ویره د الله تعالی او د هغه په رضامنتیا سره، غوره دی او که هغه څوک چې کیښودې یې دی بنیاد د آبادۍ په غاړه د یو ړې کمر باندې چې غورځیدونکی دی، نو وغورځیږي سره دده په اوور د جهنم کې او الله تعالی توفیق د نیکۍ نه ورکوي ظالمانو قوم ته.

تفسیر:

[أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَى تَقْوَى مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ]:

دلته همزه د انکار لپاره راغلې ده، او بنیان مصدر دی، د عُمران په شان، او مراد ترې مَبْنِي ده، یعني آبادي ترې مراد ده.

فتح القدیر کې لیکي: دا جمله مستأنفه ده، معنا یې دا ده: أَنَّ مَنْ أَسَّسَ بِنَاءَ دِينِهِ عَلَى قَاعِدَةٍ قَوِيَّةٍ مُحْكَمَةٍ، وَهِيَ تَقْوَى اللَّهِ وَرِضْوَانُهُ خَيْرٌ مِمَّنْ أَسَّسَ دِينَهُ عَلَى ضِدِّ ذَلِكَ، وَهُوَ الْبَاطِلُ وَالنِّفَاقُ.

ژباړه: چا چې د خپل ددین آبادي په قوي او پوخ بنیاد باندې جوړه کړه، چې هغه د الله څخه تقوی او د هغه رضامندتیا ده، دا غوره دی د هغه چا څخه چې هغه د خپل دین آبادي ددې په ضد باندې جوړه کړې ده، چې هغه باطل او نفاق دی.

[مَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَى شَفَا جُرُفٍ هَارٍ]:

وَالشَّفَا: الشَّفِيرُ، غاړې او څنډې ته وایي. وَالْجُرُفُ: هغه کمر [تیګې] ته وایي چې سیلابونو خوړلې وي. [وَالِاجْتِرَافُ: اقْتِلَاعُ الشَّيْءِ مِنْ أَصْلِهِ] د بیخ څخه یو شي ړنګول او لرې کول. نو دا جماتونه ړه دي، مضبوطوالی نه لري، ځکه دا ړنګول غواړي. بنیاد یې په عقیده د توحید باندې ندی کیښودل شوی، بلکې بنیاد یې په شرک سره کیښودل شوی دی.

[فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ]:

[وَالْهَارُ: السَّاقِطُ] هار غورځیدونکي ته وایي، عربان وایي: هَارِ الْبِنَاءِ: إِذَا سَقَطَ، کله چې یوه آبادي ړنګه شي نو دغه کلمه وایي. زجاج وایي اصل ماده یې [هَائِرٌ : کمزوري سړی یا هغه تعمیر چې چاودیدلی وي خو لا راغورځیدلی نه وي] ده، او ابو حاتم وایي: اصل ددې [هَاوِرٌ] دی.

ګورئ مسلمانانو، دلته منافقانو د الله تعالی کور جوړ کړی دی، خو بنیاد یې خطا دی نو ځکه تعمیر پرې سم نه راځي، او عاقبت یې دا ګرځي چې دا نړیږي، او جهنم اوور ته به داخلیږي، دا عمل ترې قبول ندی، دغه رنګ که یو مرتد دولت د خپلو اهدافو لپاره د جماتونو تعمیرونه جوړ کړي، نو دا ورته فایده نه ورکوي، بلکې سره ددغه تعمیرونو به جهنم ته روان وي. همدغه شان د نورو اعمالو حکم هم دی، هغه جهاد چې بنیاد یې په سمې عقیدې نه وي کیښودل شوی نو نتیجه یې هم سمه نه وي، ددې په پایله کې لاس ته راتلونکی نظام به هم اسلامي نظام نه وي، لکه طالبانو بنیاد کوږ و، منهج یې سم نه و، نو نن یې ثمره دا شوه چې د ملګرو ملتونو څخه د شرکي رسمیت مطالبه کوي، آن تر دې چې د اسلامي خلافت مجاهدینو پرضد یې د کفارو لپاره جاسوسي شروع کړه. او ان شاء الله آخرت کې به د همدغه اعمالو سره جهنم ته روان وي، کچیرې یې توبه ونه ویستله. والله المستعان.

[اوس دې آیت کریمه کې الله عزوجل ددغه منافقانو احوال بیانوي، کله چې ددې منافقانو مورچه ړنګه شوه، نو سخت خفه شو، او د غصې څخه ړک شول او ټول عمر یې دا داغ په زړه پاتې شو]

لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي بَنَوْا رِيبَةً فِي قُلُوبِهِمْ إِلَّا أَنْ تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (110)

ژباړه: همیشه به وي آبادي ددوی هغه چې دوی جوړه کړې وه، سبب د غصې په زړونو ددوی کې (پس د نړیدلو د هغې نه) تر هغه وخته چې ټکړې شي زړونه ددوی او الله تعالی پوهه دی حکمتونو والا دی.

تفسیر:

[لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي بَنَوْا رِيبَةً فِي قُلُوبِهِمْ]:

دنیا کې قانون دا وي کله چې دښمن ګزار وخوري، او خه پوخ خوړ شي، نو قوي رد عمل ښکاره کوي، که څه په لاس ورنشي نو په خپلو خبرو کې دې پیښې ته تود غبرګون ښایي، نو همدغه د دښمن د ضعف نقطه ده، باید چې دا پرې نړدو، ځکه چې څوک خوږ شي نو چیغه یې وځي، نو د منافقانو طرز هم دا و چې کله یې د اسلام پرضد پلان په نطفه کې خنثا شو، نو دوی د غم او غصې له امله بیخي په ځانونو چکونه لګول. نن سبا هم د طالبانو او نورو مرتدینو همدا معمول دی، په کوم جهادي فعالیت باندې چې ددوی چیغې وځي او نړیوال کفار هم پرې بې اعتباره کیږي نو باید دغه کارونو ته ځانګړې توجه وشي.

[لا یزال بنیانهم]: ددې څخه مراد د جمات ړنګول دي، چې دا سبب د غصې و، او یا آبادول او جوړول ددغه جمات مراد دي چې دې کار ددوی په نفاق کې زیادت راوستلو.

[ریبة]: په زړونو کې شک او نفاق و، دا علت د دغه کار و. او یا ددې څخه مراد حسرت او ندامت دی، ځکه دوی په خپل کار پښیمانه شو. او مبرد وایي ددې معنا دا ده: د زړه درد او غصه.

دا کومو کسانو چې مسجد ضرار جوړ کړی و، دا منافقان وو، په اسلام کې شکیان وو، خو کله چې یې د کفر دغه سنګر ونړید نو نفاق یې زیات شو، کفر کې پوخوالی یې هم زیات شو، او ددې تعمیر ړنګولو له امله د اسلام او مسلمانانو څخه یې د انتقام جذبه زیاته شوه.

[إِلَّا أَنْ تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ]:

دې جمله کې الله عزوجل ددې منافقانو د غم او خفګان همیشوالی او دوام ذکر کړی دی، چې ددوی د اسلام او مسلمانانو پر خلاف دا غصه، د انتقام جذبه، مخالفت او خفګان به تر هغه وخته پورې جاري وي، چې تر څو ددوی په بدنونو کې روحونه موجود وي، او کله چې ددوی زړونه ټوټې ټوټې شو، یا په مرګ سره، یا د مسلمانانو تورو سره یې ښتونو پرې شي نو بیا به ددوی غصه ختمه شي.

یا دویمه معنا دا ده چې د دوی دا غصه او خفګان به همیشه وي تر دې چې توبه وباسي، او بیا په خپل کار سخت پښیمانه شي.

دلته یَعْقُوب دا لفظ په تخفیف سره ویلی دی، [تَقْطَعَ]، نو دلته به نبي علیه السلام ته خطاب شي، چې اې محمد صلی الله علیه وسلم چې ته د دوی زړونه ټوټه ټوټه کړې.

[هر کله چې الله عزوجل د منافقانو بد صفات تفصیلا ذکر کړل، د منافقانو اقسام یې هم بیان کړل، د هر قسم لپاره خپل احکام او عقوبات هم ذکر شو، اوس دې آیتونو کې بیرته الله عزوجل د جهاد فضیلت بیانوي]

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (111)

ژباړه: یقینا الله تعالی اخستې دي د مومنانو څخه د هغوی نفسونه او مالونه، په بدله ددې کې چې دوی لره به جنت وي، جنګ به کوي په لار د الله تعالی کې، نو وژني به کافران او دوی به هم وژلې کیدایشي، دوی سره لوظ کړی دی الله تعالی لوظ ریښتیني، چې ذکر شوی دی په تورات او انجیل او قرآن کې او څوک زیات پوره کونکی دی لوظ خپل لره د الله تعالی نه، نو خوشحاله شئ په خرڅولو خپلو، هغه چې سودا کړې ده تاسې الله تعالی سره په هغې باندې، او دا لویه کامیابي ده.

تفسیر:

[إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ]:

دې آیت کریمه کې د مومنانو د نفسونو نآشنا قیمت بیان شوی او جهاد ته پکې ډیر خه ترغیب ذکر شوی.

چې الله رب العزت مومنانو ته نفسونه او مالونه ورکړي دي، بیرته ورسره په همدغه نفسونو سودا کوي، نو مَبیعه د مومن نفس او مال دی، بائع مومن دی، مشتري الله تعالی دی او ثمن او قیمت داسې جنت دی چې سترګو لیدلی ندی، غوږونو اوریدلی ندی، او د هیڅ بنده په زړه کې یې سوچ هم ندی تیر شوې، داسې قیمت په بدله کې رب العالمین د مومنانو روحونه اخلي. بیا صرف دا نده چې چا خپل سر قربان کړو هغه لپاره دا قیمت او جنت دی، بلکې چا چې کافر مردار کړل هغه ته هم دا انعام ورکوي، او دا دومره د اهمیت او شرف وړ سودا ده چې تورات، انجیل او قرآن کې یې ددی عهد ذکر کړی او بیا یې تاکیدات بیان کړي چې د الله عزوجل څخه به څوک زیات

د لوظ پابند وي، او پدې سودا يې مجاهدينو ته زيري ورکړې، سبحان الله خالق الأرض والسماء مجاهدينو ته وايي چې زيرې او خوشحالي حاصل کړئ.
[إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى]: دا تمثيل د سودا دی.
[مِنَ الْمُؤْمِنِينَ]: الله عزوجل د هر چا څخه روح نه اخلي، هر چاته د جهاد توفيق نه ورکوي، هر چا ته شهادت مرتبه نه ورکوي، بلکې د مومنانو څخه غوره خلک خاص کوي.
[أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ]: نفسونو څخه مراد د مجاهدينو نفسونه دي، او مالونو څخه مراد هغه دي چې مومنان يې د الله ددين د سرلوړۍ په پار مصرفوي.
دلته أنفس ځکه مخکې کړو، چې د نفس اهميت، قيمت او شرافت بيانول مقصود دي، په خلاف د نورو مقاماتو د قرآن کريم چې جهاد مباحثو کې اموال مقدم کويؤ ځکه جهاد ته د مالونو ضرورت زيات وي. فاعتبروا يا أولي الأبصار.

[بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ]:

[بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ]: دا قيمت او پيسې شوې، چې الله عزوجل د مومن څخه نفس اخلي نو عوض کې ورته جنت ورکوي. او دا جنت د بندګانو ستر مطلوب دی.

[يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ]:

وس د نفس خرڅولو څخه څه مراد دي ؟ هر سړی دعوه کوي، چې ما خپل نفس په الله خرڅ کړی، او ما ځان وقف کړی. نو بيان وشو چې د نفس خرڅولو معنا دا ده چې د الله په لار کې به قتال کوي. يعنې دوی به د کفارو او الله عزوجل د دښمنانو خلاف جنګيږي، خپل نفسونه به پکې استعمالوي، کچيرې دوی دا کار وکړو نو د جنت مستحق به وګرځي، اګر که د جهاد سختي ګاللو نه پس دوی ته مرګ هم رانشي بيا هم ورله جنت دی، ځکه په جهاد کې دوی خپل سرونه د الله په لار کې قربانۍ لپاره مخکې کړي دي. بيا د کفارو قتل په اړه يې معلوم صيغه ذکر کړه، د وجې د شرافت ددې عمل او فاعل نه، او د مومنانو قتل کې يې مجهوله صيغه ذکر کړه، د وجې د قباحت ددې عمل او عامل نه.
دې آيت کې ددې بيان هم دی چې جهاد کې به د مومن لومړی هدف د کافر مرګ او کفري نظام خاتمه وي، بيا دويم هدف شهادت دی، دې وجهې نه د اسلامي خلافت مشران خپلو کشرانو ته وايي: لا تقدموا الشهادة على النصر. ژباړه: شهادت په فتح مه غوره [مخکې] کوئ.
دويم دا مسئله هم پکې ده، چې څوک قتال نه کوي، هغوی خپل نفسونه په الله نه دي خرڅ کړي. ولو که ځانونه يې نورو نيکو اعمالو کې مصروف کړي وي، ځکه دلته قتال ذکر دی، قاف تاء او لام ماده ذکر ده، نو بعضې خلک خپل درس او تدريس يا جزوي دعوت لپاره له دې آيت څخه استدلال کوي، چې دا استدلال يې کمزوری دی.
بله فائده پکې دا ده چې مجاهدينو خپل نفسونه په رب باندې خرڅ کړيدي. او دنيا کې قانون دا وي چې يو شی انسان په بل باندې خرڅ کړي نو دده ملکيت څخه وځي، بيا پکې د ده واک نه چليږي، نو د هغه خوښې مطابق تصرف پکې کيږي، لکه يو ګاړی انسان خرڅ کړي، بيا يې بل کس چې څنګه چلوي د هغه خوښه ده، نو دغه شان مجاهدينو نفسونه په رب خرڅ کړي دي، که وس شهادت راځي، که اسارت راځي او که زخم راځي، که ستړيا او مزلونه راځي، دا سودا مونږ تاسې کړې ده، پدې کې وس زمونږ ستاسې اختيار نشته. فقط رضا په قضا به لرو او عافيت او د اسلام غلبه به غواړو.

[وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ]:

[وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ]: دا ددغه سودا او معاملې د عهد تاکيد دی، الله عزوجل چې يوځل وعده وکړي، دا هم کافي وي، خو دا دومره مبارک عهد دی چې تورات، انجيل او قرآن کريم کې يې بار بار تکرار کړی دی.

[وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ]:

پدې جمله کې د مجاهدينو لپاره ستر ترغيب پروت دی، د مجاهدينو د نفسونو خرڅولو سودا په پار هڅولو لپاره يې استفهام انداز کې خبره ذکر کړه. چې اې زما بندګانو چې د کائناتو رب د مومن سره يوه عظيمه سودا وکړي، بيا دغه عهد په تورات، انجيل او قرآن کريم کې هم ذکر کړي، نو آيا الله رب العالمين به ددې عهد خلاف وکړي ؟ آيا د الله عزوجل څخه د لوظ زيات پوره کونکی څوک شته ؟ نه، بالکل نشته، نو معلومه شوه چې رب چا سره وعده وکړي خامخا يې ورسره پوره کوي، نو اې مجاهدينو د قتال في سبيل الله په عوض د د الله د رضا او جنتونو زيري حاصل کړئ.

[وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ]:

[ذٰلِكَ] دې سره جنت ته اشاره ده، او دغه بيعې او سودا ته اشاره ده چې دوی پکې جنت ګټي. [الْفَوْزِ وَهُوَ: الظَّفَرُ بِالْمَطْلُوبِ] هدف ترلاسه کول بريا ده. [الْعَظِيمِ: يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُ فَوْزٌ لَا فَوْزَ مِثْلَهُ]. چې داسې لويه بريا ده چې ددې په شان بله بريا نشته. دا آخري جمله کې هم زيات تاکيدات استعمال شو.
ذلک اسم اشاره بعيد يې راوړه، دې وجې نه چې ددې عهد شان ډير اوچت دی، لري دی، نو دا يو تاکيد شو، هُوَ ضمير فصل يې تاکيد لپاره راوړو، الفوز يې معرف باللام ذکر کړو، او صفت کې يې العظيم ذکر کړو، چې لويه بريا ده، او العظيم هم معرف باللام دی.
[پدې آيت کريمه کې د مجاهدينو، هغه خلکو چې خپل نفسونه يې په الله عزوجل خرڅ کړيدي، لس صفات ذکر کوي]

التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ الرَّاكِعُونَ السَّاجِدُونَ الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ (112)

ژباړه: دا خلک توبه کونکي دي الله تعالی ته، بندګي کونکي دي د هغه، ستاينه کونکي دي د هغه، ګرځيدونکي دي لپآره د جهاد، رکوع کونکي دي، سجده کونکي دي، حکم کونکي دي په نيکۍ سره او منع کونکي دي د بدۍ څخه او ساتنه کونکي دي د پولو د الله تعالی او زيرې ورکړه داسې مومنانو ته.

تفسير:

[التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ]:

دا جمله خبر دی، مبتدأ يې [هم] ضمير دی، چې مومنان ترې مراد دي. داسې نده چې هر چا ټوپک راوچت کړو، هغه به د الله د لارې مجاهد وي، او هغه سره به د الله عزوجل همدا وعده وي، بلکې دې نه مراد هغه مجاهدين دي چې دې لس صفاتو په شمول نور خايسته صفات هم ولري. نو دا سپيڅلي غازيان به پدې ښايسته صفاتو مزين وي. دوی چې دومره قيمتي خلک دي، د الله عزوجل د مقرب بندګانو څخه دي نو دوی به همداسې لوړ خصلتونه لري.
[وَالتَّائِبُ: الرَّاجِعُ، أَيْ: هُمُ الرَّاجِعُونَ إِلَى طَاعَةِ اللَّهِ عَنِ الْحَالَةِ الْمُخَالِفَةِ لِلطَّاعَةِ]. ژباړه: تائب راګرځيدونکي ته وايي، نو تائبون هغه خلک دي چې دوی د نافرمانۍ حالت څخه د الله تعالی طاعت ته راګرځيدونکي دي.
نو مومنان مجاهدين به اول خپله توبه وباسي، د شرک، کفر، ارتداد څخه توبه مراد ده، او دويمه مرحله کې بيا د بدعاتو، کبائرو او ټولو صغائرو ګناهونو څخه توبه مراد ده.
[وَالْعَابِدُونَ]: الْقَائِمُونَ بِمَا أُمِرُوا بِهِ مِنْ عِبَادَةِ اللَّهِ مع الإخلاص. ژباړه: هغه خلک چې په اخلاص سره د الله تعالی هغه عبادت باندې کلک ولاړ وي چې هغوی ته يې امر شوی دی.
د الله تعالی عبادت او بندګي هم د مجاهد صفت دی. اذکار، عاجزي، توکل، تضرع، کومک طلب کول، الله ته ژړا کول وغيره عبادات او طاعتونه چې د مجاهد په ژوند کې راشي نو بيا د رب لخوا پرې د فتح او تمکين پيرزوينه کيږي.
[والْحامِدُونَ]: الَّذِينَ يَحْمَدُونَ اللَّهَ سُبْحَانَهُ عَلَى السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ. ژباړه: هغه کسان چې آسانۍ او سختۍ کې د الله تعالی حمدونه ادا کوي.
مجاهدين به هر حالت کې د رب العالمين حمدونه ادا کوي، ګيلې او خفګانونه به ترې نه کوي. بلکې سخته کې به هم دا وايي چې کيدايشي دا په مونږ امتحان وي او دې پسې راباندې رب العالمين آساني راولي، دې پسې فتحه راشي، دې پسې دښمن مغلوبه شي. درجات مو ورسره اوچت شي او ګناهونه مو معاف شي.
[والسَّائِحُونَ]: دې په اړه د علماؤ يو څو اقوال دي: اول: د جمهورو علماؤ نظر دا دی چې دې څخه روژه دار خلک مراد دي. دويم: امام عطاء وايي: دا مجاهدينو ته وايي. دريم: عبد الرحمن بن زيد بن أسلم وايي: دا مهاجرينو ته ويل کيږي. څلورم: امام عکرمه وايي: دا هغه خلک دي چې د حديثو علم طلب کولو په پار سفرونه کوي. پنځم: دا هغه خلک دي چې د الله په توحيد، مخلوقاتو او کائناتو کې سوچ او تدبر کوي.
نو دلته مراد دا ټول کيدايشي چې د جهاد، هجرت او علم طلب لپاره سياحت او ګرځيدل مراد دي، علماء ليکي نن سبا دا د پاسپورټونو نظام او د پولو او سرحداتو نظام ددغه سياحت

لپاره لوي خنډ دی، او مسلمانان یې کورونو کې ناستې ته مجبور کړي دي، ځکه ترې جهاد پاتې دی، او کله چې موقع وي چې انسان وګرځي، نقل وحرکت وکړي نو بیا دا د جهاد او هجرت موضوع زیاته آسانیږي.

[الرَّاكِعُونَ السَّاجِدُونَ الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ]:

[الرَّاكِعُونَ السَّاجِدُونَ]: هغه کسان چې مونځونه کونکي دي.

او دا هم د مجاهدينو مهم صفت دی. رهبان الليل وفرسان النهار. مجاهدين به د شپې رب ته بندګي کونکي او د ورځې به شهسواران وي. حتی د مجاهدينو د لښکرو دا صفت کفارو ته هم معلوم و.

[الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنْكَرِ]: ژباړه: هغه خلک دي چې په نيکۍ باندې امر کونکي او د ګناهونو څخه منع کونکي دي. د معروف تعريف مخکې تير شوی و: [هو كل ما حسنه الشرع والمنكر خلاف ذلك] هر هغه کار چې شريعت يې ښه ګڼي هغه معروف دی او منکر ددې پرضد دی.

معروف کې تر ټولو مخکې توحيد داخليږي او منکر کې اول شرک داخليږي. او دا صفت د جهاد مهم هدف او د الله د لارې مجاهدينو مهم خصلت دی.

دلته الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنْكَرِ کې واو راوړو، اشاره ده دې ته چې دا دواړه به جمع کوي، نو هله به صفت د مدحې وي او که فقط امر بالمعروف راواخلې او نهي عن المنکر نه کوې نو بيا فائده نه کوي، لکه مروجه تبليغيان او د هغوی ورونه طالبان.

مروجه تبليغيان چې د جهاد ضد يو پروژه ده، د خلکو لاس څخه ټوپک اخلي او بستره ورته ورکوي، د سنګر په ځای يې اروپايي هيوادونو ته روانوي، د ولږې په ځای ورته اکرامونه او خه خوراکونه ورکوي. نو دا پروسه د ېي ېي آر مؤسسو څخه خطرناکه ده. نور حق تبليغ چې وي هغه خو لازم دی او هغه مجاهدين کوي، دعوت او جهاد د اسلام بنيادي ارکان دي چې لله الحمد اسلامي خلافت پرې ولاړ دی.

او بل خوا طالبان دي چې د امريکا په توسط واک ته ورسيدل او وس هم د تبليغيانو په شان امر بالمعروف خبره کوي، د نهي عن المنکر په طرف نه ورځي. ځکه بيا امريکا خفه کيږي، ملګرو ملتونو کې رسميت نه ورکول کيږي، او چوکۍ د منځه ځي، هره اونۍ راتلونکي ۴۰ مليون ډالر بنديږي.

[وَالْحافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ]: الْقَائِمُونَ بِحِفْظِ شَرَائِعِهِ الَّتِي أَنْزَلَهَا فِي كُتُبِهِ وَعَلَى لِسَانِ رُسُلِهِ. ژباړه: د هغه احکامو ساتنې په پار کلک ودريدونکي دي چې الله تعالی خپل کتاب کې نازل کړي دي او د محمد رسول الله عليه السلام په ژبه يې راليږلي دي.

د اسلامي شريعت ساتنه د جهاد موخه ده، او دلته يې باقي پاتې ټول صفات راخلاصه کړل، لکه دا د قرآن کمال دی، چې جوامع الکلم دی، ډير مطالب په يوه مختصره خبره کې راځای کوي، لکه پاتې محمود صفات ټول په همدې کې داخل شو چې د شريعت د ټولو احکامو ساتنې په پار مبارزه او قيام کوي. او دا د جهاد لويه غايه ده.

[وبشر المؤمنين]: نو دغه صفاتو والاو لپاره زيری دی. لسم صفت د کامل ايمان شو چې مجاهد به کامل ايمان لري، نو هله به ورته د فتحې او تمکين بشارت راځي.

امام ابْنُ جَرِيرٍ، ابْنُ الْمُنْذِرِ او ابْنُ أَبِي حَاتِمٍ د ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما څخه نقل کړي دي: التَّائِبُونَ إِلَى قَوْلِهِ: وَالْحافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ يعني: القائمين عَلَى طَاعَةِ اللَّهِ، وَهُوَ شَرْطٌ اشْتَرَطَهُ اللَّهُ عَلَى أَهْلِ الْجِهَادِ، وَإِذَا وَفَّوْا لِلَّهِ بِشَرْطِهِ وفى لهم بشرطهم. ژباړه: ددې صفاتو معنا دا شوه چې دوی به د الله په طاعت باندې ټينګ وي، او دا شرط الله تعالی په مجاهدينو باندې لګولی دی، کله چې دوی الله تعالی سره دا شرط پوره کړي نو الله تعالی هم دوی سره ددوی شرط پوره کوي.

ډير عجيبه خبره ابن عباس رضي الله عنهما کړې ده، چې د رب وعده هله کامليږي چې بنده خو خپل مسؤوليت ادا کړي، که چيرې انسان کور کې کيني او لاس خپه نه خوځوي او وايي چې الله عزوجل خو ما سره د رزق وعده کړې ده نو ماته ولې رزق نه راکوي، نو دلته جواب دا دی چې ته به يو څه حرکت کوې نو هله به درته الله عزوجل يو څه درکوي، دنيا دار الأسباب الله تعالی پيدا کړې ده، بې سببه چاته څه نه ورکوي. دې کفارو چې نن ټيکنالوجي کې دومره پرمختګ کړی دی، علت يې دا دی چې هغوی کوشش کوي، اسباب استعمالوي، خواري کوي، نو الله تعالی ورته دنيا کې د دوی د خوارۍ بدله ورکوي.

[مخکې آيتونو کې د کاملو مومنانو صفات ذکر شو، وس الله رب العالمين د مجاهدينو يو بل ځانګړې صفت ذکر کوي، چې هغې ته براءت عقيده ويل کيږي، مجاهد به د کفر او کفارو سره کلک عداوت لري او کلي براءت به ترې کوي او د براءت يو قسم دا دی چې دې مشرکانو لپاره به ښښنه نه غواړي، ولو که خپلوان يې هم وي او دې سره د سورت اصل موضوع ته اشاره شوه، چې مونږ ويلي وو، البراءة من الشرك وأهله]

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ (113)

ژباړه: نه دې جائز پيغمبر لره او مومنانو لره چې ښښنه غواړي د مشرکانو لپاره اګر که وي خپلوان د دوی پس د هغې نه چې ښکاره شوې ده دوی ته چې دوی جهنم والا دي.

تفسير:

[مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى]:

شان نزول ددې آيت کريمه متفق عليه حديث کې بيان شوی دی، سعيد بن مسيب د خپل پلار څخه روايت کوي:

أَنَّهُ لَمَّا حَضَرَتْ أَبَا طَالِبٍ الوَفَاةُ جَاءَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَوَجَدَ عِنْدَهُ أَبَا جَهْلِ بْنَ هِشَامٍ، وَعَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي أُمَيَّةَ بْنِ المُغِيرَةِ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَبِي طَالِبٍ: " يَا عَمِّ، قُلْ: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، كَلِمَةً أَشْهَدُ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللَّهِ " فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي أُمَيَّةَ: يَا أَبَا طَالِبٍ أَتَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ عَبْدِ المُطَّلِبِ؟ فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْرِضُهَا عَلَيْهِ، وَيَعُودَانِ بِتِلْكَ المَقَالَةِ حَتَّى قَالَ أَبُو طَالِبٍ آخِرَ مَا كَلَّمَهُمْ: هُوَ عَلَى مِلَّةِ عَبْدِ المُطَّلِبِ، وَأَبَى أَنْ يَقُولَ: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَمَا وَاللَّهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ مَا لَمْ أُنْهَ عَنْكَ» فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى فِيهِ: {مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ} [التوبة: 113] الآيَةَ

ژباړه: کله چې ابو طالب ته مرګ حاضر شو، نبي عليه السلام ورته راغی، نو هغه په خوا کې يې ابو جهل بن هشام او عبد الله بن أبي أميه بن المغيره وموندل، نبي عليه السلام ابو طالب ته وويل: اې کاکا، لا اله الا الله کلمه اووايه، هغه کلمه چې زه به د الله پر وړاندې ستا لپاره ددې ګواهي کوم، نو ابو جهل او ابن أبي أميه ورته وويل: اې ابو طالبه، آيا ته د عبد المطلب ددين څخه اوړې ؟ نبي عليه السلام هغه باندې دا کلمه پيش کوله، او هغوی ورته همدا خبره تکراروله، تر دې چې ابو طالب آخري خبره دا وکړه چې هغه د عبد المطلب په دين باندې دی، او د لا اله الا الله ويلو څخه يې انکار وکړ. نبي عليه السلام ورته وفرمايل: قسم په الله تر هغه وخت پورې به ستا لپاره ښښنه غواړم چې تر څو ترې منع کړی شوی نه يم. نو الله تعالی دا آيت نازل کړو.

علامه شوکاني وايي: وَهَذِهِ الْآيَةُ مُتَضَمِّنَةٌ لِقَطْعِ الْمُوَالَاةِ لِلْكُفَّارِ، وَتَحْرِيمِ الِاسْتِغْفَارِ لَهُمْ، وَالدُّعَاءِ بِمَا لَا يَجُوزُ لِمَنْ كَانَ كَافِرًا. [فتح القدير] ژباړه: او دا آيت د کفارو سره دوستې پرې کولو، د هغوی لپاره د ښښنې غوښتنې حرمت او د کافر لپاره د دعا غوښتلو منع باندې مشتمل دی.

عزتمندو مسلمانانو ! که مونږ تاسې فکر وکړو، ابو طالب هغه انسان دی چې هغه د نبي عليه السلام ساتنه کړې وه، نبي عليه السلام يې د ماشومتوب څخه زلميتوب پورې پاللی و، د نبي عليه السلام په سر يې قريشو سره دښمني شوه، شعب أبي طالب کې يې درې کاله بند او ولږه تيره کړه. په انسانانو کې نبي عليه السلام سره د نبوت لومړيو ورځو کې د ابو طالب څخه چا زيات کومک ندی کړی، خو بيا هم ابو طالب لپاره ښښنه غوښتل حرام دي، ولې ؟ ځکه چې مشرک و، دا کارونه يې د الله لپاره نه و کړي، بلکې د خپلولۍ له امله يې ترسره کړي وو. د الله رضا مقصود نه وه، قرابت مقصود و، او ددې سره سره به يې بتانو ته سجدې هم لګولې، د هغوی په نوم به يې نذر او نياز هم کاوه، د هغوی څخه به يې کومکونه هم غوښتل، نو داسې انسان که د سيد الأنبياء عليه السلام نصرت هم وکړي خو الهي پريکړه دا ده چې ځای به يې جهنم وي. نعوذ بالله.

او هر چې د احد غزا په ورځ نبي عليه السلام د قريشو مشرکانو لپاره دعا غوښتې وه، کله چې هغوی د نبي عليه السلام مخ مبارک زخمي کړو، غاښ يې مات شو، خو هغه

همدا ويل: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِي فَإِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ». ژباړه: اې الله زما قوم اوبښه ځکه چې دوی نه پوهيږي.

دې کې علماؤ درې وجوهات ويلي دي: دا ښښنه نبي عليه السلام هغه وخت غوښتلې وه چې دا آيتونه نه وو نازل شوي، د مشرکانو لپاره ښښنې غوښتلو څخه نبي عليه السلام نه و منع شوی. دويم: قول د علماؤ دا هم دی چې نبي عليه السلام دا ښښنه د خپل قوم لپاره نه ده غوښتې، بلکې د يو نبي حکايت يې ذکر کړی دی، صحيح البخاري او صحيح مسلم کې روايات راغلي دي چې يو قوم خپل نبي ووهو، له مخ څخه يې وينې روانې وې، د خپل مخ څخه يې وينې پاکوالې او لګيا و دا دعا يې کوله چې اې زما ربه زما قوم اوبښه دوی نه پوهيږي. دريم قول: او غوره توجيه پدې کې دا ده چې د احد د غزا پرمهال چې نبي عليه السلام د مشرکانو لپاره ښښنه غوښتې ده نو دا د هدايت دعا ده، او د ژوندي انسان هدايت دعا سړی غوښتلای شي. او دغه دعا يې قبوله هم شوه، د احد غزا کې شرکت کونکي د مشرکانو اکثره جنګيالي مسلمانان شول، واضحه بيلګه يې خالد بن الوليد، ابو سفيان، عکرمه بن أبي جهل، صفوان بن أميه او نور مهم کسان وو.

[مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ]:

دا جمله د استغفار حرمت لپاره علت دی، چې څوک په شرک باندې وفات شو، دده لپاره ښښنه غوښتل ناجايز دي، ځکه الله تعالی فرمايي:

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا (48) سورة النساء.

ژباړه: الله يوازې شرك نه ښښي، له دې نه پرته چې نورې هر څومره ګناوې دي چې د هغه چاته خوښه شي وربښي يې، چا چې له الله سره کوم بل څوك شريك وګانه هغه ډېر غټ دروغ غوټه کړل او د ډېرې لويې ګناه خبره يې وکړه.

اوس د مشرک لپاره ښښنه غوښتلو کې د الله عزوجل د دغه لوظ او تهديد خلاف لازميږي، ځکه حرام دی.

[دې آيت کريمه کې د يو سوال جواب دی، چې مشرک لپاره ښښنه غوښتل حرام دي نو ابراهيم عليه السلام بيا ولې غوښتله، جواب وشو، چې هغه پلار سره لوظ کړی و چې ستا لپاره به ښښنه غواړم او هغه مخکې د حرمت څخه يې دا ښښنه غوښتلې وه]

وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ (114)

ژباړه: او نه وه ښښنه غوښتل د ابراهيم عليه السلام د خپل پلار لپاره مګر د وجې د وعدې وه، چې هغه سره يې کړې وه، نو هر کله چې ښکاره شوه ده ته چې يقينا دښمن د الله تعالی دی نو جدا شو د هغه نه، يقينا ابراهيم عليه السلام ډېر نرم زړه خاوند او صبرناک و.

تفسير:

[وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ]:

دا د ابراهيم عليه السلام د خپل پلار لپآره د استغفار علت دی، چې هغه پلار سره لوظ کړی وو او هغه لوظ يې پوره کاوه. خو کله چې ورته معلومه شوه چې پلار مې د الله دښمن دی، او د ښښنه غوښتنې لايق ندی، نو بيا يې دا استغفار پريښود، دا دليل شو پدې خبره چې ابراهيم عليه السلام د الله تعالی لخوا د مشرکانو استغفار په اړه د حرمت بيان څخه مخکې د خپل پلار لپاره ښښنه غوښتله. ځکه هغه خو الولاء والبراء يعنې د الله لپاره دوستۍ او دښمنۍ کې زيات کلک و، قرآن کريم کې هغه او د هغه ملګري زمونږ ستاسې لپاره اسوه او قدوه ګرځول شوي دي.

بيا دې ډېرو سوالونو ته حاجت نشته، چې بعضې مفسرينو دلته ويلي دي چې څنګه ابراهيم عليه السلام باندې دا مسئله پټه پاتې وه چې د مشرک لپاره ښښنه غوښتل ناجايز دي.

جواب يې واضحه دی، بس پټه پرې پاتې شوې وه، زمونږ نبي عليه السلام باندې هم دا خبره پټه پاتې وه، ځکه دا خو شريعت دی، د کومو انبياؤ مور پلار چې مشرکان وو، نو هغوی د صله رحمۍ له امله ورله دعا غوښتله خو چې رب منع کړل، بيا منع شو.

دويم: بعضې مفسرينو دا جواب هم کړی دی چې دلته استغفار څخه مراد د اسلام قبلولو دعا ده، خو دا قول کمزوری دی. دريم: چا د استغفار تفسير د جنازې مونځ سره کړې دی، چې دې کفارو باندې د جنازو مونځونه مه کوه، لکه مخکې تير شو، [وَلَا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا] خو دا قول هم لرې دی.

[إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ]:

آخر د آيت کې الله عزوجل د ابراهيم عليه السلام عظمت شان او صفت بيانوي. چې ابراهيم عليه السلام ډېر آه آه کونکی و، د مبالغې صيغه يې ذکر کړې ده. د علماؤ ترمنځ د [أَوَّاه] لفظ معنا په اړه مختلف نظرونه شتون لري، لکه:

اول: ابْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه او عُبَيْدُ بْنُ عُمَيْرٍ وايي: دا هغه چاته وايي چې ډېرې دعاګانې کوي. دويم: حَسَنُ او قَتَادَةُ وايي: هغه کس ته وايي چې د الله تعالی په بندګانو مهربان وي. دريم: د ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما څخه روايت شوي چې دا حبشۍ ژبه کې مومن ته وايي. څلورم: كَلْبِيٌّ او ابْنِ الْمُسَيَّبِ وايي: أواه هغه څوک وي چې په شاړو ځمکو کې الله يادوي. پنځم: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه بل قول دا نقل شوی چې دا هغه چاته وايي چې زيات تلاوت کوي. شپږم: امام مُجَاهِدٌ او نَخَعِيٌّ وايي: ددې معنا فقهيه ده. اووم: امام عطاء قول مطابق عاجزي کونکي ته وايي. خو لغت ته چې وګورو دا معنا يې واضحه ده، هر هغه کس ته ويل کيږي چې خپلو ګناهونو له امله زيات آه آه کوي.

[الحليم] څخه مراد زيات زغم کونکی انسان، هغه څوک چې د نورو خلکو خطايانو څخه مخ اړوي، او د هغوی په ضرر صبر کوي. يا هغه کس ته ويل کيږي چې د هيچا څخه شخصي انتقام نه اخلي، مګر ټول معاملات يې د الله لپاره وي.

[کله چې الله عزوجل د مشرکانو لپاره ښښنې غوښتنې څخه منع وکړه نو بعضې هغه مسلمانان چې تر اوسه به يې خپلو مشرکينو خپلوانو لپاره ښښنې غوښتلې، د الله د عذاب څخه وېره شو، نو الله تعالی دا ايت کريمه رانازل کړه، چې خلاصه يې دا ده ترڅو چې الهي حکم نه وي راغلی، کس نه رانيول کيږي، متاسفانه چې همدا الهي اصل نن سبا وضعي قوانينو کې هم موجود دی، چې د قانون د تنفيذ څخه مخکې يو کار جرم نه بلل کيږي، الله عزوجل سره يې ځان شريک کړی]

وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ إِذْ هَدَاهُمْ حَتَّى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَا يَتَّقُونَ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ (115)

ژباړه: او نه دی الله تعالی چې ګمراه کړي يو قوم، وروسته له دې چې دوی ته يې هدايت کړی وي، تر هغې چې بيان کړي دوی ته هغه څه چې ځان ساتي د هغه نه، يقينا الله تعالی په هر څه پوهه دی.

تفسير:

[وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ إِذْ هَدَاهُمْ حَتَّى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَا يَتَّقُونَ]:

د مخلوقاتو رحيم مالک دې آيت مبارکه کې خپله قاعده ذکر کړې ده، چې يو چا ته تر هغې ګمراه نه وايي ترڅو چې هغه ته شرعي حکم ونه ليږي، کله چې ورته شرعي حجت ورسيدو او بيا هم بندګان نه منع کيدل نو بيا هغوی ګمراهان بولي. خو مخکې د قانون څخه بندګانو باندې کومه ګناه نشته او نه هم چاته عذاب ورکول کيږي.

[مَا يَتَّقُونَ]: هغه احکامات ترې مراد دي چې شريعت کې ترې ځان ساتل واجب وي، يعنې محرمات ددين څخه به ځانونه ساتي.

[إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ] الله تعالی په ټولو هغه شيانو پوهه دی چې هغه حلال دي او که حرام دي، او ټول هغه شيان چې هغه پيدا کړي دي، پدې ټولو کارونو کې لوي خيرونه پراته دي چې رب العالمين ته معلوم دي.

[دا علت د ماقبل دی او دا خبره الله عزوجل بيانوي چې دا قانون سازي د رب العالمين خاصه ده، ځکه د ځمکې او آسمانونو ملکيت لري نو رد دی په هغه قانون سازانو مشرکانو باندې چې خپل قاصر عقل مطابق قانون جوړوي]

إِنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ (116)

ژباړه: بې شکه الله تعالی خاص هغه لره پاچاهي د آسمانونو او د ځمکې ده، ژوندي کول کوي او مړه کول کوي، او نشته تاسې لره سيوا د الله تعالی څخه هيڅ دوست او نه کومکي.

تفسير:

[إِنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ]:

په ځمکه کې د تشريع، تحليل او تحريم حق يوازې الله عزوجل لري، ځکه چې هغه د آسمانونو او ځمکو مالک دی، هيڅ څوک ورسره شريک نشته، هيڅوک ورسره جګړه کونکی نشته. په خپلو مخلوقاتو کې د خپلې

خوښې مطابق تصرف کوي، چا ته ژوند ورکوي، څوک مړه کوي.
رد شو په هغه ناپوهه قانون سازانو او مشرعينو باندې چې د ځمکې او آسمان تصرف نه لري، د ژوند او مرګ اختيار نه لري. خو دعوې د الوهيت کوي. خپل ناقص عقل باندې پريکړې کوي، او حال دا چې د شيانو حقيقت نشي درک کولای، حواس خمسه باندې اعتماد لري، همدا قابل د حجت ګرځوي، ددوی مشاهدات او معاينات د وحي او نص په څير ګرځوي، سره ددې چې د انسان حواس خمسه اکثر خطا کيږي، او د لرې عارض له امله فرق او توپير پکې راځي.

[وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ]:

د استغفار څخه د منعې بل علت دا دی چې ستاسې لپاره د الله تعالی پرته بل هيڅوک دوست نشته چې ملاتړ مو وکړي، او نه کوم امدادي شته چې کومک درسره وکړي. نو مشرکانو لپاره ښښنه مه غواړئ ولو که ستاسې نزدې خپلوان وي، د هغوی خپلولي تاسې ته هيڅ نفع نشي درکولای، بلکې ټول کائنات د الله تعالی په قبضه کې دی نو ځکه د ژوند په ټولو چارو کې د هغه قوانين نافذ کړئ. د قيامت په ورځ دا قانون جوړونکي او مشرعين تاسې د الله عزوجل له عذاب څخه نشي خلاصولای. نو ددوی وضعي قوانينو پرځای الهي قانون ته غاړه کيږدئ.
[دې آيت کريمه کې الله تعالی په خپل نبي عليه السلام او صحابه کرامو باندې مهرباني ذکر کوي، کچيرې سابق کې د مشرکانو لپاره ښښنه طلب شوي وي، هغه ورته معاف دي ځکه دوی د الله په لاره کې سخت جنګونه وکړل او ډيرې سختې يې وګاللې]

لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَحِيمٌ (117)

ژباړه: يقينا مهرباني کړې ده الله تعالی (په آسانتيا راوستلو) په نبي عليه السلام او په مهاجرينو او انصارو هغه کسان چې تابعداري يې کړې ده دده په وخت د تنګسيا کې، وروسته ددې څخه چې نزدې وو چې کاږه شوي وی زړونه د يوې ډلې ددوی نه، بيا کلک والی راوستو الله تعالی په دوی باندې، يقينا الله تعالی په دوی باندې شفقت کونکی رحم کونکی دی.

تفسير:

[لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ]:

الله تعالی په نبي عليه السلام باندې مهرباني وکړه، د دوه کارونو له امله:
اول: بعضې منافقانو ته يې د عذر پرته د جهاد څخه ناستې اجازت ورکړی و.
دويم: د بعضې مشرکانو لپاره يې استغفار غوښتی و.
خو د الله تعالی مهرباني او د بندګانو توبه دا يوازې ګناه پورې خاص نه ده، بلکې ټول بندګان توبې او استغفار ته محتاج دي. او نبي عليه السلام هم بشر دی الله تعالی ته محتاج دی. او دا هم کيدايشي چې نبي عليه السلام بعضې اولی کارونه پريښي وي، د هغې له امله پرې الله تعالی مهرباني وکړه. لکه الله تعالی چې مخکې ورته خوږ خطاب کړی و: [عَفَا اللَّهُ عَنْكَ لِمَ أَذِنْتَ لَهُمْ].
او دا وينا هم جايز ده چې د نبي عليه السلام ذکر يوازې تعريض وي، اصل مقصود همدا ګناه ګار خلک وي، چې هغوی د ګناهونو څخه ځانونه وساتي او د خپلو ناوړه کړنو څخه توبه وباسي.
او مهاجرينو او انصارو ته هم الله تعالی د هغوی د خطايانو ښښنه وکړه لکه حديث کې رازي: «إِنَّ اللَّهَ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ: اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ». صحيح البخاري وصحيح مسلم. ژباړه: الله تعالی بدريانو ته ښکاره شو او ورته يې وفرمايل: تاسې چې هر عمل کوئ وکړئ يقينا ما تاسې ته ښښنه کړې ده.
دا د بدريانو امتياز و. الله أکبر، دا د هغوی څخه د الله تعالی د رضامندتيا اعلان و.

[الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ]:

بيا الله عزوجل د مهاجرينو او انصارو صفت وکړو، چې دوی په سخته کې د نبي عليه السلام ملاتړ وکړو او د هغه څخه وروسته نه شو. [سَاعَةُ الْعُسْرَةِ] څخه مراد غزوه تبوک ده، چې مسلمانان ډير په تکليف کې وو، او ساعة څخه مراد يوه لمحه نده بلکې ددې جنګ ټول وختونه ترې مراد دي.

[مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ]:

د بعضې خلکو زړونه کاږه شو، يعنې د حق څخه يې زړونه کاږه شو، د رسول الله عليه السلام راوړې شريعت په اړه يې شکونه پيدا شول، د حق ډلې ملاتړ څخه يې زړونه وګرځيدل، يا هم د دغه جنګ څخه د پاتې کيدو اراده يې وکړه. نور ددې څخه ارتداد ندی مراد.
{ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ} تکرار د توبې راغی، دې کې تاکيد ته اشاره ده. او کچيرې مراد دا دويمه ډله وي چې هغوی زړونه کاږه شوي وو نو بيا تکرار نشته. يا اول تاب نه مراد آساني راوستل دي او ددويم نه مراد ددوی زړونه کلکول دي.



نثر اللؤلؤ والمرجان

في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان

يولسم درس

ألحمد الله وأسبّحه بعلوّه وكماله الذي خلق السموات والأرض على مِنواله ونُوِّرَت بنوره وزُيِّنتْ بجماله ثم استوى على العرش لائقا بذاته وجلاله ولا يخفى عليه شيئ من أمور العالم وأفعاله وعليم بجميع أحواله وأعلن الفوز لمن امتثل بإنزاله وإرساله وأصلي وأسلّم على رسوله ونبيه محمد وعلى أهل بيته وأصحابه وآله، أمابعد:

محترمولوستونکو!

مونږ د الله عزوجل د معرفت سلسله شروع کړې وه، تېر درس کې د الله تبارك وتعالی د کرسۍ اثبات د الله د کتاب او د مفسرينو د اقوالوڅخه وشو. اوس په ياده مسأله کې د احاديثو څخه دلائل ذکر کوو.

ألإحضار للأحاديث والآثار بإثبات كرسي الله الواحدالقهار

دي فصل کې د قران نه بعد د کرسۍ په اثبات کې د يو څو احاديثو او اثارو ذکر مناسب ګڼو، په ياد ولرئ چې دا هغه مسأله ده چې دې باب کې د صحابي اثر يعنې موقوف هم مرفوع ګڼلې شي، ځکه هغه موقوف چې روايت يې د مرفوع حکم اخلي، په دې شرطو به مشروط وي.

١: چې صحيح به ثابت وي ضعيف به نه وي.

٢: او دغه قول منسوخ شوې به هم نه وي.

٣: داسرايلياتو د جملې څخه به هم نه وي.

٤:.د اجتهاد مجال به هم په کې نه وي.

٥: د لغة او غريب لفظ شرح سره هم تعلق نه لري لکه د ماضی اخبار .

٦: بل دا چې د راتلونکو حالاتو متعلق به وي لکه ملاحم فتن احوال د قيامت.

٧: يا مثلا هغه اخبار وي چې په فعل سره يې ثواب او ترک باندې يې عقاب مرتب شوې وي. نو دغه ډول موقوف د صحابي رضی الله عنه به حکما مرفوع ګڼلې شي.

[کما فی نزهة النظر ص١٣٢]، [اليواقيت والدرر ٢/١٨٢] [شرح المنظومة للبيقونی ص٧٨]

نو راځو او ړومبې مرفوع حديث ذکر کوو.

١: امام ابن حبان رحمه الله په خپل صحيح کې د ابوذر الغفاري رضي الله عنه څخه اوږد حديث نقل کړې په هغه کې دي چې ابوذر فرمايي: قلت: يا رسول الله، فأي ما أنزل الله عليك أعظم؟، قال آية الكرسي ثم، قال: يا أبا ذر، ما السماوات السبع مع الكرسي إلا كحلقة ملقاة بأرض فلاة وفضل العرش على الكرسي كفضل الفلاة على الحلقة.

ژباړه: ابوذر رضی الله عنه فرمايي: ما ورته وفرمايل. ای د الله رسوله کوم څه ډير لوی دي چې په تا باندې (د قران څخه) الله نازل کړی؟ نو هغه وفرمايل: اية الکرسی بيا يې وفرمايل: ای ابوذره نه دي اسمانونه د کرسي سره مگر په اندازه د يو بنګړي چې په يو صحراء د ځمکه کې غورځېدلی وي او زيات والې د عرش بيا په کرسي لکه زياتوالې د صحرا په بنګړی باندې.

صحيح ابن حبان رقم الحديث

٢: انس بن مالک رضی الله عنه فرمايي: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: أتاني جبريل فقال: إن الرب اتخذ في الجنة واديا من مسك أفيح فإذا كان يوم الجمعة فينزل عن كرسيه من عليين وحف الكرسي بمنابر من ذهب مكللة بالجواهر، ويجيء النبيون فيجلسون على تلك المنابر، ثم ينزل أهل الغرف فيجلسون على ذلك الكثيب، ويتجلى لهم ربهم، فيقول: أنا الذي صدقتكم وعدي، وأتممت عليكم نعمتي، وهذا محل كرامتي فاسألوني قال: فيسألونه الرضا، قال: فليسوا إلى شيء أحوج منهم إلى يوم الجمعة ليزدادوا النظر إلى وجه ربهم عز وجل.

ژباړه: ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واوريدل چې فرمايل يې: ما ته اوس جبريل راغی او ويې فرمايل چې ېبشکه رب به جنت کې يوه دره د داسې راپورته کيدونکو (خوشبو والاو) مشکو نه جوړه کړه چې، کله د جمعې ورځ شي نو جنت ته د عليين څخه د خپلې کرسۍ نه راکوز شي او کرسي ګانې د سرو زرو په منبرونو چې په جواهرو بدل شوی وي، نو انبياء به راشي او په دغه ممبرونو به کښيني بيا به د بنګلو والا راکوز شي په دغه غونډيو د مسکو به کښيني او رب به دوی ته ځان راښکاره کړي، پس ورته وايي به زه يم هغه ذات چې خپله وعده مې درسره ريښتوني کړه، تاسو باندې مې خپل نعمت پوره کړ او دا زما د عزت ځای دی، نو وغواړئ له ما نه چې څه غواړئ، پس دوی له هغه نه د هغه رضاء غواړي بيا (نبي صلی الله عليه وسلم) وفرمايل چې: نه به وي دوی محتاج تر بلې جمعې شي ته هم مګر دې ته چې د دوی کتنه د الله عزوجل مخ ته نوره هم زياته شي. [الرد على الجهميةص ٤٥ للدارمي]، [كتاب السنة ص ٤٨،٤٩ لعبدالله بن الامام احمد]، [العلو دامام ذهبی ص٢٨].

اوس هغه موقوف روايات ذکر کوو چې حکم د رفع لري.

١: دغه ډول د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دی چې هغه فرمايي: بين السماء السابعة والكرسي خمسمائة عام، وبين الكرسي إلى الماء خمسمائة عام، والعرش على الماء، والله فوق العرش، وهو يعلم ما أنتم عليه.

ژباړه: د اوم (٧) اسمان او د کرسي ترمنځ پنځه سوه (٥٠٠) کاله مسافه ده. او د کرسۍ او د اوبو تر منځه پنځه سوه (٥٠٠) کاله مسافه ده. عرش د اوبو له پاسه دی، او الله د هغې د پاسه دی. هغه پوهيږي په هر هغه څه چې تاسو يې کوونکي ياست.

[التوحيد لابن خزيمه ص١٠٥]، [الدارمي فی الرد علی الجهميه ص ٢٦ – ٢٧]، [ابوشيخ فی العظمه ص٣٤]، [والالکائی فی شرح اصول الاعتقاد ٣/٣٩٦].

علامه ابن القيم رحمه الله هم په اجتماع الجيوش کې د دې قول متعلق فرمايي: و ذكر سنيد بن داود بإسناد صحيح عنه أنه قال: (ما) بين السماء والأرض مسيرة.

خمسمائة.

ژباړه: او دغه روايت سنيد بن داود په صحيح سند سره د ابن مسعود نه نقل کړی چې هغه وفرمايل .... (٢/٢٥٤)

٢: له ابو موسی الأشعری رضی الله عنه نه روايت دی چې فرمايي: الكرسي موضع القدمين، وله أطيط كأطيط الرحل.

ژباړه: کرسي د الله متعال د قدمونو ځای دی او دغه کرسي (د قدمونو د

درونـد والـى لـه وجهـى نـه) زګيـروي کـوي لکـه پـه شـان د زګيـروي د کجـاوې (د پيټـې نـه).
دغـه روايـت عبداللـه بـن امـام احمـد د خپـل پـلار نـه پـه السنة صـ ۷۹، ۱۴۷ کـى نقـل کـړى دى، او ابن جرير الطبري پـه خپـل تفسير ۵/۳۹۸ کـې نقـل کړې.
۳: د ابـن عبـاس رضـى اللـه عنهـما قـول مونـږ مخکـې ذکـر کـړې چـې دغـه واړه روايـت د مرفـوع حديـث حکـم لـري چې دا ترينـه لکـه د لمـر داسـې ثابتيـږي.
اللـه متعـال کـرسي لـري او کـرسي د اللـه متعـال د قدمونـو ځـاى دى. واللـه اعلـم.

توفيق رب القدير
بذكر أقوال أهل العلم بالتفسير

اوس پـه دې فصـل کـې د لـوى اللـه متعـال پـه خـاص فضـل او توفيـق سره د اللـه تبـارك وتعـالي د کرسـۍ متعلـق د يـو څـو مفسرينـو اقـوال هـم ذکـر کـوو.
۱: مشـهور مفـسر امـام مجاهـد رحمـه الله فرمايـي: ما السموات والأرض إلا كحلقة ملقاة بالفلاة، وما أخذت من الكرسي إلا كما أخذت تلك الحلقة من الأرض.
ژبـاړه: نـه دي اسـمانونه او ځمکـې (مقابـل د کـرسي کـې) مګـر د يـو حلقـې پـه شـان چـې پـه صحـرا کـې پرتـه وي او نـه دي نيـولي کـرسي (مګـر هغـه مقـدار ځـاى) چـې کـوم دغـې حلقـې لـه ځمکـى څخـه نيـولي.
[کتـاب العظمـة ص۳۵ د ابـو شـيخ]، [کتـاب السـنة ص ۷۱ لابـن الامـام احمـد]، [العلـو للذهبـى ص ۹۴]، د امـام مجاهـد رحمـه اللـه د دې اثـر متعلـق د ابـوذر رضي اللـه عنـه د مرفـوع حديـث پـه تعليـق کـې حافـظ ابـن حجـر رحمه الله فرمايـي: (وله شاهد عن مجاهد أخرجه سعيد بن منصور في التفسير بسند صحيح عنه فتـح البـاري ۱۳/۱۱۴).
۲: مشـهور مفـسر سُدِّى هغـه هـم د ايـت الکـرسي د دې جملـې "وسع كرسيه السموات والأرض" پـه تفسـير کـې فرمايـي: فإن السموات والأرض في جوف الكرسي، والكرسي بين يدي العرش، وهو موضع قدميه.
ژبـاړه: بېشـکه اسـمانونه او ځمکـه د کرسـۍ پـه منـځ کـې ده او کـرسي د عـرش مخـې تـه ده او هغـه د اللـه د قدمونـو ځـاى دى. (تفسـير بـن جريـر ۵/۳۹۸)
۳: بـل مشـهور مفـسر الضحاك رحمـه اللـه هـم د اللـه تبـارك وتعالـى د دې قـول چـې (وسع كرسيه السموات والأرض) دى فرمايـي: كرسيه الذي يوضع تحت العرش، الذي يجعل الملوك عليه أقدامهم.
ژبـاړه: کـرسي د هغـه چـې لانـدې لـه عرشـه ايښـودل شـوې. مثـال يـې هغـه دى چـې بادشـاهان پـرې خپـل قدمونـه ږدي.
[تفسير بن جرير ۵/۳۹۸].
۴: امـام مسـلم البطيـن رحمـه اللـه هـم فرمايـي: الكرسي موضع القدمين.
ژبـاړه: کـرسي (د اللـه ده) د قدمونـو ځـاى دى. [تفسـير الطـبري ۵/۳۹۸ التنبيـه]، د مفسرينـو پـه دې اقوالـو کـې د سـدي ضحـاک او بطيـن رحمهـم اللـه د دې اقوالـو د اسـانيدو پـه صحـت کـې مقـال شـته، خـو مونـږ د مخکـې مرفوع رواياتـو پـه تأييـد او متابعـت کـې پيـش کـړل. واللـه اعلـم
۵: د علامـه قرطبـي رحمـه اللـه قـول مخکـې ذکـر شـوى دى.
٦: علامـه محمد بن عبد الله زمنين رحمـه اللـه فرمايـي: ومن قول أهل السنة: أن الكرسي بين يدي العرش، وأنه موضع القدمين.
ژبـاړه: د اهـل السـنه والجماعـه د اقوالـو څخـه دا ده چـې، بېشـکه کـرسي دا د عـرش مخـې (تـه ايښـودل شـوى) ده او د هغـه د قدمونـو ځـاى دى. [اصـول السـنة صـ ۲۹۲].
۷: امـام احمـد بـن حنبـل رحمـه اللـه فرمايـي: والماء فوق السماء العليا السابعة، وعرش الرحمن عز وجل فوق الماء، والله عز وجل على العرش، والكرسي موضع قدميه"
ژبـاړه: اوبـه د اوم (۷) اسـمان نـه بـره دي او د اللـه عزوجـل عـرش د اوبـو د پاسـه دى، او کـرسي د هغـه د قدمونـو ځـاى دى. [السـنة صـ ۷۴ او ۷۵].
چونکـه د اهـل السـنة والجماعـه پـه نـزد اتفاقـي او اجماعـي عقيـده ده، چـې اللـه تبـارک وتعالـى د عـرش پـه شـان کرسي هـم ځانتـه پـه قـرآن کـې او رسـول اللـه صلـى اللـه عليـه وسـلم ورتـه پـه احاديثـو کـې ثابـت کـړې.
نـو شـيخ الاسـلام ابـن تيميـه رحمـه الله فرمايـي: الكرسي ثابت بالكتاب، والسنة، و إجماع جمهور السلف.
ژبـاړه: کـرسي پـه کتـاب، سـنت او پـه اجـماع د جمهـورو سـلفو ثابـت ده. [مجمـوع الفتـاوى ۶/۵۸۴]
دغـه ډول شارح د العقيدة الطحاوية هـم فرمايـي: وإنما هو: الكرسـى كما قال غير واحد من السلف بين يدي العرش كالمرقاة إليه.
ژبـاړه: او بېشـکه دې نـه مـراد کـرسي ده. ډېـرو سـلفو ويـلي چـې د عـرش مخـې تـه لکـه د پـوړو غونـدې عـرش تـه ايښـې دى، [شرح العقيـدة الطحاويـة ص۱۵۲]. نـو د دې ټـول تفصيـل خلاصه دا شـوه چـې اللـه تبـارک وتعالـى کرسي هـم لـري، کـه کـرسي د اسـمانونو او ځمکـو پـه مقابـل کـې لويـه ده. نـو د عـرش مقابـل کـې وړه ده، چـې د عـرش مخـې تـه ايښـودل شـوى، او دغـه بيـا د اللـه متعـال د قدمونـو ځـاى دى، نـو لـه دې نـه دا هـم ثابتـه شـوه چـې اللـه متعـال قدمونـه هـم لـري، نـو راځـو وروسـې د هغـه پـه اثبـات کـې د کتـاب او سـنت څخـه دلايـل ذکـر کـوو.

سرعة المَشّاق بتحرير إثبات الساق

لکـه څنګـه چـې مخکـې د کـرسي د اثبـات د بحـث د ضمـن نـه معلومـه شـوه چـې، اللـه تبـارک وتعالـى قدمونـه هـم لـري، نـو پـه هغـه بـاب کـې ذکـر شـوي دلايـل هـم د دې د اثبـات د پـاره کافي دي. خـو بيـا هـم دغـه يـو بيلـه دعـوى ده، نـو د دې وجهـې نـه دغـه بـاب پـه دې کـې جـدا ذکـر کـوو.
اول دا خـبره چـې د قدمينـو سره ژور مناسـبت او تعلـق لـري هغـه مسـأله د سـاق (پنـډۍ) ده چـې پـه قـران کريم کـې.
اللـه متعـال پـه سـورة القلـم ۴۲ نمبر ايـة کريمـه کـې فرمايـي: {يَـوْمَ يُكْشَـفُ عَـنْ سَـاقٍ وَيُدْعَـوْنَ إِلَى السُّـجُودِ فَـلَا يَسْـتَطِيعُونَ} ژبـاړه: پـه کومـه ورځ چـې پنـډۍ لوڅـه کـړل شي، او خلکـو تـه د سـجدې کولـو بلنـه ورکـړه شي، نـو دوى بـه سـجده ونـشي کـړاى.
نـو راځـو اول د دې متعلـق وضاحـت ذکـر کـوو چـې، دې ايـت کـې لـه سـاق نـه مـراد څـه شـې دى؟ دا چـې دغـه سـاق بغيـر لـه اضافـت نـه پـه قـرآن کـې ذکـر شـوى نـو، د دې وجـې نـه شـيخ الاسـلام رحمـه اللـه فرمايـي: ولا أعلم خلافا عن الصحابة في شيء مما يعد من الصفات المذكورة في القرآن إلا هذه الآية لعدم الإضافة فيها والذي يجعلها من الصفات يقول فيها كقوله في قوله تعالى {لما خلقت بيدي} وقوله تعالى {ويبقى وجه ربك} ونحو ذلك فإن الصفات تثبت ويجب تنزيه الرب عن التمثيل؛ لأنه {ليس كمثله شيء وهو السميع البصير}.
ژبـاړه: او ماتـه هيـڅ خـلاف نـه دى معلـوم د صحابـه وو ترمنځـه پـه هيـڅ هغـه برخـه کـې چـې، د صفاتـو څخـه پـه قـران کـې ذکـر شـوى وي، مګـر دغه يـو ايـت دى د وجـې د عـدم اضافـت نـه پـه دې کـې، او هغـه څـوک چـې دا لـه صفاتـو څخـه ګرځـوي هغـه پـه دې کـې هغـه څـه وايـي چـې هغـه د اللـه تعالـى پـه دې قـول کـې وايـي چـې فرمايـي: (د هغـه څـه پـه وجـه چـې مـا پـه خپلـو لاسـونو پيـدا کـړي) او د اللـه تعالـى د دې وينـا پـه شـان يـې ګڼـي چـې فرمايـي: او پاتـې بـه وي مـخ د رب سـتا؛ او د دې غونـدې د نـورو صفاتـو پـه شـان بېشـکه صفـات بـه ثابتيـدلې شي. واجـب ده پـه کـې پـاک والـې د رب د مثـال ورکولـو نـه، د دې وجـې نـه چې اللـه فرمايـي: او نشـته پـه مثـل د اللـه هيـڅ شـې؛ او دغـه اللـه اوريدونکـى او ليدونکـى دى. [فتاوى المصريـه ۱/۲۰۲].
نـو دا چـې دغـه د سـاق کلمـې نـه پـه مـراد کـې د اهـل السـنة والجماعـه اختـلاف دې، مفسرينـو د دې مختلـف تفسـيرونه کـړي دي، د ابـن عبـاس رضـى اللـه عنهـما پـه شـمول اکثرو مفسرينـو لـه دې نـه مـراد هيبـت شـدة او سـختۍ د قيامـت مـراد کـړي، او دليـل يـې د دې د پـاره د عربـو شـعرونو او ديـوان نـه اخيسـتې چـې هغـوى سـختي او هيبـت نـه تعبيـر پـه سـاق سره کـوي، [کـما فـى تفسـير السـمعاني ۶/۲۸].
خـو بيـا د ابـو سـعيد الخـدري، ابـو هريـرة او عبداللـه بـن مسـعود رضـى اللـه عنهـم نـه دې بـاره کـې چـې پـه نقـل شـويو احاديثـو کـې کـوم تفسـير نقـل دى، نـو لـه هغـې نـه دا ثابتيـږي چـې، د دې نـه مـراد سـاق (پونـډۍ) د اللـه تبـارک وتعالـى مـراد ده[کـما في السـمعانى نفـس المصـدر].
نـو بنـاءً علـى هـذا کـه دلتـه مونـږ د قـران د دې ايـت کريمـه تفسـير پـه صحيـح حديـث سره وکـړو نـو، بيـا دا راجحـه ده چـې دغـه سـاق اللـه تبـارک وتعالـى تـه د نـورو جملـه صفاتـو پـه څيـر ثابـت وګرځولـې شي، نـو هغـه احاديـث چـې دغـه موقـف ثابتـوي دا دي.
۱: د ابو.سَـعِيد الخـدري رَضِيَ اللَّـهُ عَنْـهُ نـه روايـت دې هغـه فرمايـي: مـا د نبـي صَـلَّى اللَّـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ څخـه واوريـدل چـې فرمايـل يـې: يَكْشِـفُ رَبُّنَـا عَـنْ سَـاقِهِ، فَيَسْـجُدُ لَـهُ كُلُّ مُؤْمِـنٍ وَمُؤْمِنَـةٍ، فَيَبْقَـى كُلُّ مَـنْ كَانَ يَسْـجُدُ فِي الدُّنْيَـا رِيَـاءً وَسُـمْعَةً، فَيَذْهَـبُ لِيَسْـجُدَ، فَيَعُـودُ ظَهْـرُهُ طَبَقًـا وَاحِـدًا.
ژبـاړه: لوڅـه بـه کـړي رب زمونـږ پونـډۍ خپلـه؛ پـس سـجده بـه وکـړي، هغـه تـه هـر مؤمـن نارينـه او مؤمنـه زنانـه او باقـي بـه بـې سـجدې پاتـې شي، هـر هغـه څـوک چـې پـه دنيـا کـې يـې د ريـاء او سـمعت د پـاره سـجدې کولـې، نـو کوشـش بـه شروع کـړي چې سـجده وکـړي، خـو مـلا بـه يـې يـوه تختـه شي (سـجده بـه نـشي کولـې) [صحيـح البخـارى رقـم الحديـث ۴۵۶۳].
د دې حديـث فايـده زمونـږ د موضـوع متعلـق دا ده چـې دلتـه نبـى کريـم صلـى اللـه عليـه وسـلم د سـاق اضافـت

او نسبت الله تبارک وتعالی ته کړی، نو د دې صحیح حدیث نه معلومه شوه چې مراد د ساق نه ساق د الله متعال دی. کما یلیق بذاته، او همدا د لغة د ظاهر سره هم موافق ده. والله اعلم.

۲: بل دویم حدیث امام دارمي رحمه الله د ابو هریرة رضی الله عنه څخه نقل کړې چې ابو هریرة رضی الله عنه فرمايي: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ , يَقُولُ إِذَا جَمَعَ اللهُ الْعِبَادَ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ ، نَادَى مُنَادٍ : لِيَلْحَقْ كُلُّ قَوْمٍ بِمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ ، فَيَلْحَقُ كُلُّ قَوْمٍ بِمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ ، وَيَبْقَى النَّاسُ عَلَى حَالِهِمْ ، فَيَأْتِيهِمْ ، فَيَقُولُ : مَا بَالُ النَّاسِ ذَهَبُوا وَأَنْتُمْ هَاهُنَا ؟ ، فَيَقُولُونَ : نَنْتَظِرُ إِلَهَنَا ، فَيَقُولُ : هَلْ تَعْرِفُونَهُ ؟ فَيَقُولُونَ : إِذَا تَعَرَّفَ إِلَيْنَا ، عَرَفْنَاهُ ، فَيَكْشِفُ لَهُمْ عَنْ سَاقِهِ فَيَقَعُونَ سُجُودًا ، فَذَلِكَ قَوْلُ اللَّهِ تَعَالَى : يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلا يَسْتَطِيعُونَ سورة القلم آية وَيَبْقَى كُلُّ مُنَافِقٍ فَلَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يَسْجُدَ
، ثُمَّ يَقُودُهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ.

ژباړه؛ ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې فرمایل یې: چې کله الله تبارک وتعالی ټول انسانان په یو میدان کې راجمع کړي؛ نو یو اواز کوونکی به اواز وکړي چې؛ هر قوم دې هغه چا سره یو ځای شي چې عبادت یې ورته کولو (په دنیا کې) نو هر قوم به پیوست شي، د هر هغه چا سره چې دوی یې عبادت کولو نو څه کسان به په خپل حال پاتې شي نو الله به دوی ته راشي او ورته به وايي څه وجه ده چې ټول خلک لاړل او تاسو

دلته پاتې یئ نو دوی به ورته وايي مونږ د خپل الله انتظار کوو نو هغه به ورته وايي چی تاسو هغه پيژنئ نو هغوی به ورته وايي چې کله هغه مونږ ته خپل تعارف وکړي، نو مونږ به يې وپيژنو نو پس بربنډه به کړي دوی ته پونډۍ خپله پس دوی به پرېوزي سجده کوونکي نو دا د الله تعالی د دې قول معنا ده چې فرمايي: په کومه ورځ چې پنډۍ لوڅه کړل شي او خلکو ته د سجدې کولو بلنه ورکړل شي، نو دوی به سجده ونشي کړای. سورة القلم او هر منافق به پاتې شي وسع به يې نه وي چې سجده وکړي بیا به الله دغه مؤمنان جنت ته بوځي؛ [سنن الدارمي رقم الحديث ۲۷۱۷].

نو محترمو!

د دې حدیث نه هم دغه فایده راووتله چې الله تبارک وتعالی به خپله پونډۍ مؤمنانو ته ښکاره کړي او مؤمنان به د دې په ښکاره کولو سره فوراً الله ته سجده وکړي او منافقانو ته به دغه توفیق ورنکړل شي.

(۳) دریم حدیث هغه دی کوم چې امام بخاري په خپل صحیح کې په کتاب التوحید باب قول الله تعالی وجوه یومئذ ناضرة الی ربها ناظره کې په طویل تفصیل سره نقل کړی دی. چې هغې کې دغه دویم نمبر حدیث په نورو لا زیاتو الفاظو تفصیل شوی چې د موضوع مناسب الفاظ په کې داسې دي چې الله تبارک وتعالی به د قیامت په ورځ د دغه مؤمنانو نه تپوس وکړی.

فَيَقُولُ : هَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ آيَةٌ تَعْرِفُونَهُ ؟ ، فَيَقُولُونَ : السَّاقُ ، فَيَكْشِفُ عَنْ سَاقِهِ ، فَيَسْجُدُ لَهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ وَيَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ لِلَّهِ رِيَاءً وَسُمْعَةً ، فَيَذْهَبُ كَيْمَا يَسْجُدَ ، فَيَعُودُ ظَهْرُهُ طَبَقًا وَاحِدًا

(ژباړه) ورته وايي به ايا ستاسو او ستاسو د رب تر منځه د پيژندنې څه نښه شته چې تاسو يې پرې وپيژنئ؛ نو هغوی به ورته وايي پونډۍ ده نو پس دغه وقت به الله خپله پنډۍ بربنډه کړي پس سجده به وکړي هغه ته هر مؤمن نر او ښځه او پاتې به شي له سجدې نه هغه څوک چی هغه الله ته د ریاء او اوریدنې لپاره سجده کوله؛ نو شروع به شي چې سجده وکړي، نو ملا به يې يو تخته پاتې شي [رقم الحديث ٦٩١٠]، په السنه د عبدالله بن الامام احمد کې الفاظ داسې دي .....فيقولون بيننا وبينه علامة إذا رأيناه عرفناها، فيقول: ما هي؟ يقولون يكشف عن ساقه، قال:فعند ذلك يكشف الله عن ساقه فيخر كل من كان بظهره طبق ويبقى قوم ظهورهم كصياصي ....كتاب السنة

نو د دې احاديثو نه معلومه شوه چې د امام بخاري او امام دارمي امام عبدالله رحمهم الله هم دا نظر دی چې دلته د ساق نه مراد حقيقي ساق د الله مراد دی چې د نورو صفاتو غوندې يې کيفيت او تمثيل الله تعالی ته معلوم دی. ځکه دوی دغه حديث د همدې اية په تفسير کې ذکر کړی والله اعلم.

غرض د بحث نه د حديثو د ظاهر سره موافق همدا ښکاري چې دغه ايت کريمه کې د ذکر شوی مطلق ساق نه مراد د دې صحيح احاديثو د تفسير په وجه ساق د الله مراد دی.

چې کيفيت يې د نورو صفاتو په څير هيڅ مخلوق ته بغير له الله نه دی معلوم چې را روان فصل کې به په دې بحث وکړو ان شاء الله.

ذكر التوجيهات

في ترجيح جعل الساق من الصفات

دا چې په ایت کريمه کې د ساق څخه په مراد کې د اهل علمو اختلاف دی جمهور د عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما هغه تفسير ته ترجيح ورکوي کوم چې هغه د عربو د لغت او عرف څخه ذکر کړی؛ خو بيا بله طائفه په شمول د ابوسعيد خدري ابن مسعود ابو هريره رضی الله عنهم امام بخاري امام دارمي وغيره دا الله تبارک وتعالی ته يو صفت د هغه د صفاتو څخه ګرځوي؛ نو دلته د دې باره کې دوه نظره شوو چې د دليل په اعتبار سره دغه دويم قول راجح ښکاري د څو وجهو څخه چې هغه به ستاسو مخې ته عرض کړم.

(۱) اوله وجه دا ده چې ساق عربي کې په ډېرو معنا ګانو سره راځي خو مرکزي او عمده معنا يې پنډۍ ده چې د قدم نه پورته او د زنګون نه ښکته کلکې پلې ته ويل کيږي حديثو کې چې کله هم د ساق لفظ ذکر شوی نو مراد ترينه همدا دی چې د هغې څخه يو څو جملې دا دي.

(۱) .....كَانَ يُرَى عَضَلَةُ سَاقِهِ مِنْ تَحْتِ إِزَارِهِ إِذَا اتَّزَرَ..... الحديث

(۲) د حورو په صفت کې دي چې..... يُرَى مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَاءِ الثِّيَابِ.... الحديث

(۳) رجل ظَاهَرَ مِنَ امْرَأَتِهِ فَرَأَى بَرِيقَ سَاقِهَا فِي الْقَمَرِ......الحديث

(۴) فَلا تَقْرَبْهَا ، فَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ سَاقَهَا مُنْكَشِفَةً.......الحديث

(۵) أزرةالْمُؤْمِنِ إِلَى أَنْصَافِ سَاقَيْهِ.... الحديث

(٦) فَضَرَبَهُ ضَرْبَةً أَطَنَّ قَدَمَهُ بِنِصْفِ سَاقِهِ .....الحديث

(۷) وَمِنْهُمْ مَنْ أَخَذَتْهُ إِلَى نِصْفِ سَاقَيْهِ....الحديث

(۸) فَأَقْنَعَ ظَهْرَهُ بِعَظْمِ سَاقِهِ .... الحديث

(۹) وَشَمَّرَ عَنْ سَاقَيْهِ ....الحديث

(۱۰) وَكَشَفَ عَنْ سَاقَيْهِ.......الحديث

(۱۱) كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِ سَاقَيْهِ ...... الحديث

(۱۲) وَفُضَلَتْ أَصَابِعُهُ عَلَى سَاقَيْهِ...... الحديث

(۱۳) كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ سَاقَيْهِ..... الحديث نور هم به لسګونو مقامات داسې شته چې هلته د ساق دغه معنا ذکر شوی؛ نو ګويا چې ساق په دې معنا حقيقي او نورو کې مجازي ده، او يا هم دا لفظ مشترک لفظ دی ډېرې معناګانې لري چې عمده معنا يې پنډۍ ده، نو چونکه ايت کې مطلق ذکر شوی او شی چې مطلق ذکر شي، رجع يې فرد کامل ته کيږي او هغه معنا نه ده مګر پنډۍ ده او همدا راجحه ښکاري.

نو اوس که څوک دا سوال وکړي چې احاديثو کې په دغه معنا ګانو کې سياق او قيود ذکر دي ځکه ترينه پنډۍ مراد ده.

خو دلته ايت کې د سياق قراين او قيود نه شته د دې سوال دوه جوابه دي.

(يو جواب) دا چې ايت کې هم قرينه شته چې هغه د (يكشف) جمله ده، او همدا قرينه کافي ده په مراد د دې معنا کې ځکه چې کشف يعنې لوڅ والی قوي قرينه ده چې پنډۍ مراد ده.

(دويم جواب) دا چې دلته د قران تفسير په احاديثو سره کوو، نو د ايت مراد په حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم واضح ذکر کړی چې هغه ساق (پنډۍ) د رحمان ذات ده.

(۲) دويمه وجه دا ده چې دلته په ايت کې ساق نکره ذکر شوی نو دغه تنوين دلته د تعظيم تکريم او تفخيم دپاره دی نو معنا دا چې يکشف عن ساق عظيمة او ولې به د داسې نه وي چې د رحمان ذات ساق وي او هغه به عظيم او کريم نه وي!

(۳) وجه دا ده چې دې کې شک نه شته چې لفظ د ساق په ايت کې بلا اضافت ذکر شوی، خو صحيح احاديثو کې رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې اضافت الله تبارک وتعالی ته کړی د صحيح البخاري د حديث الفاظ داسې دي (يكشف ربنا عن ساقه) نو وګوره دلته د(كشف) فعل فاعل (ربنا) دی بيا (عن ساقه) متعلق د کشف سره دی اضافت د ساق (پنډۍ) الله ته شوی نو معلومه شوه چې دلته د ساق خپله معنا مراد ده او دغه واضح بيان او ښکاره تفسير د دې ايت دی چې الله تعالیفرمايي: {يوم يكشف عن ساق} دغه ډول

أبو يعلى په خپل کتاب إبطال التأويلات ص ۴۳ کی په سند سره ذکر کړی چې ابن مسعود رضی الله عنه د دې ايت متعلق چې {يوم يكشف عن ساق} دی وفرمايل (يكشف الرحمن عن ساقه) يعنې رحمان ذات به خپله پونډۍ رابښکاره کړي. امام بيهقی رحمه

الله هم په دې الفاظو سره په الأسماء والصفات صـ ۲۴۳ کې نقل کړی

نو معلومه شوه چې د ساق نه مراد ساق د الله تعالی دی چې د جمله ذاتي صفاتو څخه يې يو صفت دی.

(۴) دا چې ابن عباس - رضي الله عنهما په شدت او سختۍ حمل کړی نو د رواياتو نه معلوميږي چې دغه معنا يې په خپل اجتهاد سره د عربو د عرف نه اخيستي ده، چې هغوی د ساق نه کنايه په شدت او سختۍ سره کوي، نو چونکه د قيامت ورځ هم د سختيو او تکليفونو ورځ ده نو هغه په دې سياق سره دغه تفسير کړی، نو دا په دې مقام کې هله صحيح وي چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه د دې په تفسير کې حديث نه وی نقل مونږ هيڅ کله او هيڅ وقت د دې تفسير نه انکار نه کوو خو دې مقام کې صحيح حديث پريښودل د موقوف قول مقابل کې دا د اهل السنة والجماعه عقيده هم نه ده.

ځکه د ايت دا جمله چې (يکشف عن ساق) حديث کې دا الفاظ چې (يكشف عن ساقه يوم القيامة) او دا چې (يكشف الرحمن عن ساقه) عين مطابق دی چې دغه مُنَكَّر ساق معرفه کوي او مراد د ايت واضح بيانوي چې په همدې باندې عقيده لرل واجب دي.

(۵) بل دا چې خلک وايي سختي عذاب شدت او مصيبت ترې لرې شو دا نه وايي چې له عذاب، سختۍ، مصيبت او شدت نه لرې والی وشو.

(٦) دا چې تر څو خلک جنت ته نه وي ننوتي تر هغه وقته د حشر په ميدان کې سختي وي او لا نورې نورې قسم قسم سختۍ پيدا کيږي، نو د (يکشف عن ساق) نه مراد سختي اخستل موافق نه ښکاري، والله اعلم.

(۷) د ساق د ښکاره کولو سره همدا لايقه ده، چې سجده ورته وکړی شي او همدا عقل ته هم ښه پريوځي، والله اعلم.

بل که دلته څوک دا اعتراض کوي چې که دلته ساق د الله د صفاتو څخه وګڼل شي نو دلته خو الله تبارک وتعالی ته يو ساق ثابت شو او دا خو کمال نه شو!

الجواب بعون الله الوهاب نو اول جواب دا دی چې (عدم ذکر الشی لا يدل علی عدمه) يعنې د يو شي نه ذکر کول دا دليل نه دی په دې چې دغه شی نه شته د دې مثال لکه همدا معترض چې کله يو لاس جيب کې واچوي، نو خلک خو دا نه وايي چې د ده يو لاس دی بل نه شته يا ووايي چې زما پښه خوږيږي، نو څوک خو دا نه وايي چې د ده همدا يو پښه ده او بله بيخی نه شته، يا دغه ډول الله تبارک وتعالی په ال عمران ۲٦ کی فرمايی (وبيدك الخير) او په سورة الملک ۱ کې فرمايي (بيده الملک) او په سورة طه ۳۹ کی فرمايي (ولتصنع على عيني) نو ګوره دلته هيڅ مفسر نه دا نه دي نقل چې د الله تبارک وتعالی صرف يو لاس دی بل يې نه شته يوه سترګه ده بله نه شته مزيد تفصيل لپاره وګورئ [بيان تلبيس الجهمية ۵/۴٦۵]

نو مقصد معلوم شو چې د يو شي نه ذکر کيدل د دې دليل نه شي کيدی چې دغه شی دی عدم وګڼل شي.

بل جواب دا دی چې د الله هر صفت دا د کمال صفت دی هغه پوره ذکر کيږی، او که د هغې کومه حصه او برخه، او د اهل السنة والجماعه همدا موقف، عقيده او ايمان دی، چې د الله تبارک وتعالی واړه صفات د کمال صفات دي په هيڅ وقت او حال کې هغه د نقص صفات نه شی ګرځيدلی نو د معترض دغه اعتراض مفضي کيږی دې ته چې نعوذبالله الله تعالی په قرآن کې خپل کمال نه بلکه نقص بيان کړی، والعياذ بالله

نو د دې ټول بحث نه باذن الله وتوفيقه ثابته شوه چې ساق دا هم د الله عزوجل د صفاتو څخه يو ذاتي صفت دی چې په کيفيت يې له الله پرته بل هيڅ څوک علم نه لري، وبالله تعالی التوفيق، والحمد لله رب العالمين.

ألفلاح والرشاد في مسائل الجهاد

يولسم درس : صحيح البخاري كتاب الجهاد

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله الأمين وعلى أزواجه وأصحابه ومن تبعهم في إحسان إلى يوم الدين أما بعد:
محترمو مسلمانانو ورونو او خويندو مونږ مخکې درس کې د لوی الله په توفيق سره د الفلاح والرشاد په سلسله واره لړۍ درسونو څخه په تير شوي درس کې پنځلسم باب او هغې کې د پنځه ويشتم نمبر حديث شرح او او ضاحت ذکر شو. اوس راځو د لوی الله په توفيق سره شپاړلسم باب او د هغې احاديث شروع کوو.
٨٧١٦ - باب من اغبرت قدماه في سبيل الله و قول الله عز وجل: {ما كان لأهل المدينة ومن حولهم من الأعراب أن يتخلفوا عن رسول الله -إلى قوله- إن الله لا يضيع أجر المحسنين}
يعنې دا باب ثابت دی په فضيلت د هغه چا(مجاهد) چې ککړ شي په ګردونو دواړه قدمونه د هغه په لاره د الله کې او په باره د دې وينا د الله عزوجل کې (چې فرمايي) نه دي جايز مدينې والاو او د هغې ګرد چاپير (اوسيدونکو) بانډيچيانو ته دا چې دوی وروسته پاتې شي د رسول الله صلی الله څخه (چې کله هغه غزا ته وځي تر دې ځايه د وينا چې) او بې شکه الله نه ضايع کوي بدله او ثواب د نيکي کونکو [التوبة: ١٢٠]

حصول الأجر والثواب
بتشريح الكلمات مافي ترجمة الباب

(باب) يعنې هذا باب في فضل (من اغبرت قدماه في سبيل الله) قدما رفعي حالت دی اصل کې قدمان وو نون د اضافت له وجې نه غورځيدلی.
(وقول الله تعالى): دا مجرور دی عطف دی سابق باندې او د ابو ذر په نسخه کې د(قول الله تعالى) په ځای (عزوجل) راغلی ({ما كان لأهل المدينة} علما فرمايي دا خبر دی او معنا يې نهې ده.
يعنې دا کار دې نه کوي {ومن حولهم من الأعراب} دا د بانډو اوسيدونکي دي. چې د مزينة وجهينة او أشجع او أسلم او غفار قبيلې دي {أن يتخلفوا عن رسول الله} يعنې چې کله غزا ته وځي (إلى قوله)
{وإن الله لايضيع أجر المحسنين}

مطر الرحمة والسحاب
بذكر مناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د کتاب الجهاد د عدد او شمير په اعتبار سره ١٦ شپاړسم نمبر باب دی امام بخاري رحمه الله په دې باب کې يو حديث د ابو عبس عبدالرحمن بن جبر رضی الله عنه ذکر کوي بيا مناسبة د باب د کتاب الجهاد سره ښکاره دی او هغه داسې چې باب کې ذکر د (فی سبيل الله) شوی او د (فی سبيل الله) د ذکر نه مطلقا جهاد فی سبيل الله مراد وي اګر چې امام بخاري رحمه الله دغه حديث به (باب المشي الى الجمعة) کې هم ذکر کړی دی چې په دې بنياد سره في سبيل الله عام دی هر طاعت د الله او رسول په کې داخل دی، او بيا ورپسې ايت ذکر کول چې د ترجمة الباب لپاره دليل دی چې هغه دا الفاظ دي.
﴿ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَطَئُونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِ عَمَلٌ صٰلِحٌ ﴿ إِنَّ اللهَ لَايُضِيْعُ أَجْرَالْمُحْسِنِيْنْ.
نو علامه ابن بطال رحمه الله فرمايي چې الله سبحانه و تعالى په دې ايت کې فرمايي{وَ لَا يَطَؤُونَ مَوْطِئا}
يعنې ځمکه د پښو نه، نه لاندې کوي مګر دا چې کفار په دې سره غوصه کيږي او (وَ لَا يَنَالُوْنَ مِنْ عَدُوٍّ نَيْلَا) يعنې رسيدل نه کوي دشمن ته په قتل اسارت او يا هم غنيمت سره (إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهِ عَمَلٌ صَالِحِ) مګر دا چې دوی ته په دې سره صالح عمل (په عملنامه کې) ليکلی شي نو بيا فرمايي : نو پس نبی -صلی الله عليه وسلم-د عمل صالح تفسير په دې سره وکړ چې اور به رسيدل ونه کړي هغه چاته چې دغه عمل (جهاد فی سبيل الله) يې کړی وي [شرح البخاری لابن البطال ٥/٢٦]، نو معلومه شوه چې حديث کې اشاره ده دې اياتونو ته نو همدا مناسبت د حديث د ترجمة الباب سره
(حديث ٢٦)
رقم الحديث ٢٨٠٨ -أخبرني أبو عبس عبد الرحمن بن جبر أن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- قال: «ما اغبرت قدما عبد في سبيل الله فتمسه النار.
(ترجمه) ابوعبس عبدالرحمن بن جبر رضی الله عنه فرمايي بې شکه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل په خاورو نه ککړ کيږي دواړه قدمونه د يو بنده په لاره د الله کې (په جهاد کولو سره) او دا چې بيا دې اور هغې ته اورسيږي.

التفكر والمراقبه
فی ذکر التطبيق المناسبة

په دې حديث کې د امام بخاری رحمه الله استاذ اسحق بن منصوربن بهرام چې د توثيق او تعديل په باب کې د (ثقة) او (ثبتٌ) په وصف موصوف راوي دی چې له ده نه دغه حديث په سند سره د عبدالرحمن رضی الله څخه ذکر کوي او بيا مناسبة

د حدیث د ترجمة الباب سره لفظا موافق دی بلکه همدا د حدیث الفاظ په ترجمة الباب کې ذکر شوی دی والله اعلم

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(ما اغبرت) کې (ما) نافیه ده (اغبرّت) دا د إغبرار څخه دی د إفعلال په وزن د واحد مؤنث صیغه ده فاعل یې (قدما) دی دا تثنیه ده نون د اضافت له وجهې غورځیدلی کمامر نو فاعل چونکه ظاهر دی نو له دې وجهې نه یې فعل واحد راوړ بیا قدم مؤنث سماعي دی، نو له دې وجهې نه یې صیغه د تأنیث ذکر کړه. او دلته بیا د اغبرار نه مراد اقتحام

او انغماس او حمله کول دي په کفارو باندې د معرکې او جګړې په صورت کې څکه دغه وقت کې دوړې او ګردونه راپورته کیږي.

نو ذکر د مسبب دی او مراد ترینه سبب دی او بیا دغه دوړې غالب او ظاهر کې د منډو او تیز رفتار سره راپورته کیږي او منډې او تیز رفتار په پښو کیږي،

نو له دې وجهې نه یې د دې ذکر کول اهم وګڼل ګنې دوړې خو په مخ سر بلکه ټول بدن باندې لګي نو چونکه باعث او عمده کردار په کې ده قدمونو دی نو له دې وجهې نه یې خاص که والله اعلم (فی سبیل الله) عام دی هر طاعت د الله او رسول په کې داخل دی خو جهاد في سبیل الله یې کامل کامل شکل او صورت دی (فتمسه النار) دې کې فا نه بعد ان حرف ناصبه مقدر دی څکه دلته فا په جواب د نفی کې راغلې چې هغه (ماغبرت) ده بیا (تمس) د مؤنث مضارع واحده صیغه ده منصوب ده په ان مقدر باندې او مراد ترینه د اور رسیدل یا اور ته ننوتل دي لکه دا په نورو روایاتو کې پدې الفاظو ذکر شوي چې (فحرمه الله علی النار)

فوائد الحدیث

[۱] حدیث دلیل دی په فضیلت د جهاد

[۲] د الله په طاعت کې اندامونه ستړي کیږي خولې، دوړې او ګردونه انسان ته رسیږي خو په دې کې اجر او ثواب دی.

[۳] د الله د لارې ګرد هم دومره قیمتي او محترم دی چې د جهنم اور په بدن حراموي

[۴] که بالفرض د الله لاره کې قتال هم نه وي شوی بیا هم د هغې مشقت زغمل انسان د اور نه بچ کوي.

۱۷- باب مسح الغبار عن الرأس في سبيل الله

باب ثابت دی په باره (د جواز کې) د صفا کولو د ګردونو د سر نه په لاره د الله کې.

حصول الأجر والثواب

بتشريح الكلمات مافى ترجمة الباب

(باب) یعني هذا باب في عدم کراهية الغبار عن الرأس في سبیل الله چې په دې اعتبار سره د دې ترجمة الباب معنی لازمي ده او په بعضو نسخو کې مسح الغبار عن الناس في سبیل الله هم راغلی چې په هغې کې متعدي معنی مراد ده.

مطر الرحمة والسحاب

بذكر مناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د کتاب الجهاد د ابوابو د عدد او شمیر په اعتبار سره اولسم ۱۷ نمبر باب دی بیا امام بخاري رحمه الله په دې کې یو حدیث د ابو سعید خدري رضی الله عنه ذکر کوي چې مناسبت یې د کتاب الجهاد سره په استنباطي طور سره په دې جمله کې دی چه (ویح عمار تقتله الفئة الباغية عمار يدعوهم الى الله ويدعونه الى النار) چې دلیل دی په دې چې د هرې ګمرا طائفې سره قتال کول جهاد دی .

(حدیث ۲۷)

(رقم الحدیث ۲۸۰۹) عن عكرمة أن ابن عباس قال له ولعلي بن عبد الله: ائتيا أبا سعيد فاسمعا من حديثه. فأتيناه وهو وأخوه في حائط لهما يسقيانه، فلما رآنا جاء فاحتبى وجلس فقال: "كنا نقل لبن المسجد لبنة لبنة، وكان عمار ينقل لبنتين لبنتين، فمر به النبي -صلى الله عليه وسلم- ومسح عن رأسه الغبار وقال: ويح عمار تقتله الفئة الباغية، عمار يدعوهم إلى الله ويدعونه إلى النار.

(ژباړه) د عکرمه نه روایت دی فرمایي بې شکه ابن عباس رضی الله عنهما علی بن عبدالله ته وفرمایل چې تاسو دواړه ابو سعید خدري رضی الله عنه ته ورشئ او د هغه نه د هغه حدیث واورئ پس مونږ دواړه هغه ته ورغلو په داسې حال کې چې هغه او د هغه ورور دواړو خپل باغ اوبه کولو، چې کله یې مونږ ولیدو نو مونږ ته راغی او خپل څادر یې له څان نه تاو کړ او کیناسته (نو زمونږ د پوښتنې بعد یې په جواب کې وفرمایل) مونږ مسجد نبوي ته خښتې چلولې یوه یوه مو وړله او عمار دوه دوه وړلې نو نبی علیه السلام په عمار راتیر شو نو له سر نه یې ورته دوړې وڅنډلې او ویې فرمایل درد دی ماته په حال د عمار چې باغي ډله به یې قتلوي عمار به هغوی ته د الله طرف ته دعوت (بلنه) ورکوي او هغوی به ده لره د اور طرف دعوت (بلنه) ورکوي.

التفكر والمراقبة
فى ذكر التطبيق والمناسبة

په دې حدیث کی د امام بخاري رحمه الله استاذ هغه ابراهیم بن موسی الرازي الصغیر رحمه الله دی چې د تعدیل او توثیق په باب کې د(ثقة) او (حافظ) په صفاتو موصوف دی. او مناسبت د حدیث د ترجمة الباب سره لفظا موافق دی کما لایخفی من شم من العلم بالحدیث

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(ائتیا اباسعید) تثنیه ده عکرمه او خپل زوی علی بن عبدالله بن عباس ته یې وفرمایل چې لاړ شئ او د ابو سعید خدري رضی الله عنه نه پوښتنه وکړئ (و هو و اخوه) چې دا د ابو سعید رضی الله عنه رضاعي ورور ؤ څکه د هغه خپل ورور هغه قتاده بن نعمان ؤ او هغه د عمر رضی الله عنه د خلافت نه مخکې وفات شوی او د علی بن عبدالله بن عباس ولادت د علی رضی الله عنه د خلافت په اخر کې پیدا شوی [کما في ارشاد الساری ۴۹/۵]،

(حائط لهما) حائط غالبا په دوه معناو سره راځي یو دیوال ته هم حائط وایي او باغ ته هم دلته ترینه باغ مراد دی چې جمع یې حیطان او حوائط هم راځي (فاحتبی) احتبا هم مختلف اقسام لري. دلته ترینه په څان خادر اچول مراد دی چې ملا او پونډې پرې د ناستې په وقت کې پټې شي. والله اعلم

(لبن المسجد) لَبِن د لام په (فتحې) زبر او د با په (کسرې) زیر سره د ختې نه جوړې شوې په اور کې پخ شوي خښتو ته وایي

او لَبْنَ په فتحې (زبر) د لام او با دواړو سره بیا شیدو او پیو ته وایي

(ویح عمار) ویح کلمې ته کلمة الترحم والتوجع ویلی شي چې د شفقت او ترحم له کبله څوک په چا خوږیږي نو دا کله ورته استعمالوي او دغه ډول دا د وَیْل او هلاکت په معنا هم راځي د حدیث نور الفاظ واضح دي شرح ته حاجت نه لري.

شفاء الأمراض
بدفع الشبهة والاعتراض

د مخکې باب په حدیث کې غوره والی د دوړې ؤ في سبیل الله ذکر شوی ؤ او دلته دې حدیث کې د دوړې لرې والی ذکر شو چې ظاهر کې تضاد ښکاري.

الجواب په دې حدیثونو کې هیڅ تعارض نه شته هغه داسې چې په لومړي حدیث کې د في سبیل الله نه مراد کامل فرد دی او هغه قتال او جنګ کول دي د کفارو سره او دلته چونکه قتال او جهاد نه دی نو تعارض نه شته او دویم جواب دا دی چې که د دوړې فضیلت مطلق وي نو مخکې حدیث کې ګرد او غبار د الله په لاره کې د لګیدلو فضیلت ثابت شو او په دې حدیث کې د ګرد او دوړې نه صفاوالی ذکر شو د دې داسې مثال واخلئ لکه زخم د الله په لار کې لګیدل چې دا فضیلت لري خو د دې علاج او جوړول دا هم مطلوب دی څکه یو انسان هیڅ کله دا نه غواړي چې د هغه زخم دې همیشه وي او وینې او زوې دې ترې څڅیږي، او دا دې پرې خوشحال وي او یا دې دا د شریعت امرؤ تقاضا وي نو همدا ډول دوړه لګیدل فضیلت لري خو څان صفا کول هم شرعي مطلوب دی لهذا اعتراض دفع شو.

والحمد لله رب العالمین.

فوائد الحدیث

[۱] د علم او شرعي مسئلې پسې که خپله نه وي بل کس هم لیږلی شي.

[۲] که میلمه درته راشي نو کار او کسب ورته پریښودی شي او دا د میلمه د اکرام او حقوقو برخه ده.

[۳] که دوه شریکان وي او یو ته میلمه راشي او یا بل عذر وي نو بل شریک دې د هغه په کار پریښودو خفګان نه کوي.

[۴] په نیکو کارونو کې ډیر بوج او بار ته غاړه ایښودل فضیلت او قابل د مدح عمل دی.

[۵] حدیث دلیل دی په فضیلت د جهاد.

[۶] د مسلمانانو د جماعت نه وتل د جهنم طرف ته تلل دي اګر چې بغاوت څان سره په دې وتلو او مخالفت کولو کې تأویل هم لري.

[۷] امیر د مأمور هم خدمت کولی شي اګر که د هغه شخصي خدمت هم وي.

[۸] حدیث دلیل دی په صدق د نبوة او رسالة د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څکه همداسي شوه چې عمار رضی الله عنه د باغي ډلې له طرف نه شهید کړی شو.

شفاء الأمراض
بدفع الشبهة والاعتراض

زمونږ دا دعوه ده چې په غیبي اخبارو او اسرارو سوا د الله تبارك و تعالی نه بل هیڅوک علم نه لري خو دلته د دي واقعي نه داسي معلومیږي چې نبي صلی الله علیه وسلم هم په غیبو پوهیږي.

الجواب په دي کي هیڅ د ذري په مقدار هم شک نه شته چې د الله نه ماسیوا بل هیڅ نبي، هیڅ ولي، انس او جن او ملائک په غیبو نه پوهیږي او دغه حدیث کي چې د ما یکون متعلق کوم اجمالي خبر رسول الله صلی الله علیه وسلم ورکړی نو دیته معجزه ویلی شي. چې دا د الله له لوري هغه حق دی چې د جلي او یا هم د خفي وحي په ذریعه یي خپلو انبیاؤ ته ورکړی چې بل هیڅ ولي بزرګ صدیق او شهید د هغي حق نه لري او نه یي دعوی کولی شي او د دي معجزاتو فائده دا وي چې امت ته پري الله تبارك و تعالی د خپلو انبیاء او رسولانو صلوات الله علیهم اجمعین صدق او ریشتینولي ثابتوي نور په زرهاوو دلایل موجود دي چې انبیاء د هیڅ خیر د حاصلیدو او د هیڅ شر نه د دفاع اختیار او علم نه لري مګر که الله یي د وحي په ذریعه علم ورکړي او معجزات له همدي جملي څخه دي چې الله د جلي او یا هم د خفي وحي په ذریعه خپلو انبیاؤ ته د هغي علم ورکوي.

۱۸ - باب الغسل بعد الحرب والغبار

باب ثابت دی په باره د غسل کولو کي روسته د جنګ کولو نه او د دُوړو نه.

حصول الأجر والثواب
بتشریح الکلمات مافی ترجمة الباب

باب الغسل یعني هذا باب دلته کلمه د باب منون ده او له دي نه بعد عبارت مقدر دی في جواز الغسل بعد الحرب و الغبار نو تول عبارت داسي دی هذا باب في جواز الغسل ......

مطر الرحمة والسحاب
في مناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د کتاب الجهاد د ابوابو د عدد او شمیر په اعتبار سره اتلسم نمبر ۱۸ باب دی چې په دي کي امام بخاري رحمه الله صرف یو حدیث د أم المؤمنین عایشة الصدیقة رضی الله عنها نه ذکر کړی بیا مناسبت د باب د کتاب الجهاد سره ښکاره او واضح دی چې هغه د خندق د غزوي نه واپسي او له هغي فورا بعد د بني قریظة طرف ته روانیدل ؤ، والله اعلم

(حدیث ۲۸)

(رقم الحدیث ۲۸۱۰) عن عائشة - رضي الله عنها- أن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- لما رجع يوم الخندق ووضع السلاح واغتسل، فأتاه جبريل وقد عصب رأسه الغبار فقال: وضعت السلاح؟ فوالله ما وضعته.

فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: فأين؟ قال: هاهنا وأومأ إلى بني قريظة قالت: فخرج إليهم رسول الله صلى الله عليه وسلم.

ژباړه: د عایشي مور رضی الله عنها نه روایت دي چې فرمایي: بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله له خندق د غزوي نه واپسي وکړه او اسلحه یي کیښوده نو غسل یي وکړ، پس جبریل علیه السلام ورته راغی په داسي حال کي چې په سر یي دوړي پرتي وي نو پس ورته یي وفرمایل ایا تا اسلحه کوزه کړه؟ قسم بالله ما خو نه ده کوزه کړي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل بس نو چیرته څو (جنګ ته) نو هغه ورته وفرمایل هلته او اشاره یي وکړه د بني قریظة وو طرف ته. نو عایشه رضی الله عنها وفرمایل: نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وریسي ووتلو.

التفکر والمراقبة
في ذکر التطبیق والمناسبة

په دي حدیث کي د امام بخاری رحمه الله استاد محمد بن سلام په تخفیف د سین سره ابن الفرج السلمي البیکندي رحمه الله دی، چې تعدیل او توثیق په باب کي د (ثقةٌ) او (ثبتٌ) په اوصافو موصوف دی. د ده څخه دغه حدیث په سند سره بخاري رحمه الله له عایشي رضی الله عنها څخه روایت کړی. او بیا مناسبت د حدیث د باب سره هغه په ښکاره الفاظو سره دي. څکه ترجمة الباب کي په جهاد کي بدن ته د رسیدلو دوړو د وینځلو جواز ذکر شوی، او په حدیث کي دلیل پیش شوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خندق نه واپس شو نو هغه غسل وکړ.

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

رجع یوم الخندق: خندق ته خندق څکه وایي چې: صحابه کرامو د سلمان فارسي رضی الله عنه په مشوره د مدیني ګرد چار پیره کنده وویستله. د مکي مشرکانو غوښتل چې په مدینه طیبه حمله وکړي. دا واقعه په څلورم (۴) یا په پنځم (۵) کال د هجرت واقع شوی و.

وضع السلاح: د ابوذر په نسخه کي د (سلاح) کلمه غورځیدلي ده. (فاتاه جبریل) جبریل مقدس ملائک دی، د الله له طرف نه په وحي راوړلو مکلف دی. وقد عصب کي واو حالیه ده یعني په داسي حال کي چې په سر یي دُوړو لکه د وریځو غوندي حلقه جوړه کړی وه. وضعت السلاح: د دي جملي قائل جبریل دی، او جمله استفهام ده یعني تا اسلحه کیښوده جهاد نه کوئ نور؟

(فوالله ماوضعته) یعني مونږ ملائکو خو اسلحي نه دي ایښي مونږ د جنګ اراده لرو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: (فأین) یعني کوم طرف ته د جنګ اراده ده.(مغازی کي حدیث په ۴۱۱۷ رقم باندي دی).

چې الفاظ یي داسي دي چې: جبریل علیه السلام وفرمایل: قد وضعت السلاح والله ما وضعناه فاخرج إليهم.

قال: «فإلى أين»؟ قال: ها هنا وأشار إلى بني قريظة فخرج النبي -صلى الله عليه وسلم- إليهم.

ژباړه: یعني تا اسلحه کوزه کړه والله مونږ ملائکو خو نه ده کوزه کړي، پس راوځه دښمن پسي، نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پس چیرته؟ نو هغه ورته وفرمایل: هغه طرف ته! اشاره یي بني قریظوؤ ته وه. بنی قریظة دا د یهودو یوه قبیله وه چې په مدینه کي میشت وو، کله چې دوی د احزابو سره پټ تعاون وکړ نو دا د دوی د ذلت او بربادۍ سبب وګرځیده.

فخرج الیهم النبي صلی الله علیه وسلم پس رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوو پسي ور روان شو.

فوائدالحدیث

۱: حدیث دلیل دی په فضیلت د جهاد

۲: د بدر په شان خندق ته هم الله د مسلمانانو مدد ته ملائک رالیږلي وو.

۳: که بدن ته دوړي وغیره ورسیږي نو غسل کول سنت دي، ولو که د جهاد په سبب هم رسیدلي وي.

۴: رسول الله صلی الله علیه وسلم په غیبو نه پوهیده.

۵: د جنګ په وقت کي اسلحه اخستل او دغه ډول جنګي تدابیر او مواضع غوره کول د توکل خلاف او منافي نه دي.

٦: اشاره کول هم د تلفظ او قول پر ځای کافي کیږی نو څه چې په قول ثابتیږي هغه په اشاره هم ثابتیږي، والله اعلم

(۱۹): باب فضل قول الله تعالى

ولا تحسبن الذين قتلوا في سبيل الله أمواتا بل أحياء عند ربهم يرزقون فرحين بما آتاهم الله من فضله ويستبشرون بالذين لم يلحقوا بهم من خلفهم أن لا خوف عليهم ولا هم يحزنون يستبشرون بنعمة من الله وفضل وأن الله لا يضيع أجر المؤمنين الاية

باب ثابت دی په فضیلت (غوره والی) د هغه چا کي چې د الله دا وینا یي په حق کي وارده شوی ده چې فرمایي: ګمان مه کوئ په هغه خلکو چې هغوی قتل شوي دي په لاره د الله کي د مړو بلکي دوی ژوندي دي. د خپل رب په نزد او روزي ورته ورکولی شي خوشحال دي په هغه څه چې الله ورکړي دي دوی ته، د خپل فضل نه او دوی زیري اخلي د هغه چا په باره کي چې نه دي پیوست شوي له دوی سره د دوی نه وروسته دا زیري اخلي چې نه به وي ویره په دوی، او نه به دوی غمجن وي، زیری اخلي دوی په نعمت او فضل د الله سره او بې له شکه الله اجر (بدله) د مؤمنانو نه ضایع کوي.

حصول الأجر والثواب
بتشریح کلمات ما في ترجمة الباب

باب قول .... یعني باب فضل قول الله تعالی او د ابوذر رضی الله عنه په نسخه کي د (الله تعالی) په ځای (عزوجل) دی، امواتا د اموات نه دلته مراد بربادا یا تباهی ده، څکه مرګ خو ورته راغلي دی، خو د دي نه مقصد دا چې تاسو دوی بربادا مه ګڼئ یا مقصد دا چې دا

د نورو مړو غوندې مړه مه ګڼئ، بلکې دوی د الله په نزد ژوندي دي او روزي ورکول کيږي. او دا به بيا يو خاص نوع فضيلت وي چې الله يې صرف شهداو ته ورکوي.

(فرحين) دا نصبي حالت حال دی د (يرزقون) له ضمير څخه (من فضله) چې دا د شهادت شرف او د ابدي ژوند او نعمتونو ورکړه او الله ته نزديکت تولو ته شامل دی.(يستبشرون) دا عطف دی، په ما قبل باندې يعنې خوشحالي کوي په زيرو اخيستو سره (بالذين لم يلحقوا بهم) يعنې د دوی د هغه مؤمنانو ورونو باره کې چې د دوی سره نه دي يو ځای شوي، يعنې هغيې لا دنيا کې ژوندي پاتې دي، چې دا به د دوی سره يو ځای کيږي، په داسې حال کې (ان لاخوف عليهم) دا چې هيڅ ويره به نه وي په دوی او د هغوی د اولاد باره کې چې دوی پريښودلي په دنيا کې. (ولاهم يحزنون) او نه به غمجن وي د هغه مالونو د وجهې نه چې دوی پريښودي په دنيا کې يا دا چې نه به په دوی ويره وي د هغه څه باره کې چې دنيا کې ترې پاتې دي او نه به غمجن وي، د هغه څه باره کې چې راليږلي يې دی، دلته اخرت ته له اعمالو څخه يعنې د دنيا او اخرت دواړو باره کې به مطمئن وي. (يستبشرون) دا مکرر ذکر شو د وجهې د تاکيد نه (بنعمة من الله) دا د الله نعمت دی چې اعمال يې ورته قبول کړي. (وفضل) دا لا زياتي بدلي ته وايي، يعنې عمل يې من کړي او اجر ورته خروار ورکوي ديته فضل ويل کيږي، او الله د خپلو نيکو بندګانو سره هم داسې کوي. اللهم اجعلنا منهم.

ځکه (وان الله لايضيع اجر المحسنين) الله اجر د نيکي کوونکو نه ضايع کوي.

مطر الرحمة والسحاب
بذكر مناسبة ترجمةالباب مع الكتاب

دا باب د کتاب الجهاد د أبوابو د عدد او شمير په حساب سره نوولسم (۱۹) نمبر باب دی.

په دې کې امام بخاري رحمه الله دوه حديثونه ذکر کوي، يو د انس بن مالک او بل د جابر بن عبدالله رضی الله عنهم اجمعين. بيا مناسبت د باب د کتاب الجهاد سره ښکاره ده په دې وجه چې کتاب کې د جهاد اړوند مسايل ذکر کيږي. او باب کې په دغه جهاد سره د قتل شوو فضيلت او غوره والي ذکر شوي.

والله اعلم (حديث ۲۹) (رقم الحديث ۲۸۱۱).

عن أنس بن مالكرضي الله عنه قال: دعا رسول الله صلى الله عليه وسلم على الذين قتلوا أصحاب بئر معونة، ثلاثين غداة، على رعل وذكوان وعصية عصت الله ورسوله، قال أنس:

أنزل في الذين قتلوا ببئر معونة قرآن قرأناه ثم نسخ بعد، بلغوا قومنا أن قد لقينا ربنا فرضي عنا ورضينا عنه.

ژباړه: د انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي: ښيرا وکړه رسول الله صلى عليه وسلم هغه کسانو ته چې د بئرمعونه والا يې قتل کړي وو. ديرش سهاره يې ښيراوې داسې کولې چې: لعنت دې وي په رعل، ذکوان او عصية چې د الله او د هغه د رسول نافرماني يې کړی ده. انس فرمايي: بيا د هغه کسانو باره کې چې (له صحابه وو څخه) په بئر معونه مقام کې شهيدان شوی وو قران نازل شو چې: مونږ به لوستلو چې بيا له هغې وروسته د هغې قراءت منسوخ شو.

او هغه ايت داسې و (بلغوا قومنا أن قدلقينا ربنا فرضى عنا ورضينا عنه).

زمونږ قوم ته دا خبر ورسوئ چې مونږ د خپل رب سره ملاقات وکړ پس هغه زمونږ نه راضي شو او مونږ له هغه نه راضي شو.

التفكر والمراقبه
فی ذكرالتطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د امام بخاري رحمه الله استاذ او شيخ هغه اسماعيل بن عبد الله بن أبي أويس الأصبحي رحمه الله دی، چې د (صدوق يخطئ) وصف لري. له ده نه بخاري رحمه الله دغه حديث په سند سره د انس بن مالک رضی الله عنه نه نقل کړي، بيا مناسبت د حديث د باب سره ښکاره دی، چې باب کې فضيلت د شهداو ذکر دی او دغه حديث کې د هغې اثبات ذکر شوي چې شهداوو ته رب خپله رضا ورنصيب کړي چې هغه د بئرمعونه والا شهداء وو.

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(دعا على الذين قتلوا ...)

دلته د دعاء نه مراد دعا د شر ده، ځکه د دعا په صله کې چې على راشي نو له دې نه غالبا ښيرا يعنی بدده او د شر دعا مراد وي، ها که چيرته سياق د دې ترديد کولو نو بيا به ترينه د خير دعا مراد وي. لکه اللهم صل على محمد ځکه دلته د صلاة او د محمد دا دواړه کلمې د دې قرينه ده، چې له دې نه مراد دعا د خير ده. (ثلاثين صباحا) د دې نه مراد د فجر په لمونځ کې قنوت نازله کول دي. د دې متعلق بعضې رواياتو کې ځلويښت او په بعضو کې شل ورځې هم ذکر دي. (أصحاب بئر معونة) معونة د ميم په زبر او د عين په پيش سره دا د مکي او عسفان تر منځه يو منطقه ده، نبی عليه السلام د دې خلقو ته د هجرت په څلورم کال د صفر په مياشت کې د أحد د غزوې نه وروسته د قراءو نه مشتمله يوه سريه واستوله، چې مشر او امير يې ورته منذر بن عمر وټاکه چې د مرثد بن أبى مرثد په نوم مشهور و. نو د بنی سليم والا وو څخه د رعل (په زير دراء او سکون د عين سره) ذکوان او عصية قومونه وړپسې راوتل او هغوی يې په بې رحمی سره شهيدان کړل.

(على رعل وذكوان وعصية) دا مجرور ويلي شي.

بدل دي د (على الذين) څخه (قتلوا) د معلوم صيغه ده دا صله ده د الذين موصول ضمير مستتر په کې فاعل دی، او (أصحاب بئر) دا يې مفعول به دی(أنزل في) دلته دا صيغه د مجهول ده او د (قرآن) کلمه موصوف ده (قرأناه) دا جمله صفت دی د قران چې دا بيا د خپل موصوف سره نايب فاعل ګرځي، د (أنزل) د پاره او دغه عبارت کې چې دا د (قتلوا ببئر معونة) جمله ذکر ده، نو دلته قتلوا مجهول دی مراد ترينه دغه قراء دي چې په بئر معونه کې شهيدان شوي وو.(ثم نسخ بعد) دې نه مراد نسخ د تلاوت ده ځکه له دې نه ثابت حکم او اعتقاد هغه باقي دی، نو دا عقيده لرل پکار دي چې د بئرمعونه شهداوو باره کې قران نازل شوي او رب له هغوو او هغوی له رب څخه راضي شوي دي.

فوائد الحديث

۱: حديث دليل دی په اعلی فضيلت د جهاد او مجاهدينو سره.

۲: د دين دښمنانو ته بدده دعا يعنی ښيرا کولای شي.

۳: د ملګرو په شهادت خفګان او درد محسوسول دا د نبي عليه السلام سنت دي.

۴: که مجاهد څوک په دوکه او خيانت سره هم قتل کړي نو دا شهيد دی.

۵: د خائن فاسق او کافر نوم هم اخيستل په ښيرو کې جايز دي.

۶: شهداوو ته الله اوچت مقام ورکوي.

۷: رسول الله صلى الله عليه وسلم اوچت ولي او وړپسې صحابه کرام اوچت اولياء وو، ليکن په غيبو نه پوهيدل.

۸: قنوت کې لکه څنګه چې مومنانو ته دعا کولې شي نو داسې کفارو او مشرکانو ته هم ښيرې کولې شي.

۹: د ملګرو په قتليدو او شهادتونو عزم بايلل نه دي پکار بلکه عقيدوي مبارزه مخکې وړل په کار دي.

۱۰: قران کې نسخ منل جايز دي له دې نه انکار د نقل او عقل دواړو نه خلاف دی، او دا بحث مخکې مونږ د نسخ په بحث کې ذکر کړی.

فليراجع من يشاء

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو په دې ګڼه کې هم زموږ د سنګر د علماؤ له لورې ستاسې څو پوښتنې ځواب شوې.

لومړی پوښتنه : دښځو جهادڅه دی ؟

جواب : بخاري په خپل صحيح کې باب إيښی دی باب " جهادالمرأه".

بیا ئې لاندې دعائشې رضي الله عنها حديث راوړی دی، چې دې دنبي عليه السلام څخه اجازه وغوښته، په جهاد کولو کې، پيغمبر عليه السلام وفرمایل : (ستاسې جهاد حج کول دي) او یوځل ئې وفرمایل : (ښه جهاد حج کول دي), همدارنګه دعائشې رضي الله عنها څخه ثابته ده چې دې وویل:(یا رسول الله موږ وینو جهاد افضل عمل دی ایا موږ جهاد ونکړو؟ پيغمبر عليه السلام وفرمایل : **لكن أفضل جهاد** " نېک حج دی".

لکه د ښځې لپاره مالي جهاد سته که چیرته ښځه مال ولري، چې دا مال مصرف کړي دالله په لاره کې پر جهاد او مجاهدینو باندې.

او د دغې مذکوره مسئلې د جملې څخه حاصل د هغه حديث شريف دی چې وايي نبي عليه والسلام په تبوک کې پر جهاد خلکو ته تيزي ورکړه، او ترغيب يې ورکړ او دجهاد په لاره کې ئې امر په صدقه سره وکړ تر دې چې ښځو خپل زر اوزېورات رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راوړل.

او که جهاد په معنا د قتال او میدان جنګ ته دکښته کېدو سي، نو دا قتال جهاد پر ښځو باندې واجب نه دی. دا قتال ورته جائز دی چې دمسلمانانو حاجت راسي دوی ته ، اودارنګه ددوی داسير کېدو څخه د امن حالت وي .

هو : د داسې حالت اندازه کول او معلومول يوازې رايي ته دامام (امير) سپارل کيږي. خو که دښمن په ناڅاپي توګه پر(مسلمان) قوم حمله وکړه او قوم ونه توانېده چه دفاع وکړي بې له شراکته د ښځو، بیا پر ښځو هم دا وخت قتال واجب دی.

دامسئله یاد کړه. والله اعلم

دويمه پوښتنه : زه يو مجاهد يم، زما پرذمه قرضونه دي، چې زما دپريشانۍ اوغم سبب جوړ سوي دي، او زما دويري سبب دي د قتل في الجهاد نه، مخکې تر برابرۍ ددې قرضونو. زه جنګونو کې نه مخکې کېږم د همدغې وجهې نه. زه چې کوم شی (نفقه) لاس ته راوړم هغه مې صرف د روزمره زندګۍ کفايت کوي، دقرض ادا ينه ترې نکيږی، او زه اوس د جنګ ساحه کې یم، زه اوس څه وکړم؟ او آيا زما وېره د مرګه څخه مخکې تر قرض برابرېدو ښه ده؟

جَوَاب: په صحيح مسلم کې حديث راغلی دی(إن الله يغفر للشهيد كل شيء إلا الدين) ترجمه : (الله تعالی شهيد ته هر شی

بخښـي غـير دقرضـه) لکـن وعيـد مذکـور پـه حديـث شريـف کـې خـاص دی دهغـه چـا بـاره کـې چـې طاقـت د قـرض داداکېـدو ئـې ؤ خـو ادا ئـې نکـړ ، دې بـاره کـې زيـادة راغـلی دی پـه مسـندأحمد او بـزار کـې (فلـما ولی دعـاه فقـال: إلا أن يكـون عليـك ديـن ليـس لـه وفـاء) ترجمـة : (کلـه چـې هغـه سـړي مـخ واړاوه راوئـې بلـی، اوورتـه ئـې وويـل : مګـر کـه پـر تـا قـرض وي چـې وفاء(ادايـنـه) ئـې نـوي {سـتا سره})

امـام قرطبـي ويـلي دي هغـه قـرض او ديـن چـې خپـل صاحـب دجنـت څخـه را بنـدوي" واللـه اعلـم "هغـه ديـن دی چـې صاحـب الديـن د ادا کېـدو انـدازه مـال پـرې إيښـی وي خـو وصيـت ئـې نـوي کـړی، يـا د ادا کېـدو وسـع ئـې پيداکـړې وي خـو ديـن ئـې ادا کـړی نـوي ، يائـې قـرض د اسراف او بېعقلـۍ لاره کـې اخيسـتی وي بيـا مـړ سي خـو ادا ئـې نکـړي، اوکـه چـا د فقـر او لـوږې د وجهـې قـرض اخيسـتی وي او مـړ سي، وفـاء (د ادا کېـدو انـدازه مـال) پـرې نـردي، اللـه پـاک بـه يـې لـه جنـت څخـه منـع نکـړي. ان شـاءالله.

دوهمـه خبـره : پرقـرض دار مجاهـد واجـب ده چـې د صاحـب الديـن څخـه پـه جهـاد الطـلب کـې اجـازه واخـلي ، أماپـه جهـاد الدفـع کـې لکـه زمـوږ زمانـه کـې، بيـا پـروا نـه کـوي چـې بغـير داجـازې د صاحـب الديـن جهـاد وکـړي. دپې وجهـې امـام ابـن النحـاس پـه مشـارع الأشـواق کـې داختـلاف ذکـر کېـدو وروسـته پـه مسـئله کـې د جـواز د وتلـو د قرضـدار مجاهـد جهـاد تـه فرمايـي (وهـذا کلـه في الجهـاد الـذي هـو فـرض کفايـة) ترجمـة : داټـول پـه فـرض کفايـي جهـاد کـې دي، واللـه أعلـم.

دريمـه پوښـتنه : الله تعـالى وايـي (لا يسـتوي القاعـدون مـن المؤمنـين غـير أولي الـضرر والمجاهـدون في سـبيل الله) ژبـاړه : [برابـر نـدي دجهـاد څخـه ناسـت مؤمنـان چـې صاحـب الـضرر (معذوريـن) نـوي، او مجاهديـن في سـبيل اللـه] ايـا معـذوره خلـک د مجاهدينـو سره پـه اجـر او درجـه کـې برابـر دي؟

جـواب : أهـل الأعـذار يعنـي معذوريـن هـم دغـه أهـل الـضرر دي ، لکـه مريـض، وصاحـب الافـت، لکـه ړونـد اوګـوډ يـا د دوی پـه مثـل سره .نـو دا کسـان کـه چيـري عـذر دوی رامنـع کـړي دجهـاده او نيتونـه ئـې صحيـح وي نـو دوی تـه دجهـاد ثـواب سـته لکـن پـه داسـي درجـه چـې د مجاهـد د درجـې څخـه بـه ئـې درجـه کښـته وي، اللـه تعـالى فرمايـي (فضـل الله المجاهديـن بأموالهـم وأنفسـهم عـلى القاعديـن درجـة وكلاً وعـد الله الحسـنى وفضـل الله المجاهديـن عـلى القاعديـن أجـراً عظيـماً)،ژبـاړه : اللـه تعـالى هغـو مجاهدينـو ته چـې پـه خپلـو مالونـو او نفسـونو سره جهـاد کـوي فضيلـت ورکـړی دی، پـر ناسـتو کسـانو يـوه درجـه . او...

ابن عباس په تفسير ددغه آية کې فرمايي :

(هغـه ناسـته کسـان چـې مجاهديـن پـر دوی يـوه درجـه فضيلـت لـري ، هغـه معـذوره خلـک دي او هغـه ناسـته کسـان چـې مجاهدين پـر دوی ډيـر ي درجـې فضيلـت لـري، هغـه بـې عـذره کسـان دي ، واللـه أعلـم.



څلورمه پوښتنه :

آيا د طالـب العلمی، دنيوي کار او مزدوری پـه خاطر د حرمينو شريفينو ښار تـه تلل جائز دي؟

جَوَاب:

دار کفـر او دار الـردت تـه داوسـېدني پـه نيت، د کاروبـار ياطلب العلمـی پـه غـرض، سـفر کـول جائـز نـدی دهغـه چـا لپاره چـې دخپـل ديـن د شـعائرو پـر اقامـت او سـيده کېـدو قـدرت نلـري، او د کفـر او کافرانـو څخـه پـر اعـلان برائـت قـدرت ونلـري ، همدارنګـه د هغـه چـا لپـاره دغـسي د مذکـوره فتنـې ځـای تـه سـفر جائـز نـدی چـې دده سره دومـره علـم نـه وي چـې دفـع د هغـو شـبهاتو وکـړي، چـې د مرتـدو طواغيتـو د شـيوخو او د دوی د ميډيـا لخـوا وارديـږي ، مـوږ وينـو هغـه څـه (فتنـه) چـې اوسـېدونکو ددې ښـارونو تـه ورانـدې کيـږي، د نـاکاره ملايانـو لخـوا، چـې هغـه (فتنـه) د طواغيتـو د تعظيـم نظريـه، او پـر دولـت الخلافـة بانـدې د لويـو لويـو نـاروا کرنـو تهمتونـه دي، او دا چـې اسـلامي خلافـت تـر يهـود او نصـارا زيـات شر دی اسـلام او مسـلمانانو تـه، او د عامـو خلکـو تشـويقول د خلافـت پـر ضـد جنـګ او بغـاوت تـه، او داسـې نـور تحريفـات او تضليـلات چـې د عوامـو پـر ذهـن لويـږي، او دا حـال پـر ډېـرو هغـو عوامـو تاثـير اچـوي، څـوک چـې دغـه ښـارونو تـه شـوق لـري د مـال د وجهـې، او د خپلـې ولاء او بـراء او د شـعائرالدين د متأثـره کېـدو غـم ورسره نـه وي.

نـو د داسـې خلګـو لپـاره وتـل د داراسـلام څخـه د فتنـې او ارتـداد وطـن تـه جـواز نـه لـري. واللـه تعـالی اعلـم.

څلورمـه پوښـتنه : يـو ځـوان د جهـاد اراده لـري خـو کورنـی ئـې لـه جهـاده منـع کـوي، ايـا دغـه ځـوان تـه د کورنـی څخـه تېښـته کـول جائـز دي چـې دمجاهدينـو سره يـو ځـای شي؟

جَـوَاب: بلـې هـو، کلـه چـې جهـاد فـرض عيـن شي لکـه څنګـه چـې اوس فـرض عيـن دی، بيـا د مـور او پـلار او کورنـۍ څخـه اجـازه اخسـتل واجـب نـه ده، اجـازه اخسـتل هغـه وخـت واجـب ده چـې جهـاد فـرض کفايـي وي پـه جهـاد طلـب صـورت کـې. اوجهـاد پـه څـو حالاتـو کـې فـرض عيـن ګرځـي ، لکـه (د دښـمن دحملـې او هجـوم ددفعـې حالـت کـې، همدارنګـه د امـير لخـوا د نفـير عـام د امـر حالـت کـې) او دا درواړه حالتونـه اوس موجـود دي ، واللـه تعـالى أعلـم.

د الله عزوجل

په اياتونو ايمان راوړه

سمه لاره به ومومې!

إن الحمدلله نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله؛ فلا مضلَّ له، ومن يضلل؛ فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أنَّ محمدًا عبده ورسوله، صلَّى الله عليه، وعلى آله، وأصحابه، ومن تبعهم بإحسان، الى يوم الدين ما بعد:

بيشكه ټول د الوهيت صفتونه الله لره دی، د هغه ثنا وايو او د هغه څخه مرسته او له هغه څخه ښښنه غواړو، او هغه ته توبه اوباسو او پنا نيسو. د الله تعالی به ذات د خپلو نفسونو او د خپلو بدو عملونو د شرونو څخه ځوک چې الله په سمه لار روان کړي د هغه دپاره بې لاری کونکې نه شته او ځوک چې الله بې لاری کړي د هغه دپاره په سمه لاره روانونکې نه شته، گواهی کوو د دې خبرې چې نه شته لائق د عبادت مگر يو الله دې او شريک نه لري، او گواهي کوو په دی خبره چې يقينا محمد صلی الله عليه وسلم داالله بنده او د هغه رسول دې.

د دی نه پس يقينا د توحيد زده کړه په ټولو زده کړو کې ډير شرف لري او په ټولو علومو کې د دی مرتبه ډيره د قدر وړ ده. او په ټولو زده کړو کې د وجوب په اعتبار ډير کلک واجب دی. د مقصد په لحاظ سره، ځکه چې دا د الله تعالی د ذات پيژندنه ده، او د هغه د نومونو او د صفتونو پيژندنه ده، او په بنده گانو باندی د هغه د حقوقو پيژندنه ده او چې کومه لاره الله تعالی ته ورغلې د هغې کونجي(کيلي) ده او د ټولو شريعتونو بنسټ دی.

همدا وجه ده چې ټولو پيغمبرانو دی ته بلنه ورکړيده. الله تعالی فرمايلی: وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلاَّ نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدُون الاية

ژباړه: مونږ نه دی ليږلی پخوا ستا څخه هيڅ يو پيغمبر مگر مونږ هغه ته وحې کړی د دی خبری چې نشته لايق د بندگۍ مگر زه يم نو زما عبادت وکړئ.

او.الله تعالی پخپله پخپل يوالي گواهي کړيده او.ملايکو او د علم خاوندانو ورباندې هم گواهي کړيده، الله تعالی فرمايلی:

نور مؤمنانو ته د دغه غونډو اصلیت، د دغه غونډو د تمویل سرچینې او د دغه غونډو اساسي اهداف معلوم دي، چې بار بار یې اسلامي امت ته هم د دوی رېښتیني څېره بربنډه کړې او دا یې ورته په ډاګه کړې چې د علماوو په نوم دا د اسلامي امت لپاره تر ټولو ناوړه شرمخان دي چې په ټول توان سره باید د دوی له مکر او فریب څخه ځان وساتي.

وحشت عام شوی

چوپه چوپتیا ده د هر چا زړه کې کیسه پرته ده.
وحشت عام شوی پر مؤمن یې اندیښنه پرته ده

***

هر څوک ډاریږي د حق چیغه یې له خولې نه وځي
هر ځای کې ظلم د دښمن لاس کې نیزه پرته ده.

***

شهید جانان مې په سینه باندې زخمونه راوړل
راسره نښه کې یې په وینو سره چانټه پرته ده.

***

نا داسې نه ده انتقام به یې ضرور اخلو.
هېر مو لا ندي د هر درد څړیکه په زړه پرته ده.

***

رابه شي خامخا سبا او سپین سهار په نړۍ.
صبر کوو به که یې منځ کې توره شپه پرته ده.

***

ګلان به وسپړي غوټۍ د پسرلي چمن کې
بې صبره نه شئ لرې نه ده، څه موده پرته ده.

لنډه کیسه

ترږي غازيان

موږ يو وخت د خپل معمول مطابق ديو دروند کار په تکل له خپل پټنځای څخه وتلي وو او د امارتي مشرکينو ساحې ته ننوتې وو، په دغو ورځو کې زموږ خوراکي توکي هم خلاص وو، نو له ځان سره مو هيڅ خوراکي څه شی نه درلودل، د يو غر په شنه سرسبزه لمن کې مو شپه راغله ملګري کم وو، بيا هم د اوصولو مطابق موږ د خپل احتياطي تدابيرو په نيولو سره ملګري دوه تقسيمه کړل، د ماسختن وخت مو صلاتين په تيمم وکړل، پهره مو تقسيم کړه او ځينې ملګري ټاپ ترلي ويده شول، مزل مو ډير کړی وو وجودونه مو سم خوله خوله وو ، وږي هم وو، خو تنده له لوږې زياته وه له سهار راختو وړاندې پهردار راجيګ کړو ويل يي : پاڅی تهجد به هم وکړئ ، او بيا د سحار له لمانځه لپاره ځانونه اماده کړئ ، موږ مات رامات داسی حال کې جيګ شو ته به وايې چې بدن مو چا په پړو ترلی ،لا پرونی ستړيا نه وه وتلې تيمم مو وواهه ، د ډرون اواز مو تر غوږه شو ، د شنو ونو بيخونو کې په ناسته لمونځ ته ودريدو د ډرون اواز وخت په وخت را زياتيده ، تعجب مو وکړ چې داسې بې وخته ډرون راتلل او بيا اوسني وضعيت کې؟

موږ د تهجدو پسې د سحار فرضي لمونځ هم اداء کړل، اذکارو کې بوخت و چې د غرونو په سرونو او لمنو کې رڼايي خپره شوه، موږ هم د يو اوچت غر په لمن کې وو چې لاندې ټولې پراخې منطيقې مو د نظر لاندې وې، په پاخه سرک به تلونکي او راتلونکي موټرونه هم راته ښکاريدل، په ځنډ کې به د مرتدينو موټرونه هم تيريدل، لمر هم خپلې وړانګې د غره لوړو ژورو ته ورسولې، موږ چې د خوراک لپاره هيڅ هم نه لرل ، نو نور راباندې ټاپونه هم درانده شوي وو، خو د ډرون پرلاپسې دورو فکر مند کړو، ځکه کله به چې طالبانو په دې سيمو کې عمليات کول ، نو دوه ورځې مخکې به ترږي حتمي ډرون ګرځيده ، مکمل ساحې به يې کتلې،

نو موږ هم پدې فکر شو چې بيا کومه نوې کيسه شته، ځينې ملګري بيرته ويده شوي وو ، زه له خپل ځايه لږ ليرې لاړم انټرنيټ مې خلاص کړ چې کومه نوې خبره خو به نه وي، خو لا څه نه وو ويلې، جيب ته مې لاس کړ ساده مبايل مې راواخيست ، سيم او بطري مې ور واچول ځينو ملګرو سره مې تماس ونيوه نو د خبرو په پيل کې هر يو همدا پوښتنه کوله چې چيرته ياست؟

له ساحې ووځئ او ملګري مو محفوظ کړئ.

مال خير خو به وي څه خبره ده؟

دلته خو خيريت دی الحمدلله.

هغوی راته کړل چې دا خبيثان لکه چې ستاسې له راتللو خبر شوي ، طالبان ډير په غټ تعداد راجمعه شوي له پنځه طرفه په تاسو پسې عمليات کوي او دا عمليات له نورو څخه مکمل بدل دي! !!ما حسبناالله وويله او بيا مې ورته په خندا ورغبرګه کړه چې الله به خير کړي موږ د دې حالاتو سره له پخوا بلد يو، خو تاسو تازه معلومات موږ سره شريکوئ ، موږ هر وخت رابطه کې نشو راتلای ډرون ډيره ګرځي، راغلم ملګري مې رابيدار

کړل خبر مې کړل چې داسې کیسه ده، مشوره کوو چې څه وکړو؟ د ملګرو چرت هم خراب نه و، ویلې هسې هم د دوی مرګ پسې راغلي یو یا موږ پسې راغلي یا موږ ورغلي باک نه لري .

خو بیا مې هم ورته وویل هر کار یو پلان اوتدبیر غواړي مشوره به وکړو، دا ځاې مناسب نه دی، ځاې موبدل کړ بل ځای ته لاړو ،د ګڼو ونو لاندې مو مشوره په جنګ راغله چې جنګ کوو توکل په الله، ځکه چې موږ هر طرف ته ځو په دوی مو لار ده، نو ښه به دا وي چې همدې ساحې کې د کمین ترتیب جوړ کړو خو دشمن نهایت زیات راغلی که بیخي جنګ ته مجبور نه شو، نو ښه ده چې له جنګ هم ډډه وشي ځکه چې ددوی منځ کې یو، شهیدان خو خیر خو دا هم ممکنه وه چې ملګري زخمیان شي بیا د هغې انتقال او تاداوي هم یوه مسله وه نو خبره داسې شوه، که بیخي بله چاره نه وه نو خه لیونې جنګ کړو او که مو له جنګه پرته هدف لاس ته راتللو نو بیا له جنګ ځان ساتو او کوم مقصد پسې چې راغلي یو هغه به د الله په فضل ترلاسه کوو، د ورځې پیل و چې کتل مو طالب ظالمانو د عوامو له کورونو لوګي پورته کړل، زیات یې بې رحمانه ووژل ،مالونه یې ترې یوړل، کورونه یې ورته چور کړل، حتی د زنانه و طلا یې پرینښودله، جرم یې دا وو چې دلته د خلافت والا لیدل شوي، تاسو ورسره سلام کلام کړی، خو موږ باندې هم نوره ولږې غلبه کړې وه او ټوله ورځ موانتظار وکړ که دشمن زمونږ طرف ته حرکت وکړي ملګري ورته منظم ګوته په ماشه ناست وو.

په لاندې سیمو کې د چنګیز خان لمسو او د هلاکو خان بچو په عوامو یو هلاکت ګډ کړی و، د چایي کور سیزه، له چا به یې مال مخکې کړی وو، څوک به یې له ځانه مخکې کړي وو، چې هلځ داعشیان راوښایئ بس ما ته هغه د روسانو د یرغل اولني حالات رایاد شول، نیکه مې کیسه کوله چې کله روسان اول راغلل نو دلته یې هیڅ زنده سری نه پریښود، او که انسان به یې ولیده نو هغه به یې سم دستي واژه، نو دوی هم هغوی ته ورته کړنې شروع کړې وې خپله کامیابي یې د عوامو په قتل عام کې لیدله، له دوی همدا تمه کیدای شي ځکه چې مشرانو یې هم د میلونونو مسلمانانو له قاتلانو روسانو او د یغور د میلونونو مسلمانانو له قاتلو چینایانو سره داسې خوږه دوستانه لري ته به وایې ټول عمر یې ورسره په یو کلي کور کې تیر کړی دی .

ماته دهغې دجملي نه د زیاتو خلکو نومونه یاد دي، کوم چې یې بې رحمانه ووژل او مکمل بې طرفه خلک وو که د دوی په مظلومیت غږیدل به دا کیسه زیاته اوږده کړي خو حتی په دغو ورځو کې طالبانو هغه خلک هم ووژل چې دوی سره په لیکو کې وو او د خلافت د مجاهدینو ګمان یې وربانديې کاوه، یو کس یې داسې هم وواژه چې ستا شکل داسې په سنت طریقه جوړ غوندې ښکاري داعشي معلومیږې او عجیبه خو لا دا وه چې طالبانو سره هغه خلک راغلي وو چې په دغه سیمه کې یې شخصي دښمنۍ تیرې شوې وې ،هغوی به راغلل د خپل شخصي دشمنۍ پور به یې واخیست، د چا به یې دکان وسیزه د چا کور او د چا باغ او څوک به یې ووژل خو د پوښتنې څوک نه و .

ترماښامه ملګري دکمین حالت کی وو خو مرتدین رانغلل بیاملګرو مشوره وکړه چې دغه لاندې کلي ته ښکته کیږو توکل په الله چې د خوراک څښاک څه بندوبست وکړو خو تورتم شوی وو سپوږمۍ هم په دغو شپو کې زموږ په څیر مسافره شوې وه ، نو لاره رانه خطاشوه په یوګړنګ وربرابر شو، د ملګرو مشري هم زما په غاړه وه له دوی مخکې روان وم، ملګري هم ټول نابلده وو په یو ګړنګ مې ځان ورخطا کړ، د ترې بیخ ته چې ورسیدم ملګروته مې ورغږ کړ: ماپسی مه راځئ، د ښخولو کار خو مو اسان دی، خو ګوره د زخمیانو چاره نشته راسره .

ملګرو کې یو تن راغږ کړ: یاره یو خو ستا هر وخت طبعت برابر وي، دګپ وخت هم معلوم وي، مونږ په څه حال یو او ته لګیا یې خوش طبعي کوې.

زه خندا واخیستم مال دا خو زموږ ژوند دی کنه یارانو!! ټول عمر مو په همدې لوړو، تندو تندکونو او کړاونو کې تیریږي زړونه به خوشاله ساتو .

بس څه به دې سر خوږوم خو لاړو یوځای کی موشپه وکړله د خوراک خو هسې هم څه پیدا نه شول خوپه دغه غر کې مو اوبه هم پیدا نکړې، داسې ځای کې مو واړول چې دا اوس د طالبانو مرکز دی ټوله ورځ او شپه همدلته پاتې کیږي، خو موږ خبر نه یو نو په منځ کې مو ورته واړول ،له موږ ګیر چاپیره ټول اخوا دیخوا غونډیو کې دشمن دی لاندې نږدې فاصله کې هم دشمن دی زموږ هم دلته شپه راغله پهره مو تقسیم کړه تیږي مو بالخت کړې په لاسونو مو ازغیاو تیره کاڼي یو خوا بل خوا کړل پریوتو، د سهار لمونځ نه پس مو ځای بدل کړ د یو کمرلاندې کیناستو فضا هم انتهایي خرابه وه، ډرونونه هم نهایت رازیات شول ، موږ هم د داسې کمر لاندې شو چې هیڅ د پټیدو امکان نشته چې سړی لږ پناه شي، که لږ هم زموږ په طرف څوک راوګوري ښکارو ورته، دا ساحه د جګړې لپاره هم بیخي مناسبه نه وه، له ډرون څخه مو هم پټیدل ضرور و .

ډیر وړوکی ځای وو ټول ملګرو پکې ځانونه ورځایه. کړل فقط زه پاتې شوم ،خو چی پورته مې وکتل دکمرمنځ کی بره طرف ته وړوکی سوری شان وو ،په هغی څه په زور اوخوارۍ وربره شوم هلته می دومره ځای پیداکړ چی په ناسته پکی ځاه شوم،موږ ته ملګري د داسې ځای درک راکړې و چې دغه ځاې ته ډودۍ او اوبه دروړم خو موږ د ملګري راوښودل شوې ځای غلط کړې و، هغه لږ لرې و او د ورځې هغه طرف تلل نه کیدل ،لږ وخت پس چاچې راته ځای ښودلی و او د خوراک راوړلو تمه یې راکړې وه ،هغه هم راغی ورغږ مې کړ : واهلکه تش راخوشی یې؟

ویل هرڅه به وشي، زه لږ کار لرم اودا بوتل کی اوبه دي درسره یي واخلئ، دا نو داسی ګرمي ده چی

په يو بوتل ګزاره امكان نه لري د ملګرو په يو بوتل كار چيرته كيده او بوتل هم نيم وو خو سړی لاړ او واپس بيرته رانغی موږ سره د هغې انديښنه پيدا شوه .

چی ګورو طالبان راغلل مونګ نه پوري غاړه كورونو باندې چاپه ووهله پداسې ظلم او وحشت سره چی دزنانو ژړاګانی يي موږ د غره په دې كمر كې واوريدلي ملګرو ويل جنګ پرې كوو

خومشوره داسې وشوه چی كاركه پري وكړو، نو دې عوامو ته به نور كار هم وګورو موږ خو به خپل هدف ترلاسه كړو سبا به ځو خو دوی ته به مشكل زيات كړو، بل دښمن هر طرف ته خور دی ، ملګري هم په ساحه كې نابلده دي ،ملګري خرابيږي رانه ، د همدغې چاپې په جريان كې يوملګري سره چې دوربين په لاس كې و راغږ كړ: ورورو دا خبيثان همدا زموږ طرف په دوربين كې راګوري او اشارې هم كوي، لكه چې موږ يي هم وكتلو ، نو دې خبرې سره مو اراده وه چی منظم شو ، ترڅو چی هغوی حركت راكوي چې وربانديې ورمخكې شو،خو هغوی لا موږ نه وو ليدلي دحالاتو نه مو معلوم كړل چی غافله دي ،نو يو ځل بيا د ولږې چپي سختې شوي ، ځكه دعملياتو شپه په نهره او ورپسې ورځ اوبله شپه او دا اوس بله ورځ ده ،دوه شپې اودوه ورځي وشوې چې خوراک نه لرو او لږې ګرمې اوبه لږ مخكې راورسيدې .

نو ملګري ولږې نور سخت وځپل ، خو ټول نهايت مطمين و ، يو بل ته به مو ډاډ وركاوه حوصلې مو په ځآی وې، دغه وخت لرې مو په غره كې يو عام سړې خپلې رمې پسې روان وكوت ، يو ملګري غږ كړ ياره دې ماما خو به هم نن ډوډۍ خوړلي وي، بل ملګري ورته كړل : د وږي له غوږه تل د ډوډۍ ټپار راځي .

ټولو ملګري وخندل .

ما ورته كړل: كله چی يو كس باندې راحت وي، نو د بل د تكاليفو احساس ورته نكيږي ، همداسی مشكلات هم دي كنه ، همغه دنياده ،هرڅه فعاله دي، صرف په يو څو مومنانو لږ امتحان دی ، د مجاهد درجې خو په همدې لوړې وي.

خودا ورځ د لوږې له امله په موږ ډيره اوږده شوه ، بله مشكل دا و چې ډير تيز لمر و ،موږ د غرونو له څوكو هم لاندې راكيوتې يو ، او دا ساحې نظر د غرونو سرونو ته ګرمې دي ، په ځېنو ملګرو لمر مخامخ شو ،يو ملګرې بيخي لمر ته ښكاره و ، له لاسه مې ونيو خپل طرف ته مې كړ مال راشه دلته لږ سيورې شته، د كمرشاته دواړه كيناستو او ملګروته مې وويل يو يو راځئ نو هلته سره جمع شو خو په همدې سختو حالاتو كې ټول ملګري داسې په اطمنان و چې ورته حيران وم ، ټولو داسې فكر كاوه لكه خپل كور كې چې د مآښام دسترخوان ته ناست وي .

ملګروته مو ويل اوبو سره ګزاره كوئ كه جنګ سره مخ شو ،خرابيږو ، خو هماغه د وړوكي بوتل لږو اوبو ايله ماښام ته قريب كړو، يو ملګري سره مې رابطه وكړله په ټوكه مې ورته وويل : اشنا نن دې څه شې وخوړل ؟

لنډ ځواب يي راكړ : بس زه پوه شوم ورورہ الله به خيركړي.

مال نو مونږ په تمه شو.

بس نور ماخام شو ډوډۍ والا ته مې ځای ښودلی وو چی لږ بره وختلو، ملګری الله همدغه وخت راورساوه ، چی ګورو وچه ډوډۍ اودوه بوتلو كې اوبه او يوپلاستيك كې لږه تركاري را اخستې وه ، ملګرو ډوډۍ ډيره په شوق وخوړله خو تركاري ختمه شوه داوبوسره مو په ډوډۍ شروع كړه، ترڅو ډوډۍ خلاصيدله اوبه هم ختمې شوي وي ځكه ډوډۍ سړه وه او موږ تږي و بيغير له اوبو څخه ډوډۍ نه تيريدله .

ملګرو ته مې وويل : اوس خو مو په خوراک لږه ګذاره وشوه اوس نو په خپله دوه كسه راولاړ شئ چې په كوم طرف لاړ شو او لږې اوبه چرته پيدا كړو .

ټول ملګري تيار شو خو ما ترې دوه كسه راواخيستل حركت مو وكړ چې چېرته لږې اوبه پيدا كړو.

چی اوبوطرف ته روان شو ګورو شل پنځه ويشتو پوري رڼاګانی زموږ په طرف راروانې دي، نو زموږ هم اوبه په قسمت كی نه وې كوم ملګري چې ډوډۍ راوړې وه ، هغه ملګري راته يو بل ځای وخوده چې هلته به پخوا وختونو كې اوبه وې ، كه هلته ورشئ اوبه به وي، هغه وځښې خو لاندې تللو څخه تير شئ موږ دښمن ته افشا كيږو مال خه سمه ده نو واپس لاړو ملګرو خواته ، خودومره تنده زياته شوي چی د حركت توانايي نوره نه لرو، ځكه ګرمۍ كی مو ورځ تيره كړه، بل دغنمو ډوډۍ هم ګرمه ده او اوبه نشته او مزل راپه غاړه دی بايد له دې ساحې څخه ووځو.

خومشوره كوو چې هرطرف دښمن دی ،كوم طرف ووځو داالله مدد ته ګوره چی زمونږ د تسلۍ لپاره څنګه اسباب برابروي، دغه سات كې مې مبايل ته سيم او بطرۍ ورواچوله، سمدستي د يو ملګري زنګ راغی ويل يي حالات موڅنګه دي؟

بې له ځنډه مو ورسره ټول حالات شريک كړل .

ويل يي دومره كولای شم چې فلانۍ ساحې ته شئ، زه درته بندوبست كوم خو موږ هم ورسره كلكه وعده ونكړه فقط دومره مو ورته وويل بيابه رابطه كوو، د اوبوپه طرف موحركت شروع كړ لږ ځاې مومزل وكړ يوملګري غږ وكړ مونږ پسي وروسته څوک راروان دي حركت محسوسوم ، مال بس منظم شئ دكمين شكل كې ، چې هر څه وو وربسم الله كړئ وربانديې ديكې به خير وي ان شآءالله ، نو لږانتظار نه پس مو بيا حركت شروع كړ نو يوطرف خو تورتم دی مخه نه ښكاري بل طرف ته د دښمن انديښنه ده چی هرځای ته دښمن ختلې ، چې چرته ورسره مخ نه شو او كوم هدف پسې چې راغلې يو هغه پاتې نه شي ، خوتوكل په الله روان يو.

هغه كس چې كومې اوبه راته خودلې وې، يو خو نهايت زياتې ليرې وې، بل دا چې موږ ته په دغه توره شپه كې دقيق ځای هم نه رامعلوميده او دا پته هم موږ ته نه وه چې اوس به وچې وي او كه وي به؟بس تمه مو ترې قطعه شوه، په توره شپه كې نور هم تندې وهلي راستانه شو ، دا شپه هم په دغه حال كې سبا شوه په سهار چې ګورو د چنګيز لمسيان د عوامو په كورونو راروان دي، نوملګرو ويل جنګ پري شروع كوو ، مال جنګ نه كوو داخو داسې ظالمان دي چې صرف بهانه غواړي ، نو زموږ د جنګ له وجې به د كورونو والا ټول شهيدان كړي، خپل ځان كيسه كې نه يو خو دعوامو مسلمانانو خيال ساتل پكار دي، بل دا چې د تندې له لاسه نور حركت نشو كولای ، موږ هم د مرتدينو د ظلمونو دغه لمحې له ورايه ننداره كولې، خو د تندې د لاسه زموږ طاقت هم نور ختم شوی وو، چی كوم طرف ته حركت وكړو ، بس همدلته يوه شيبه څملاستو خوب هم د تندې له وجې تښتيدلی و، د ګرمۍ او تندې له وجې ملګري څملي خو بيرته پورته شي او كله اخوا ديخوا قدم ووهي را ووهي، څه شيبه پس ددې ځای نه هم روان شو مخې ته مو نيغ پيچومی

دی څه په زورونو وروختلو ،اوس یوځای کی اوبه دي او دا اوبه د یو کس کورته نزدې دي، کور والا هم نری خبر کړی ، په حجره کې یې طالب مرتدینو اړولي دي، خو موږ دغه اوبه په نظرکي نیولي چی ځان به ور رسوو چې هر څنګه کیږي.

خومزل داسی حال ته رسولې یو چی دتندې دلاسه نور دژوند اخري شیبي محسوسوو، ژبې مو داسې کلکې شوې لکه په خوله کی مو چی د لرګي تخته نیولي وي. اویا مو د رخت ټوټه خوله کې وي، په تیر انقلاب کې هم دومره سخت امتحان سره نه وم مخ شوی، مخکې که امتحانات سخت وو ،خو د خوراک څښاک ترتیب به یو څه برابر وو تنده به دومره نه اوږدیده ، خو اوس یو بل قسم حالات دي، موږ هم سره له دومره تندې خپل سفر نه ودراوه ،اوبو ته نور ورنیږدې شو، خو د ملګرو اوبو ته اوس دومره عجله ده چې هره دقیقه پوښتنه کوي چې دا اوبه چرته دي څنګه نه رارسیږي .

ورته مې کړه : راځئ چی رسیدلی نه یاستی بله چاره نشته یوځل خو دغره سرته وختلو او بیا په بل طرف ورښکته شو ،څنګ کی لنډه لار وه خومشکل دا وو چې دشمن راته نږدې و اوګړنګ و، لاره چاته معلومه نه وه ،له دي وجې نه د غره په سر لاړو، چی په بل طرف ورښکته شو یو اندازه مزل مو چی وکړ اوبو ته نور هم ورنیږدې شو ملګري نو نور بي اندازی خراب شوي وو.

یوکس ته می وویل: ورشه اشنا ته لږ راته تر نورو تکړه ښکاره شوې او اوبه هم درته معلومې دي ، پخپله به یې هم وڅښی اوملګرو ته به یې هم لږې مخې ته راوړې ، اوس صرف پنځه دقیقې لاره اوبو ته پاتی خومونږ ته داهم یوغټ چانس معلومیده ، پنځه دقیقې مزل مو هم نور نه شو کولای ، او د ټولو هیله همدا وه چې دا اوبه لږې یوقدم رانږدې شي هم خه ده ، خو ددغه ملګري هم نور اوبو ته صبر تمام شوی وو، پري ورمنډه یې کړه ،ملګرو ورته یقیني ډیرې دعاګانې وکړلي ،لږ وخت وروسته ګورو دغه ملګري د نورو ملګرو مخې ته اوبه راورسولې ، زیړه بوشکه یې نیماېي راډکه کړې وه ، ملګرو ته یې اوبه ورکړې .

مال هرملګري ته دومره اوبه ورسوئ چی فقط څوقدمه مزل وکړي او خپله د اوبو چینې ته ورسیږي.

خوالحمدلله ډیرکارپرې وشو

دالله ډیر حمداو ثنا مو وویله ، له لږې دم وروسته د چینې په طرف روان شو .

خوچی اوبوته ورسیدو ملګري دومره خوشحاله شول لکه فتحه چی ورنصیب شي (داحالات هغه کس محسوسولای شي چې دغسې حالاتو سره مخ شي)

ښه پریمانه اوبه مو وڅښلي ، د اوبو نه لږ جداشو او د ځنګل لمنې ته ورپورته شو، توره شپه وه داسې کرار ویده شو لږه یو وړې تږې ماشوم چې مور شیده ورکړي اوبیا یې ویده کړي داسې ارام خوب مو وکړ ،دشمن سره په دومره فاصله کې یو چې د هغوی تیزې خبري هم اوریدل کیږي ، خو الحمدلله زموږ په زړونو کې یو سکون او اطمنان وو چې تعبیر یې نشم کولای، شپه هم نوره مخه خه اخلي، موږ ته د دغه وخت خوب زیات ارام راوبښه، کله چې مو د سهارلمانځه ته ملګري راپورته کړل ، دلمانځه نه وروسته ملګري مو خپاره کړل ،مختلفو نقطو کې کیناستو کله چې لمر خپل ټول ګلابي مخ راښکاره کړ لاندې ټولې ساحې راته ښکاره شوې لاندې کورونو طرف ته مې کتل چی دا مرتدین څه کوي؟

تقریبا اتلس یا شل کسان د یو کور څخه ووتل اوښکته لاړل مادا فکر کاوه چې ممکن عملیات یې ختم شو، د هرطرف نه به ښکته شوي وي ، مبایل مې خلاص کړ خو دلته اوس موبایل کار نه کاوه ، د ډیرې ستومانۍ نه مې سترګی پټې شوې وې ، څه وخت پس چی راویخ شوم چی ګورم همغه کورونو طرف دري کسان راغلل خوګمان مې کاوه چی دابه ددې کورونو والا وي خو تشویش مې شو لږ وخت وروسته مې چې کتل یو لوی لښکر همدې کورونو طرف ته راغی کورته د رسیدو څخه وړاندې یې دغرونو په لمنو کې تالاشي شروع کړه، ته به وایې چې موږ ورته چا ور ښودلي یو، مرتدین لکه د لیونو سپو په پوره وارخطایۍ منډې رامنډې وهي ،کله د ونې بیخ ګوري کله پټې ګوري او کله نورې ګارې او بارې لټوي ، خو دا ټول هرڅه موږ مخامخ ګورو او ورته مخامخ ناست یو مرتدین همداسې پورته راروان دي .

له مونږ نه برطرف ته هم مرتدین دي ، خو فکر مو دا وکړ چې شاید کوم د راز والا کس نیول شوی وي او هغې نه یې زموږ معلومات اخستي وي، ملګرو سره رابطه هم نکیږي بس یو عجیب امتحان دی خو د رب له لورې په دې لاره کې هرې سړې او تودې ته په پراخه تندي تیار یو ان شآءالله، بس هر څه چې کیږي رب مو ګوري موږ یې هیر نه یو، هغه به یو چاره کوي، بل طرف موږ داسې یوې نقطې کې یو چې دجنګ لپاره مناسبه نده ، نو ملګري مې ځان پسې کړل مونږ نه پورته طرف ته چې کوم مرتدین دي ،هغوی ته موځان ورنږدې کړ او فکر مو وکړ چې که دا مرتدین راباندې خبر شي نوحتما به ورسره تر اخري سلګۍ پورې د یومنظم اوانغماسي جنګ مخ ته وړو ان شاء الله .

د بره طرف مرتدینو د محاصرې ماتیدو امکان وو ، که کوم ملګری الله ژوندی پاتي کړي نو مخه بیاخلاصه وه ځکه مرتدین په یو محدود ځای کې ناست وو.

نو دالله په توکل روان شو ملګرو وویل: بره ختل ګران دي، فکر مې وکړ چې هسې هم جنګ راباندې راځي نو همدلته ورته کینو خو دا فکر هم راسره وو چې داځای بیاداسې محاصره وو چی وتل تري یوطرف هم نه کیدل ،لنډه دا چې بره روان شو او داسې مخامخ یو مرتدینو ته چی دامو یقین دی ،چې مونږ یې لیدلي یو ، خو دجنګ لپاره به هغوی هم نقشه جوړوي اومونږ هم فکرمند یو نو داسې ښکاره ساحې ته دالله په مدد وراوچت شولو، بره لاره کې مو توکلي دمه وکړله، خو د څیړیو یخ سیوري دومره خوندور وو چی زړه مو تري ونه شو چی بره لاړشو ،مبایل مې خلاص کړ یو ،ملګري راته زنګ وواهه ،چې خلک رابطه کوي چې دا دبایډن نوې عسکر وایي : دلته موږ ته دخلافت مجاهدینو راپور دی دلته شته دې ، او حالانکې موږ چې کوم ځای کې ناست یو، نو تقریبا 40 یا دیرش متره کی مرتدین هم موږ ته نږدې د یو غونډۍ بلې څنډې ته ناست دي او مونږ یې خبرې اوریدلی ، نو پوه شو چې خلک نږدې دي نو موږ هم دلته ځای پرځای منتظرشو، فقط د جنګ انتظار مو کاوه اوږدې ورځې دي ګرمه هوا چلیږي اوبه هم په ختمیدو دي، ډوډۍ خو د تیرې شپې راهیسې نشته ، څه وخت تیر شو ورځ نیمایي تیره شوه خو مرتدین هم لا دلته دي.

کله چی ناوخته شو نو مرتدین زموږ طرف ته نور هم رانږدی شول زموږ شاته لوی کمر او بوټي وو، هغې پنا کړي وو ،خو بیخې نږدې وو موږ په پوره اطمنان سره دلته وو او مکمل د جنګ تابیه مو نیولې وه ، د څیړۍ بوټو په خال ،خال سورو کې به چې ښکاره شول نو د اسلحو میلونه به مو دهغوی په طرف کړل خو چې پوهه به شو له موږ څخه غافل دي نو موږ به هم ځانونه ورته غلي کړل، ماته د نبي صل الله علیه وسلم هغه د هجرت اولنۍ پیښه رایاده شوه چې غار ثور کې محاصره و، ابوبکر ورته ویل که لاندې طرف را وګوري نو موږ وینې ، خو نبی صل الله علیه وسلم ورته وویل : ای ابوبکره ستا په هغو دوه کسانو څه ګمان دی چې دریم یې الله دی؟

موږ هم څو ورځې پرلاپسې په دغو سختو حالاتو کې تیرې کړې، مرتدین هم نا امیده شوه کوم مقصد یې تر لاسه نکړ نو اکثره ترې په پټه په تیښته وو اخر یې هم خپل عملیات په داسې حال کې ختم کړل، چې هیڅ هدف په لاس ورنغی سره له دې چې د عملیاتو تر پایه ورسره بې پیلوټه الوتکو ملتیا کوله.

عملیات ختم شول موږ هم مطمین شو او دا دومره کړاوونه او سختۍ مو چې د کوم هدف د وهلو لپاره تیرې کړې وې هغې ته نیږدې شو، هدف مو هم بیخي مطمین شوې و ، د رب په مدد مو وربانډې چاپه ووهله الله پکې کامیاب کړو ، ملګرو ته الله غنمیتونه هم په لاس ورکړل، په سبا مو یو چیلی واخیست او نوش جان مو کړ .



بنیر (چمتو) تقبله الله

د افریدو میړنی

د هجرت تازه شپې مو وې، د مامند ښیرازه درې په لندۍ کلي کې مو واړول ، ژوند له عجیبه زړه راښکون او خوږو ډک شو ، د هر رنګ ، هرې ژبې ، هر قوم او هر وطن مهاجر په یو کلي کې د اسلامي دولت په تغر راټول و .

لکه څنګه مو جمات یو و داسې مو حجره هم یوه وه ، څنګه مو چې ژوند یو قسم و داسې مو هدیره هم یوه وه .

هو ! زموږ غم هم یو او ښادي مو هم شریکه وه ، خفګان مو هم شریک او خوشالي هم شریکه وه . زموږد ټولو د وینې رنګ یو رنګ و ، موږ ټول سره ورونه و ، زموږ تر منځ د ژبې ، قوم ، رنګ ، وطن په نومونو او معیارونو ویش او تعصب نه و .

کله به مو د ازبک مهاجرینو ورونو له ماتې ګوډې پښتو او خوږو کیسو او خوندورو خوراکونو خوند اخست او کله به مو د پنجابي او هندي ورونو په لیدو سترګې نه مړیدې ، کله به د یغور ، روسې ، عرب ، تاجکستان ، او د نړۍ د نورو شرقي او غربی قومونو او هیوادونو د مهاجرینو د ژوند ډول او رنګونو ته فکر وړې و او کله به مو بیا د پښتنو قبیلو شینوارو ، مومندو ، افریدو ، باجوړو ، اورکزو ، سواتو ، وزیرستانو او نورو قومونو د مهاجرینو او مجاهدو زلمو له خوږو مجلسونو خوښۍ ترلاسه کولې .

د اسلامي خلافت د بیرغ سیوري ته د راټولو ټولو قومونو د زلمو میړانې او سربښندنې د ستاینې وړ دي، دې زلمو په هر ډګر کې په خپلو حماسو د تاریخ بابونه ډک کړل ، کاش موږ دا توانایي درلودی چې د هر قوم د فرد ، فرد د میړانې ایثار او سربښندنې خوږې کیسې او ویاړلي کارنامې مو ټولې تر تاسې رسولاې شواې .

هو !

د همدې باعزمه مهاجرینو په ټولي کې یوه هم د افریدو قبیله وه ، ددې قوم زلمو د اسلامي خلافت په یو سنګر کې هم له نورو وروسته کیدل نه خوښول، په دې غیرتي زلمو هم د استشهاد کتیبې ابادې وې او هم پرې د اسلامي دولت د تمکین د دفاع لوړ او سخت سنګرونه اباد و .

ماته هم لله الحمد دا ویاړ حاصل دې چې د افریدي قوم د دې میړنیو بچو د څو شهیدو زلمو سره مې خوږه ملګرتیا تیره شوې ، چې له ډلې یې یو هم هغه څوک و چې د خراسان په لر ، بر کې د خپلو خایسته اخلاقو ، میړانې ، غیرت ، اخلاص ، صداقت ، همت ، نه ماتیدونکو ارادو او پیاوړو حوصلو له کبله زیات شهرت درلود .

هغه وخت مې لا نه و کتلی ، د هجرت د ژوند د هر مجلس بحث به یا په کومه دیني موضوع و او یا به د خراسان د جګړو په کیسو او حماسو و، چې په هره جګړه کې به د یو زلمي د غیرت او شجاعت ډیرې نادرې کیسې کیدلې ، دا زلمی چې خپل نوم یې بنیر او په چمتو مشهور و ، د افریدو د قوم د قمبرخیلو د قبیلې و ، او د خیبر باړه کې یې خپل کور او کلې و .

زما هم ډیره تلوسه وه چې چمتو به چرته ووینم ، اخر مې هم یو وخت د هسکې مېنې په ګورګورۍ کې ورسره ملاقات وشو ، له هغې مې ډیر خوږ او خه وموند څومره مې چې ددې په اړه اوریدلي و ، بیا مې ورسره وروري شوه خو چمتو سره د ډیرو مجالسو او بنډارونو وخت نه و ، چمتو به تل د جګړې په لومړیو لیکو کې و چې چرته به سخت جنګ او سخت سنګر و نو مشرانو به چمتو په همغه ځای ور اچاوه ، چمتو د هر ډول حالاتو سره تل مقابلې ته چمتو و ، چمتو لقب یې هم په همدې ګټلې و چې د مشرانو له لوري به ورته هر څومره د سخت کار امر وشو

نو سر به یې نه غړاوه وخت به یې نه ضایع کاوه ، همیشه به درنه چاڼته په غاړه او ډک ټوپک په اوږه و.

چمتو له کوچنیوالي له جهاد سره لیونۍ مینه درلوده ، ددې قبایلي زلمي په خټه کې غیرت پروت و ، په لومړي ځل د پاکستاني مرتد فوځ سره د جنګیدو شوق د وزیرستان تر سنګرونو ورساوه هلته د بهرنیو مجاهدینو سره یو ځای شو ، هم به د پاکستان د مرتد فوځ په خلاف جنګیده او هم به یې افغانستان ته د امریکایي درنده ګانو په خلاف تشکیلونه کول ، چمتو په وزیرستان کې په سینه د دهشکې مرمۍ هم وخوړې الله عزوجل له دې سختو ټپونو روغ کړ ، خو د جهاد جذبه یې سړه نه بلکې لا توده شوه .

چمتو خپل کلي ته راستون شو ، دا مهال ددوی په خیبر دره کې اې ایس آي د خپلو هدفونو لپاره د جهاد په نامه بي شمیره تنظیمونه جوړ کړې و ، چې د جهاد په احساس راولاړ شوي زلمي به همدې تنظیمونو جلبول او بیا به اې ایس آي غیر مستقیم د ځان په ګټه استعمالول ، چمتو ددغه تنظیمونو د مشرانو له لورې ډیر دعوت شو ، خو دوی سره یې غړیتوب وانه خست ، چمتو ته ددوی هدف او کړنې مالومې وې ، همغه و چې ددې استخباراتي کړیو ښکار شو او نامعلومو کسانو په توفانچې سره وویشت خو الله یې د ژوند اراده درلوده الله عزوجل له دې زخمونو هم ورغاوه ، چمتو بیا افغانستان ته په تشکیل راغی او د امریکایانو او ددوی د تالي څټو افغان مرتدینو په خلاف یې د جنګ لیکې ګرمې وساتلې ، چمتو لکه د نورو مخلصو مجاهدینو په څېر د داسې وخت په انتظار و چې د آی ایس آی له مهاره ازاد د جهاد په سپیڅلي صف کې خپلې قربانۍ ته دوام ورکړي په همدې امید یې د مچ میږي او شین پوخ په نوم سیمو کې د هغه وخت د مجاهدینو د مرکزونو مشري ورترغاړې شوه .

همدا مهال الله عزوجل د خراسان په پاکو او مخلصو مجاهدینو د یو ستر نعمت احسان وکړ چې هغه د اسلامي خلافت قیام و ، کله چې د حافظ سعید خان تقبله الله په مشرۍ ډلې ، ډلې مجاهدینو د هغه وخت د خلیفه الشیخ ابوبکر

البغدادي تقبله الله سره بیعت وکړ ، نو د قاري اسد ، سیدنبي ، زکریا او انتظار تقبلهم الله په شمول د چمتو امر صیب ګڼو ملګرو د خراسان تمکین ته هجرت وکړ ، چې څه وخت وروسته چمتو امر صیب هم د خپل بل ملګري انځرګل امر صیب تقبله الله سره یو ځای بیعت وکړ او د اسلامي خلافت د کاروان سره یوځای شو .

چمتو د اچین ولسوالۍ په پیښې سیمه کې د اسلامي خلافت په لیکو کې خدمت پیل کړ ، هم به یې جنګونو کې برخه اخسته او هم یې د افریدو قوم ځوانانو ته دعوتونه کول چې ګڼ افریدي زلمي د چمتو د دعوت له کبله الله عزوجل د اسلامي خلافت لیکو سره یو ځای کړل ، چمتو ته الله عزوجل ځانګړې وړتیا ورکړې وه دلته هم د مجاهدینو امر شو ، او بیا څه وخت وروسته مشرانو له پیښې څخه د ګورګورۍ سیمې ته واستاوه ، چمتو په ګورګورۍ کې د عمر کتیبې مسول وټاکل شو ،او بیا یې نو د جهاد سنګرونه داسې تاوده کړل چې خپل نوم یې د هر چا په خوله کړ .

د چمتو د کتیبې مجاهدینو به په ګورګورۍ ، پاپین ، مریز ، نرۍ اوبه ، او آن تر چپرهاره د اسلامي خلافت حدود ساتل او هم به یې په مختلفو تعرضي بریدونو کې برخه اخسته ، چمتو په یادو سیمو کې د یو ځانګړې نظامي نظم تر څنګ د سیمې خلکو سره ډیر خایسته اخلاق کول او ددې سیمو ټولو عوامو چمتو او ددې د کتیبې فرد ، فرد په نوم پیژندل ، له دوی ډیر زیات خوشاله و او زیاته همکاري یې ورسره کوله ، چمتو په عوامو او مهاجرینو ټولو زیات ګران و ، تر ډیره چمتو په یادو سیمو کې په جګړه ایزو فعالیتونو بوخت و، کله چې په توره بوره او وزیرو تنګي د اسلامي خلافت د مجاهدینو د بریدونو لړۍ پیل شوه نو چمتو امر صیب

ته هم سره له خپلو ملګرو تورې بورې ته د تللو امر وشو ، چمتو او ملګري یې د تورې بورې د غزا لپاره چمتو شول د جګړې نقشه داسې وه چې د چمتو امر صیب کتیبه باید د سپین غر له لوړو څوکو په توره بوره راښکته شي ، او په دغه ساحو کې د امارتي مشرکینو مرکزونه ټول له منځه یوسي .

د چمتو امر صیب یو ملګری کیسه کوي وایي ددې لپاره چې دښمن ته زموږ د حرکت مالومات ونه شي او د سپین غر تر څوکو په پټه ځانونه ورسوو ، نو په ډیرو سختو لارو مو حرکت پیل کړ ، په لارو کې لوړ کمرونه مخ ته راغلل لارې ډیرې سختې وې ، مجاهدین وږي او نابلده هم و، د سپین غر له سینې د راوتلو غرنیو خوړونو غیږې هم له اوبو ډکې وې ځای ځای پرې اوښتلو او په دې خوړونو اوختل هم یوه ستره ستونزه وه چې په یو ځآی کې یې زموږ له ملګري شعیب تقبله الله څخه اوبو څپلۍ هم یوړې چې بیا هغه په ابیله پښو د غرونو د تیرو تیږو په څوکو موږ سره خپل مزل جاري وساته ، اخر هم خپل راکول شوي هدف ته ورسیدو ، د شپې مو په یو ناو کې شپه راغله ، سخت باران شو ، ملګري له یوه لورې د سختو مزلونو او ولږې له امله په جسماني لحاظ کمزوري شوي و خو ارادې او حوصلې یې لوړې او غښتلې وې، چې همدې معنوي غښتلتیا یې جسماني کمزورۍ ته هم انرژی ورکوله .

کله مو چې د سپین غر له لوړو څوکو د طالب مرتدینو په پوستو بریدونه پیل کړل نو هغوی چې له ځانه پورته له لوړو څوکو راښکته کیدونکې څڼه ور غازیان وکتل نو حیران پاتې شول ، نور یې نو د قرار په ځای فرار مناسب وګاڼه

او تېښته یې غوره کړه ، چې د تورې بورې نیمایې دره بې له کوم مقاومته د اسلامي خلافت مجاهدینو ته په لاس ورغله ، دلته د دهشکې سنګر ، زمري سر او له دهشکې سنګر ورپورته یوه بله لوړه څوکه او له هغې ورپورته د بزرګې څوکه د عمر کتیبې زمرو ته وسپارل شوه چې باید په همدې اسمان څکو څوکو سنګرونه ټینګ کړي او د طالب مشرکینو د ځوابي بریدونو مخه ونیسي ، چمتو امر صیب د خپلو ملګرو سره یو ځای د زمري سر په سنګر کې واړول .

د بزرګې په څوکه کې د افریدي قوم یو بل زمري امان ګل اکا ګونډه ووهله ، چا چې په دې سنګرونو کې شپې کړې وي نو ددې سنګرونو د ژوند د کړاوونو سختیو او په دې سنګرونو کې د جنګیدلیو مجاهدینو د میړانې ثبات او شجاعت اندازه ورته ډیره خه لګیږي .

جګړو زور واخست ، په هر سنګر د امارتي مشرکینو پرلپسې د تازه نفسه ملېشو له لورې بریدونه کیدل خو الله عزوجل به بیرته ذلیله او شرمنده ماتول ، یو ځل په زمري سر په ډیر لوړ تعداد کې امارتي مشرکینو برید وکړ ، غټې اسلحې یې هم خه زیاتې استعمال کړې ، د چمتو سره ملګري هم کم او په سختو مشکلاتو کې و ، خو بیا هم الله عزوجل استقامت ورکړ ، امیرالحرب ورسره رابطه وکړه ورته یې ویل : چمتو همدلته شهید شه خو چې د زمري سر پرینږدې ، چې له همدې سر څخه ټوله توره بوره بیا د دښمن لاس ته پریوزي ، چمتو ورته ویل د الله په مدد بیغمه شه ، چې ژوندی یم راڅخه به یې وانخلي ان شاء الله ، همغسې وشول چمتو او ملګرو یې ډیر سخت مقاومت وکړ او د زمري سر یې وساته ، خادم مولوي صیب تقبله

الله بيا چمتو ته ويل چې موږ شميرل ، امارتي مشركينو پوازې د راکټ پنځوس ډزونه وکړل نور يې نو چې کومه اسلحه په زمري سر استعمال کړه ، د هغې حساب نه و ، خو ددې هر څه سره رب وشرمول .
له دې وروسته بيا توره بوره د اسلامي خلافت تمکين شو ، او جګړه وزيرو تنګي ته وغځيده ، د چمتو کتيبه څه د توري بورې د درې کوز سر کې د افغان مرتد حکومت سره په خطونو کې جنګيده او څه بيرته د ګورګورۍ په شمول مخکنيو سنګرونو ته ستنه شوه ، او چمتو به هم د مشرانو غږ ته غوږ په اواز و ، چې په هر طرف به ورته د تللو امر وشو نو دې به چمتو و، کله به په توره ، بوره کې و او کله به په پاپين او مريز کې ، نن به دې چې ليده چمتو به ګورګورۍ کې و په بله ورځ به چې دې اوريده نو د توري ، بورې له سنګرونو څخه به يې په مخابره کې له هيبته ډک دروند غږ راغبرګيده ، لکه غرنی شاهين تل به د اسلامي خلافت په سنګرونو د الوت په حال کې و .
په ګورګورۍ ، پاپين ، مريز او نورو اړوندو سيمو افغان مرتد حکومت او امريکايي درنده ګانو څو ځل د هوايي ځواک په ملاتړ قوي بريدونه ترسره کړل خو الله عزوجل هر ځل د ماتې او شکست سره په شا ستنول ، چمتو او ملګرو يې د صليب داره مارو او ددوی تالي څټو ته داسې ګذارونه ورکړل چې اوس به يې هم په ياد وي ، په دې سختو جګړو کې د چمتو زيات ملګري هم شهيدان شول ، چمتو څو ځل زخمي شو خو حوصلې يې ماتې نه شوې .
د چمتو ميړانې ، ايثار او شجاعت امريکايان مجبور کړل چې په ځانګړې توګه چمتو هدف وګرځوي د چمتو له نومه به يې له ډاره لينګي ريږديدل اخر يې په چمتو

ارشد تقبله الله

او دده په ملګرو د چاپو او ډرون بريدونو لړۍ چټکه کړه ، يو ځل يې په چاروازۍ کې د چمتو په مرکز ډيره درنه او قوي چاپه ووهله ، په دغه چاپه کې امريکايانو سره دروند جنګ وشو ، د چمتو زيات ملګري هم شهيدان شول خو چاپه يې په ماته مجبوره کړه ، وروسته نو بيا په چاپو او ډرون بريدونو کې هم د چمتو له ځنګه د کار ملګري شهيدانيدل ، خو چمتو له خپل هوډ او عزم څخه ستنيدونکی نه و، ځينو ملګرو يې د استشهاد په کتيبه کې نوم ليکنه وکړه چې ددوی له ډلې يې .



استشهادي معاويه افريدي تقبله الله

ارشد ، معاويه، خالد، هدايت، ابوبکر، شاهد او د چمتو په ژوند استشهادي عمليات ترسره کړل او ځينو يې د چمتو له شهادته وروسته استشهاد ته مخه کړه ، چمتو خپل ټول ملګري داسې روزلي و چې هر يو يې د قرباني او ايثار ځانګړې بيلګې وې ، د چمتو سره په سنګرونو او د سپين غر په واورينو څوکو او ځنګلونو کې له لوبيدلو زلمو همدا تمه کيده چې د استشهاد د کتيبې لارويان شي .
يوه خاطره يې رايادہ شوه :
د اوړي اوږده ورځ مو ګړۍ ورځ په مزله تيره کړه ، سکني ماښام و چې د توري ، بورې په يو ناو کې سره له ملګرو زنګيدلی روان وم ، قدمونه راپسې ماتيدل نور راکې د مځکې تللو شيمه نه وه ، د غرني خوړ له رڼو اوبو سره يو ځای لاندې روان و، يو ځای مو د غره په اړخې کې په يو دوه ځوانانو سترګې ولګيدې چې له بره څخه زموږ مخې ته د راکوزيدو په حال کې و ، د يوه يې مخابره په لاس کې وه ، چې رانيږدې شول ، نو يو مې وپيژانده دا د چمتو ملګری سعد افريدی و ، سعد لوړ دنګ زلمی و ، نهايت مخلص او مينه ناک ځوان و ، په لومړي ځل مې په ګورګورۍ کې ليدلی و ، سعد به خبرو کې تر ډيره ځنډ کاوه ژبه کې يې مشکل و ، په ډير تکليف به يې خبرې کولې ، سعد چې وپيژندم نو هغه د چا خبره لکه پريوته (يوقسم د ګل بوټی دی) راڅخه ځانګې ،ځانګې تاوو شو ، تر ډيره يې اوږده لاسونه راڅخه چاپيره کړې و، د خوښی احساسات پرې دومره غالب شول چې بيخي ترې خبرې ورکې شوې او په سترګو کې اوښکې راغلې ، يوه شيبه د رڼو اوبو ترڅنګ د غره ترو ته ډډه شو .
په ډيره سخته يې پوښته کړم ويل يې : پورته سنګر ته خيژو چمتو امر صيب هم بره سنګر کې دی .
ورته مې کړه : که هغې سره واوختو نو دوه ورځو کې ترې هم نه شو تللی ، او زما زيات کارونه دي پام چې هغه خبر نه کړې .
په خندا يې ورسره مخابره په لاس ملګري ته مخ وراړوه څه يې ورته وويل :هغې چمتو امر صيب ته رابطه وکړه او په خپله ژبه يې پوښته کړ ، له هغې خوا مې د چمتو ډېر غږ واوريد :
ګوره چې درڅخه لاړ نه شي درکيوتم .
موږ هسې هم مزله ځپلي و، فکر مې وکړ ، تر څو چمتو رارسيږي تر هغې به لږه دمه وکړو د چمتو ليدو ته هم تږی تږی وم ، ځان سره مې ويل : پريږده چې راشي همدلته به يې وګورو ، اجازه به ترې واخلو .
شيبه وروسته په همغه لار چې سعد دوی پرې راکيوتلي و ، يو دنګ هيبتي زلمی مخکې او دوه نور ملګري ورپسې د راکوزيدو په حال کې و ، خلاصې څڼې يې پورته ،پورته غورځيدې په ترو کې

چمتو تقبله الله

لاندې ناو ته راکیوتونکې زلمي ټول داسې بریښدل لکه غرني پړانګان . چې راورسیدل نو ټول له لرې موسکي و .

چمتو له روغبړه وړاندې راغږ کړ : ځنګه زموږ په ځنګ کې داسې پټ تیریږئ ؟

ته خبر نه یې چې په دې درو ، ځنګلونو او ناونو د الله په مرسته زموږ پاچاهي ده .

راورسید کلک سره غاړیوتو ، له روغبړه چې فارغ شو ، زما له ملګرو یې بیګونه او اسلحې واخستې وايې پورته کیږئ چې ځیږو په خیر، ناوخته دی .

که مې هر څومره ورته وویل چې باید نن شپه هم مزل وکړو او خپل هدف ته ځان ورسوو خو ویل یې خبرې به پاس په سنګر کې کړو ، مخکې شئ .

شپه مو په سنګر کې د ګڼو مجاهدینو سره په خوږو کیسو سبا کړه ، سحار وختي مې چې د چمتو وضیت ته کتل نو هم زړه یې نه و چې موږ پریږدې ، زموږ ایساریدو ته یې بهانې لټولې ، راته یې کړه : الله بنده په دې انقلابي ژوند کې به بیا چرته سره وینو ، او د غرونو په دې سفرونو کې خو یوه یا دوه شپې په سرې زیاتې خاماخا راځي نن به هم ایساریږې .

ورته مې وخندل : فلاني امر صیب سره مې وعده ده چې نن یې باید ځنګ ته ورسیږم ، که لاړ نه شم نو د هغې به هم اندیښنه شي .

ویل یې دا خو اسانه ده ، په رابیتر کې زما د ورښودل شوي امر په رابط غږونه شروع کړل ، ورته مې ډیر وویل ته خو یو ځل زما خبره واوره .

خو چمتو رابط ته سوال جواب ورساوه ، ورته یې ویل : امر صیب ته ووایه ستا طرف درتلونکې هغه میلمه زما ځنګ ته رارسیدلي او ما ایسار کړ ، ته مطمین اوسه .

د مخابرې انتن یې ښکته کړ، په خندا یې رامخ کړ : نور نو څه غواړې .

بیا مې ورته په عذر زاریو شروع وکړه چې پریږده چې لاړ شو ، نور هم ډیر کارونه لرو ، خو چمتو په سعد او یو بل ملګري ورغږ کړ ، هغوئ چې راغلل نو چمتو رامخ کړ : نن غرمه درباندې د ساراني ځنګلي اوزې غوښه خورم، له رنګه دې خاورې دوریږې پریږده چې لږ راخه شي الله بنده لږه سره وخوره .

دې خبرې یې زما پښو ته هم ګټې راواچولې ، ډیر وخت مو چرته غوښه نه وه څکلې او بیا د غرني اوزې .

چې خپلو ملګرو ته مې وکتل نو د هغوی په سترګو کې مې هم همدا هیلې ولوستې چې باید پاتې شو .

سعد او ملګري یې رخصت کړل .

موږ یوه شیبه ناست و ، چمتو راپورته شو ، ملګري ته یې ویل هغه امریکنی پیکا راواخله ځو پورې نښه ولو ..

شیبه وروسته مو د غره په اړخې

مولوي صیب ابو نثار افریدی تقبله الله

کې په غنیمت شوې امریکایي پیکا په یو کمر سپینې تیګې په نښه کړې ، لومړې ځل و چې امریکایي پیکا مې لاسو کې واخسته .

ورته مې کړه : ددې پیکا خاوند خو به درخخه ژوندی نه وي تللی ؟

په خندا یې راغبرګه کړه : نه د همغه په نجسو وینو لړلې وه چې ملګرې ترې راپورته کړه .

څه شیبه مو په نښو ډزې وکړې ، څه سات مو تیر شو ، چې کتل مو سعد یو غټ چیلې په اوږو راړولې و .

چې راورسید درب شو زموږ مخ ته ګذار کړ.

په ټوکه مې ورته وویل : کومه دې دا خو ساراني چیلې نه دی ، دا خو ماته کورنی ښکاري ؟

چمتو خوږه خندا وکړه : وروره یو کنډک اوزې مو دلته ساتلې وي اوس راخخه ټولې ساراني شوي موږ ته نیوانکه نه راکوي ، کله مو چې په کار شي دې پورې ترو کې

ګرځي بس له لرې یې په کلاشن ولو بیا ملګري ورځي او راپورته کوي یې ، نو موږ دې ته هم ساراني وایو .

سعد ته مې مخ کړ : په کوم ځای دې وویشته ؟

خپلې پندی ته یې په خندا ګوته ونیوله .

مطلب یې دا و چې په پندیو ولګیده .

سعد چمتو ته ویل حلاله مې کړه سر یې همځته پاتې شو .

چمتو ورته وخندل : بس چې نور چیلې دې رارسولی وي سر پسې یې مه ګرځه .

سعد افریدي هم ډیر قیمتي انسان و چې وروسته بیا د وزیرو تنګی او مرکخیلو په جنګونو کې د مولوي صیب ابو نثار افریدي سره یو ځای د اماراتي مشرکینو سره په مخامخ نښته کې شهید شو .

لنډه دا چې یوه بله شپه مو هم چمتو سره په خوږو کیسو او د چمتو د ساراني چیلي د غوښو د کبابونو په خوړو سبا کړه .

چمتو ډیر بې جوړې انسان و ، په جګړو کې داسې روږدی شوی و ، چې همداسې وخت پرې نه تیریده کله به چې د دښمن تعرضي بریدونه مات شول نو دمه به یې نه کوله بیا پرې چمتو لکه د وږي زمرې ورغوته کیده .

چمتو او ورسره ملګرو یې د نرۍ اوبو په اړوند ساحو کې د افغان مرتدینو په یوه ستره پوسته برید ترسره کړ ، پوسته کې شته مرتدین یې د الله په فضل ټول وژلي و او ورسره شته اسلحې او مهمات یې ترینه اوچت کړې و ، کله چې بیرته مجاهدین خپلو مرکزونو ته راستنیدل نو په یو تش راغه یې لار وه دغه وخت د مرتدینو د باداري امریکا جنګي هلي کفترې او ډرون طیارې رارسیدلې وې ، چمتو امر صیب نور ملګري له ځانه مخکې کړي و ، او دې خپله د دریو تنو استشهادیانو هر یو عمر ، عطاالله او زاهد په شمول وروسته ورپسې رو روان و چې په همدې راغه کې امریکایي درونونو په نښه کړې و او دغه ځلورو زلو خپل ارمان ته چې هغه د شهادت انعام و لبیک ووایه .

تقبلهم الله .

اسیره خور د تکبیرونو شور او ځوږ پـه ارمان
اقصٰی مودو راهیسې ده، زموږ د ورتګ پـه ارمان

ګرځي عربو جزیره کې بیا نجس مشرکین
بیا ده کعبه د آزادۍ سپېڅلي غږ پـه ارمان

د لر او بر د مؤمنانو دا یوه هیله ده
ټول د دې ښکلي خلافت د پرمختګ پـه ارمان

بیا اسلامي امت لاهو دی د فتنو دریاب کې
عمل پـه کار دی، شول هلاک چې دي د څګ پـه ارمان

بیا کړ ښکاره نفاق د عصر د سلول اولادې
لـه شا ګوزار کړي، دي زمونږه د شارګ پـه ارمان

زمونږ پـه فتحه خفه کېږي چوي لـه ډېرې غوسې
زمونږه ماتې تـه بیا ټول دي ټګ او بـرګ پـه ارمان

د خراسان پـه پاکه خاوره شریعت نافذ وي
طاغوتیان نـه وي، یم د دې ورځ د راتګ پـه ارمان

سِيرَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ

سيرت لسم درس

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:

محترمو مسلمانانو ورونو، د نبي عليه السلام د سيرت مباركه لړۍ د صحيح احاديثو په رڼا کې شروع وه، تير درس کې تر دې ځای پورې خبره رسيدلې وه، چې نبي عليه السلام ته وحي راغله، د ډار په حالت کې کور ته لاړو، خديجه رضي الله عنها ورته ډاډ ورکړو او د تورات او انجيل عالم ورقه بن نوفل خواته يې بوتلو، راځئ چې دې مبارکې سلسلې ته ادامه ورکړو.

د وحي بنديدل:

ابتداء کې چې نبي عليه السلام ته وحي راغله، بيا څه موده وحي بنده شوه. رب العالمين ډير حکيم ذات دی، د انسان تربيت مرحله په مرحله کوي، يوځل نه ټول بوج په انسان باندې نه اچوي، لکه اول ماشوم د مور په خيټه کې مرحله په مرحله جوړيږي، اول نطفه، بيا د وينې ټوټه شي، بيا هډوکی او غوښه پرې الله تعالی راولي، بيا پکې ساه واچوي، او د مور په خيټه کې ورته رزق ورکوي، چې کله دنيا ته راشي، نو د ژوند ضروري اړتياوو په اړه معمولي شعور لري، څو مياشتې پس خپله مور پيژني، چې وږی شي يا مريض شي نو ژاړي، خپل خواړه پيژني، او داسې محدود شمير کارونو سره بلد شي، خو د عمر تيريدو سره مرحله په مرحله دده تربيت کيږي، دده د شعور حس زياتيږي، کچيرې الله عزوجل د ابتداء نه ماشوم ته د پوهې قوت ورکړی وی، يا د زيات غم، غصې، زور او طاقت، شهوت او داسې نور قوتونه ورکړی وی نو دده ژوند به ځومره نآرامه و، ځکه خو الله تعالی ته رب وايي. علامه قاسمي په تفسير محاسن التأويل کې ليکي: رب لفظ مصدر دی، د تربيت په معنا دی، وهي: تبليغ الشيء إلى كماله شيئا فشيئا. ژباړه: تربيت يو شی کمال ته وقفه په وقفه رسولو ته وايي.

نو د وحي په باب کې يې هم نبي عليه السلام وقفې وقفې سره کمال ته ورساوه، لومړۍ وحي چې راغله، نبي عليه السلام نآشنا و، د شاګردۍ او استاذۍ، تعليم او تعلم نوې سلسله شروع شوه، نو ځکه يې دويم مجلس او دويم درس ترمنځ لږه وقفه ورکړه، چې نبي عليه السلام باندې دا حالت بوج نشي، هيبت او ويره پرې نوره ډيره نشي. او دويم لطيف حکمت پدې کې دا و، چې کله انسان د يو عظيم شخصيت سره ملاقات وکړي، او هغه يې په خوږه ډالۍ هم ونازوي نو ددغه شخصيت جلال او جمال انسان يو څه هيبت کې اچوي، خو وروسته چې دغه صحنه رايادوي نو څه خوند ترې اخلي، او ددغه کس ملاقات يې د زړه د ارمانونو څخه يو مهم ارمان وي. ددې بيلګې زياتې دي، هسې يوه نيمه به ذکر کړو، کله چې تمکين کې انسان د اسلامي نظام حاکم او والي سره د لومړي ځل لپاره ملاقات وکړي، نو د ډيرې حياء څخه په هغه مجلس کې نشي غږيدای، د هغه يو قسم رعب پرې طاري وي، خو د مجلس اختتام نه وروسته بيا ددداسې مجلس حاضري شوق په زړه کې لري، بل مثال يې دا دی، کله چې انسان سنګر کې وي، د سپين غر په لوړه څوکه يې واورينه شپه کې پيره وي، خوراک هم ورسره کم وي، د يخنۍ ضد اسباب هم ورسره نه وي، ددښمن د حملې ويره او ډار يې هم ملګری وی، ملګري هم کم وي، د ډير يخ له لاسه يې لاسونه هم رپيږي، پاسه پرې ډرون ګرزي، اوور هم نشي بلولای، خو د رب شان دی چې د دې ساعت تيريدو نه وروسته دا مرحلې د انسان د ژوند يادګاري لمحات وي، په يادولو يې نآشنا ايماني لذت او سرور محسوسوي، او بيا ځلې د داسې سنګر د پيرې په ارمان وي، خبره اوږديږي، نو نبي عليه السلام ته د وحي نه راتګ او موقت بنديز دوه عمده علتونه وو: اول: د لومړۍ وحي هيبت ختميدل. دويم: د نوي وحي راتګ ته اشتياق درلودل. حافظ ابن حجر رحمه الله وايي چې: دا (د وحي څو ورځې بنديدل) ددې پخاطر و چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه هغه ويره ليرې شي کومه چې د وحي له نزول سره پيدا شوې وه او تر څو د وحي بيا راتګ ته يې تنده زياته شي. [فتح الباري]

بيا د وحي د بنديدو مودې په اړه د علماؤ يو څو اقوال دي:

اول: دوه نيم کاله وحي بنده وه. (الروض الأنف للسهيلي 2/ 433 - 434)

دويم: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه يو قول نقل شوی چې څلويښت ورځې وحي بنده وه. (شرح المواهب اللدنية 1/ 236).

خو راجحه خبره دا ده چې د وحي بنديدو کره نيټه نده معلومه، خو داسې ښکاري چې زيات وخت وحي بنده نه وه بلکې يوازې يو څو ورځې وحي کې انقطاع راغلې وه.

د وحي انقطاع پر مهال د سيرت کتابونو د نبي عليه السلام د خودکشۍ اراده ذکر کړې ده، خو مخکې يادونه وشوه چې دغه روايت د امام زهري بلاغ دی، او کمزوری دی، سندا ثابت ندی.

جبريل عليه السلام بيا وحي راوړي:

د څو ورځې وقفې څخه وروسته جبرائيل عليه السلام بيا محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وحي راوړه.

جابر بن عبد الله رضي الله عنه د وحي د بنديدو حالت ذکر کوي او وايي نبي عليه السلام وفرمايل: " بَيْنَا أَنَا أَمْشِي إِذْ سَمِعْتُ صَوْتًا مِنَ السَّمَاءِ، فَرَفَعْتُ بَصَرِي، فَإِذَا المَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءٍ جَالِسٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، فَرُعِبْتُ مِنْهُ، فَرَجَعْتُ فَقُلْتُ: زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي " فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا المُدَّثِّرُ. قُمْ فَأَنْذِرْ} [المدثر: 2] إِلَى قَوْلِهِ {وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ} [المدثر: 5]. فَحَمِيَ الوَحْيُ وَتَتَابَعَ. صحيح البخاري.

ژباړه: زه روان وم چې له آسمان نه مې يو ناڅاپي آواز واوريد، پورته آسمان ته مې وکتل، چې ګورم هماغه ملائک چې د حراء په غار کې راته راغلی وه د آسمان او ځمکې ترمنځ پر چوکۍ ناسته ده، زه ورنه وويريدم نو بيا راوګرځيدم، [خپل اهل] ته مې وويل : ما ونغاړئ، ما ونغاړئ (په څادر کې مې پټ کړئ) او بيا الله تعالى دا ايتونه (اي په څادر کې ځان نغښتونکيه، پاڅيږه او ويره ورکړه، او دخپل رب لوئی اعلان کړه، او خپلې جامې پاکې وساته، او له چټلۍ نه په څنګ اوسه) پورې راباندې نازل کړل، پدې پسې د وحي سلسله ګرمه شوه او په مسلسله توګه به راتله.

پدې آيتونو کې نبي عليه السلام ته د الهي دعوت رسولو په پآر تشويق او ترغيب ورکړل شوی دی، چې اوس ستا په اوږو باندې دروند بوج کيښودل شو، اوس د ويدو کيدو وختونه نه دي، بلکې ملا دې وتړه او ميدان ته ووځه، د اسلامي نظام قيام په پار مزل شروع کړه، د الله عزوجل لوئي لپاره مبارزه شروع کړه، توحيد ته خدمت وکړه، جامې او باطني نفس دې پاک کړه، او د ناولتوب څخه په ډډه اوسه، د بتانو عبادت، ناوړه اعمالو او د جهالت کړنو څخه ځان وساته. په مختصر ډول يې ورته د نبوت د امانت دروندوالی بيان کړو، د دعوت عنوان او هدف يې ورته روښانه کړو چې د الله تعالى توحيد او د هغه لوئي بيانول دي، ټول صفات محموده پدې جمله کې يې رابند کړل او د شرک په شمول ټول صفات مذمومه څخه يې منع کړو. او دا د داعي لپاره زيات مهم دي چې لومړی به خپل ځان صفا کوي، د ځان تزکيه به کوي، دغه رنګ اهداف او مقاصد د دعوت به ورته معلوم وي، او د اهدافو ترڅنګ موانعو څخه به هم باخبر

وي، ځکه د مجهول هدف پر لور مزل بې معنا وي.

د دريم ځل لپاره هم يو څو شپې په نبي عليه السلام باندې وحي بنده شوې وه، صحيحينو روايت دی: جُنْدَبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي: " أَبْطَأَ جِبْرِيلُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ: قَدْ وُدِّعَ مُحَمَّدٌ، فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: {وَالضُّحَى وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى} [الضحى: 2] " واللفظ لمسلم. ژباړه: جبريل عليه السلام رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راتګ څخه حصار شو، نو مشرکانو وويل: محمد [عليه السلام] پرېښودلی شو. الله عزوجل دا آيتونه نازل کړل: [په ځاښت وخت قسم، او په تياره شپې چې کله هغه له چوپتيا سره خوره شي، ستا رب، ته هېڅکله نه يې پرېښي او نه يې درسره دښمني کړې ده]

او حديث د صحيح البخاري کې دي، چې دا د ابو لهب ښځې او ابو سفيان خور ام جميل دا خبره کړې وه، چې محمد [عليه السلام] خپل شيطان پرېښود. [نعوذ بالله]

نو دا دريم مقام و او فقط دوه شپې شاوخوا وحي بنده وه.

د وحي په اړه د بعضې کارونو تذکره:

اول: ابن اسحاق په خپل سيرت کې د وحي بنديدو يوه بله واقعه هم ذکر کړې ده، چې مشرکانو د نبي عليه السلام څخه يو څو پوښتنې وکړې، چې اصلا دا پوښتنې ورته يهودو ښودلې وې، مشرکانو د أصحاب کهف او روح وغيره په اړه د نبي عليه السلام څخه تپوسونه وکړل، نبي عليه السلام څخه ان شاء الله هيره شوه، نو پنځلس ورځې وحي بنده وه.
[سيرة ابن هشام 1/ 321 – 322 بلاغاً عن ابن عباس وتفسير الطبري 15/ 127 – 128 من طريق ابن إسحاق وفيه مبهم] نو دا واقعه سندا صحيح نه ده ثابته.

دويم: امر او دويم کار په رواياتو کې دا ذکر شوی چې جبريل عليه السلام نبي عليه السلام ته د اودس چل وښودو. او دا خبره هم ذکر شوې چې خديجه رضي الله عنها دا معلومه کړه چې نبي عليه السلام ملائک ليدلی او که نه دا شيطان و. خو دغه ټول روايات ټول ضعيف دي.
[ابن إسحاق څخه په سيرة ابن هشام 1/ 238 – 239 کې دوه سندونو سره نقل دی چې اول يې معضل او دويم يې مرسل دی، او په روايت د أبو نعيم په دلائل النبوة 1/ 283 – 284 کې نضر بن سلمة راوي دی، چې ډېرو علماؤ ورته کذاب ويلي دي. (ميزان الاعتدال للذهبي 4/ 256 – 257)].

دريم: بله خبره چې رواياتو کې مشهوره ده، هغه دا ده چې د وحي راتګ پر وخت د نبي عليه السلام شق الصدر [سينې څيرل] بيا شوی و. خو دا هم صحيح سند سره ندي ثابت.
[مسند الطيالسي 215 – 216 بسند ضعيف فيه مبهم ومتنه منكر، ودلائل النبوة للبيهقي 2/ 142 – 144 من مرسل الزهري ضعيف، والخصائص الكبرى للسيوطي 1/ 93 بسند مرسل وفيه ابن لهيعة ضعيف]

څلورم: په سيرت کې د لومړۍ وحي تذکره چې کيږي نو وايي نبي عليه السلام ته غار حراء ته جبريل عليه السلام راغی پداسې حال کې چې نبي عليه السلام ويده و.
[سيرة ابن هشام 1/ 236 – 238 وتاريخ الطبري 2/ 300 – 301 من مرسل عبيد بن عمير بن قتادة الليثي].

پنځم: بعضې سيرتي رواياتو کې دا هم راغلي دي چې ابو بکر رضي الله عنه نبي عليه السلام سره ورقه بن نوفل خواته تللی و. خو دا خبره هم کمزورې ده، ځکه صحيح حديث کې ذکر شو چې خديجه رضي الله عنها ورسره تللې وه.
[مصنف ابن أبي شيبة 14/ 292 – 293 بسند فيه عنعنة أبي إسحاق السبيعي وهو مدلس، وفيه انقطاع فأبو ميسرة عمرو بن شرحبيل الهمداني ليس صحابياً]

د وحي کيفيت:

نبي عليه السلام ته به وحي په مختلفو طريقو سره راتلله، لازمه ګڼو چې دلته يې بيان وکړو، ځکه د سيرت کتابونو دې مقام کې دا وضاحت کړی دی، ددې په اړه د حافظ ابن القيم مشهور کتاب زاد المعاد څخه لږ په تصرف د وحي اقسام رانقل کوو:

لومړی: ريښتينی خوب: له همدې ريښتيني خوب نه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د وحي پيل شويدی.

دوهم: ملائک به پداسې حال کې د رسول صلى الله عليه وسلم په زړه کې وحي وراچوله چې هغه صلى الله عليه وسلم به ملائک نه ليدل، لکه حديث کې رازي:
ابو امامه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «إِنَّ رَوْحَ الْقُدُسِ نَفَثَ فِي رُوعِيَ أَنَّ نَفْسًا لَنْ تَمُوتَ حَتَّى تَسْتَكْمِلَ أَجَلَهَا وَتَسْتَوْعِبَ رِزْقَهَا فَأَجْمِلُوا فِي الطَّلَبِ وَلَا يَحْمِلَنَّ أَحَدَكُمُ اسْتِبْطَاءُ الرِّزْقِ أَنْ يَطْلُبَهُ بِمَعْصِيَةٍ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُنَالُ مَا عِنْدَهُ إِلَّا بِطَاعَتِهِ» [مصنف عبد الرزاق وشرح السنة للبغوي وحلية الأولياء وطبقات الأصفياء واللفظ له]
ژباړه: روح القدوس زما په زړه کې دا خبره پوکړه (وا يې چوله) چې هيڅ يونفس تر هغې نه مري ترڅو يې خپله نيټه او روزي نه وي پوره کړې، نو په غوره او نيکې طريقې سره طلب او لټه کوئ او د رزق او روزۍ تاخير او کمی دې تاسې دېته ونه هڅوي چې خپله روزي د الله تعالى په معصيت او نافرمانۍ کې ولټوئ ځکه هغه څه چې له الله (جل جلاله) سره دي هغه له اطاعت او فرمانبرۍ پرته په بل څه نه شي تر لاسه کيدلی.

دريم : ملائک به د سړي په شکل کې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راتلل، هغه ته به يې خطاب کاوه، او هر څه به يې چې ورته وحي کول هغه به رسول الله صلى الله عليه وسلم ټول يادول، پدې صورت کې به کله کله صحابه وو رضي الله عنهم هم دا ملائک ليدل.

څلورم : رسول الله صلى الله عليه وسلم ته به وحي د ګړونګي د آواز په شان راتلله. د وحي دا صورت تر ټولو سخت او ګران و، پدې صورت کې به ملائک د رسول عليه السلام له مبارک جسد سره يوځای کيدل او وحي به يې ورته راوړله او دا دومره ګرانه وه چې د سختې يخنۍ په وخت کې به هم د رسول صلى الله عليه وسلم له مبارکې تندې نه خولې بهيدلی،او که به پدې صورت کې په اوښ سپور و، نو اوښ به يې پر ځمکه ځملاست. يو ځل په همدې صورت کې وحي ورته راغله او دغه وخت د محمد صلى الله عليه وسلم مبارك ورون د زيد بن ثابت رضي الله عنه په ورانه ايښی و، نو په زيد رضي الله عنه دومره زور راغی چې خيال يې کاوه ورون يې بوټ مات شو.

پنځم: رسول الله صلى الله عليه وسلم به ملائک په اصلي شکل او څيره کې ليدل، او په همدې حالت کې به ملائک د الله تعالى په امر او ارادې سره وحي ورته کوله. رسول الله صلى الله عليه وسلم ته پدې صورت کې دوه ځله وحي راغلې ده چې الله جل جلاله د النجم په سورت کې ورنه يادونه کړيده.

شپږم: هغه ډول وحي چې الله جل جلاله پاس په آسمانونو کې د معراج په شپه د لمونځونو د فرضيت او نورو مسائلو په هکله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته کړيده.

اووم: پرته لدې چې ملائک د وحي واسطه وي له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د الله تعالى مستقيمې يعنې پرته له واسطې خبرې، لکه څرنګه چې الله تعالى له موسى عليه السلام سره خبرې کړې وې. له الله تعالى سره د موسى عليه السلام بلا واسطه خبرې د قرآنکريم په نص سره ثابتې دي، او له محمد صلى الله عليه وسلم سره د الله تعالى د مستقيمو خبرو دليل د معراج او اسراء مبارک حديث دی.

ځينې پوهانو د وحي آتم ډول هم راښوولی دی چې الله تعالى له خپل رسول الله صلى الله عليه وسلم سره پداسې حال کې مخامخ خبرې کړې چې هيڅ پرده او حجاب يې تر منځ نه و، خو ددې ډول وحي په هکله له سلفو نه رانيولې تر خلفو پورې اختلاف را روان دی او حقيقت دا دی چې دا آتم ډول ثابت ندی.

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ددې ايت په اړه فرمايي: {لاَ تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ} [القيامة: 16] ژباړه: په بيړه د دغې وحي يادولو لپاره خپله ژبه مه خوځوه.

هغه وايي چې نبي عليه السلام به وحي په مشقت سره يادوله، او خپلې شونډې به يې پرې خوځولې، وايي زه تاسې ته خپلې دواړه شونډې داسې خوځوم لکه څنګه چې رسول الله عليه السلام خوځولې، سعيد [راوي] وايي: زه هم درته خپلې شونډې داسې خوځوم لکه څنګه چې ابن عباس خوځولې، نو خپلې شونډې يې وخوځولې، نو الله تعالى دا آيت مبارکه نازل کړو: {لاَ تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ} [القيامة: 17] قَالَ: جَمْعُهُ لَكَ فِي صَدْرِكَ وَتَقْرَأَهُ. ژباړه: په بيړه د دغې وحي يادولو لپاره خپله ژبه مه خوځوه. يقينا ددې جمعه کول او درباندې لوستل زمونږ په ذمه دی. ابن عباس وايي: ستا په سينه کې جمعه کول [په مونږ دي] او بيا به يې ته ولولې. {فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ} [القيامة: 18] قَالَ: فَاسْتَمِعْ لَهُ

وَأَنْصِتْ: {ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ} [القیامة: 19] ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا أَنْ تَقْرَأَهُ. ژباړه: نو کله چې مونږ دا لولو په هغه وخت کښې ته د دې قرائت په غور سره اوره. ابن عباس وایي: معنا دا چې غوږ ورته کیږده او چپ شه، بیا یقینا ددې وضاحت کول زمونږ په ذمه دي. ابن عباس وایي: معنا دا چې زمونږ په ذمه ده چې ته بیا دا ولولې. نو ددې نه وروسته به چې نبي علیه السلام ته جبریل راتلو هغه به ورته غوږ کېښود، خو کله به چې جبریل علیه السلام لاړو نو نبي علیه السلام به دا وحې داسې لوستله لکه څنګه چې به ورته هغه لوستلې وه. [صحیح البخاري]

نبي علیه السلام به ابتداء کې دا وحې په سختۍ سره ځکه یادوله چې د ملائک هیبت به هم و، لکه مونږ تاسې وینو کله چې یو پیرې په انسان کې ننوځي، هغه څومره درندیږي، نو دا یې هسې یوه بیلګه ده، چې کله ملائک د نبي په بدن کې ننوځي نو دغه وحې بیا زیاته درنده وي، او بل علت دا دی چې قرآن کریم خپله هم ثقیل کتاب دی، د الله تعالی وحې ده. او نبي علیه السلام به زر زر ځان سره تکراروله، دې لپاره چې رانه هیره نشي. لکه استاذ چې درس وایي نو شاګردان یې ځان سره تکراروي، خو بیا الله عزوجل ورته وحې وکړه، چې ستا سینه کې ددې وحې جمعه کول زمونږ په غاړه دي، نو هغه نه وروسته به نبي علیه السلام دا تکرار نه کوو.

د دعوت پیل:

کله چې نبي علیه السلام ته د سورت مدثر لومړي آیتونه راغلل، لکه الرحیق المختوم کې ددې مقام څه بیان شوی دی:

پدې آیتونو کې د الله تعالی له لوري رسول الله صلی الله علیه وسلم ته داسې امرونه شویدي چې ډیر جامع او د ډیرو اوچتو او لویو اهدافو او د واقعیتونو په دنیا کې د ژورو اغیزې او لوی عمل درلودونکي دي:

اول: له انذار (ویرولو) نه هدف او غوښتنه دا ده چې ټول هغه کسان چې پدې دنیا کې له الهي اوامرو نه سرغړوي او د الله جل جلاله د رضا مخالفت کوي باید له خپل وخیم او خطرناك انجام او عاقبت نه خبر او وویرول شي، ترڅو په زړه کې یې ویره او لړزه را ولاړه شي.

دویم: د رب العالمین د تکبیر او په لویی سره د هغه د یادولو تقاضا او غوښتنه دا ده چې د ځمکې په مخ باید بل هیڅچا ته هم لویي او کبریا پاتې نه شي، بلکه د داسې کبریاء او لویی مانۍ باید رانسکوري کړی شي تر څو د ځمکې په مخ له الله جل جلاله پرته بل هیڅوک د لویی او کبریا درلودونکی نه وي.

دریم: د جامو د پاکۍ او له هر ډول چټلۍ نه د ځان ساتلو هدف دا دی چې په ظاهري او باطني صفایي او پاکۍ، له هر ډول ګندګۍ او شائبو نه د نفس په تزکیه کې د کمال هغه لوړې پوړۍ ته وخیژي چې انسان ورته یوازې د الله تعالی په رحمت، حفظ، هدایت او نور سره رسیدی شي. هدف دا دی چې هغه د کمال دې درجې ته په رسیدو سره د انساني ټولنې لپاره داسې قدوه او عظیمه نمونه وي چې سلیم زړونه ور پورې نښلي، او له حق نه منحرف او کاږه زړونه یې له هیبت او عظمت نه په لرزه راشي، او بالاخره ټوله دنیا د موافقت او یا مخالفت په صورت کې د هغه په شاوخوا راوڅرخي.

څلورم: دا چې امر ورته کوي چې په نیکۍ او احسان سره د کثرت یا زیات بدل هیله او غوښتنه مه کوه، مطلب یې دا دی چې خپل عمل، کړه او هلې ځلې لویې او غټې ونه شمیري، بلکه په مسلسله توګه په یوه عمل پسې د بل په لټه او کوښښ کې وي، زیات مشقت وګالي، عظیمې قربانۍ وړاندې کړي، خو بیا دا ټول هیر کړي او داسې وانګیري چې دا د الله تعالی په وړاندې هیڅ هم ندي یعنې د الله تعالی په یاد او د هغه په وړاندې د ځواب ورکولو له ویرې خپلې ټولې قربانۍ، مشقتونه او تکلیفونه له یاده وباسي او په هیڅ یې وشمیري.

پنځم: په وروستي آیت کې الله تعالی دېته اشاره کوي چې د دعوت او بلنې په لاره کې به هغه صلی الله علیه وسلم د دښمنانو او معاندینو له خوا ډول ډول کړاوونه او تکلیفونه ویني، مخالفت به ورسره کیږي، ملنډې به ورباندې وهل کیږي، ان تر دې چې دده او دده د صحابه وو رضي الله عنهم د قتل او وژلو کوښښونه به کیږي. نو الله تعالی ورته امر کوي چې ددې ټولو مشکلاتو په وړاندې له صبر او زغم نه کار واخلي او د فولادي غره په شان ثابت او ټینګ ودریږي، خو دا صبر او ثبات به ددې پخاطر نه وي چې کومه شخصي ګټه او نفسي غوښتنه یې پرې پوره شي بلکه دا ټول به یوازې او یوازې د الله تعالی د رضا په خاطر وي.

الله اکبر! دا حکمونه او اوامر په ظاهره څومره بسیط خو الفاظ یې څومره جذاب، اوچت او د زور اثر درلودونکي دي، او همدا په ظاهر کې بسیط او آسانه اوامر د عمل او هدف په ډګر کې ډیر عظیم، سخت او لوی دي. او د همدې اوامرو په نتیجه کې څومره عظیم الشان طوفان را اوچت شویدی چې د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسیدلی، لوی انقلاب یې راوستی او نړۍ یې یو له بل سره وصل او یو ځای کړیده.

همدا مبارك آیتونه د تبلیغ او دعوت مواد او اصول هم په ګوته کوي، د انذار مطلب او مقصد دا دی چې دا وښیي د انسان ځینې کارونه او اعمال داسې دي چې نتیجه او عاقبت یې ډیر خطرناك او وخیم دی، او څرنګه چې هرچا ته دا معلومه ده چې انسان پدې دنیا کې د خپلو ټولو کړو نتیجه او جزا نهویني، نو پدې صورت کې د انذار یوه تقاضا دا ده چې د انسان د ټولو اعمالو او کړو وړو د بدلې او جزا لپاره له دنیا نه علاوه یوه بله ورځ هم وجود ولري، او دا همغه ورځ ده چې د قیامت، د جزا، او دین د ورځې په نامه یادیږي، او دا بیا ددې غوښتنه کوي چې باید له دنیوي ژوند نه پرته بل ژوند هم وجود ولري.

او نور آیتونه له بندګانو نه دا غواړي چې باید یوازې د توحید لاره غوره کړي، ټول کارونه یوازې الله جل جلاله ته وسپاري، د الله تعالی د امر او رضا په مقابل کې خپلې هیلې، غوښتنې او د خلکو خوښې او رضا شا ته واچوي.

نو د دعوت مواد او اصول به دا وي:

الف: توحید.

ب: د قیامت په ورځ ایمان.

ج: د نفس تزکیه، له هر ډول منکراتو، بدیو او چټلیو نه ځان ساتل، او د ټولو هغو امورو پریښودل چې د خطرناك عاقبت او وخیم انجام درلودونکي وي. همدا راز د هر ډول نیکۍ، خیر، فضیلت او کمال خپلول او سرته رسول.

د: ټول کارونه الله تعالی ته سپارل.

هـ: ددې سلسلې آخرینۍ کړۍ د محمد (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) په رسالت باندې ټینګ او پوخ ایمان درلودل، او دا ټول د هغه تر قیادت لاندې او د هغه له لارښوونې سره سم سرته رسول دي.

بله دا چې دا مبارك آیتونه ددې عظیم کار او مسولیت د ادا لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته امر کوي چې نور خوب، آرام، ګرمه بستره پریږدي د کړاو، مشقت، او جهاد لاره غوره کړي: ﴿يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ (1) قُمْ فَأَنذِرْ (2)﴾ دا ددې معنی ورکوي لکه چې وویل شي: هغه څوك چې یوازې د ځان لپاره ژوند کوي، کیدای شي خوب او آرام ولري، خو ته اې محمده صلی الله علیه وسلم دومره مسولیت په غاړه لرې چې باید نور د خوب، آرام او ګرمې بسترې په فکر کې نه وې، ستا پیټی دومره درونډ دی چې له هغه سره له کړاو او مشقت پرته بل څه نه شې لیدلی، پاڅه، ډیرعظیم مسولیت در په غاړه دی، دا تر ټولو ستر پیټی همدا ستا دی، پاڅه د جهاد او تکلیفونو دا اغزنه لار ووهه، پاڅه! نور د خوب او آرام وخت نشته نور د بې خوابۍ، مسلسل کړاو دور شروع شویدی، پاڅه او ددې لوی او درانده بار د اوچتولو لپار ځان تیار او چمتوکړه. دا ډیره عظیمه او هیبتناکه کلمه او خبره ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له ګرمې بسترې او آرام ژوند نه راپاڅوي او د تندو توپانونو، خونړیو جګړو، او عظیمو حادثو په سمندر کې یې ورلاهو کوي، د کور له آرام ژوند نه یې را باسي او د خلکو د ضمیرونو او ژوندنیو حقایقو د مقابلې او کشمکش په میدان کې یې دروي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم هم ددې الهي حکم د اوریدو سره سم را پاڅید او څه د پاسه شل کاله د جهاد او مقاومت په ډګر کې ولاړ و، خوب او آرام یې نه درلود. ددې عظیم مسولیت د ادا په لار کې یې ځان، اهل او اولاد ټول هیر کړي وو، په پوره ثبات او میرانه سره یې د الله تعالی لورته بلنه کوله، او ددې دومره ستر او درانده بار او پیټي په اوچتولو او وړلو کې یې د ستوماني او کمزورۍ احساس ونکړ. ریښتیا هم چې دا ډیر درونډ بار و ځکه دا د ټول بشریت، او د ټولې عقیدې مسئولیت و، دا د ژوند په ټولو اړخونو کې د جهاد او انقلاب لار وه. دا ټوله موده د الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم د جهاد، جګړې او کړاو په ډګر کې و، داسې کله هم پیښه نه شوه، چې د یوه کار له امله دې بل کار ورنه پاتې شوی وي. له کومه وخته یې چې دا الهي حکم تر غوږو شویدی له همغې ورځې

نه يې ټول ژوند د مسلسل جهاد او دوامدارې جګړې په ميدان کې تير کړيدی، جزاه الله عنا وعن البشرية كلها خير الجزاء. [ظلال القرآن]

دلته به دا يادونه اړينه وي، چې الرحيق المختوم د سيرت په باب ډير په زړه پورې مختصر او جامع کتاب دی، خو متاسفانه چې سندي حيثيت يې ډير کمزوری دی، اکثره احوال يې سيرت د ابن هشام څخه راخيستي دي، اصل مراجعو ته يې رجوع نده کړې، د سند د صحت او ضعف خيال يې ندی ساتلای، نو دې وجې نه کاملا تحقيق ته اړتيا لري، ځکه سيرت دين دی، د نبي عليه السلام د ژوند ټول اړخونه بيانول دي، کچيرې مونږ دې کې ضعيفه خبره پرته له وضاحت څخه بيانه کړو، نو امت به يې دين وګڼي، هغه مطابق به اعتقاد او عمل شروع کړي، او پدې طريقه به هغه څه دين کې داخل کړي چې هغه به حقيقت کې دين نه وي، خو نور د سيرت بيانولو طرز، نمط او ترتيب له لحاظه الرحيق المختوم کتاب ډير اعلی دی.

د نبي عليه السلام د رسالت دوران بنيادي دوه مراحلو ته تقسيمولای شو:

اول: د دار الكفر دور. دويم: د دار الاسلام او تمکين دور.

بيا دار الكفر کې هم درې دورې وې:

١.لومړۍ دوره د پټ دعوت وه.

٢.دويمه دوره د ښکاره دعوت وه.

٣.دريمه دوره د مکې څخه بهر قومونو ته د دعوت وه.

پيل به د دار الكفر دور څخه وکړو:

اول: د دار الكفر د ستونزو او کړاوونو ډک دوران:

نبي عليه السلام د توحيد په پار او د شرک پر ضد مبارزه په داسې ټولنه کې پيل کړه چې د شرک او خرافاتو په تورو تيارو پوښل شوې وه، د توحيد لمر ورانګې ورکې وې، د لا اله الا الله ابراهيمي ملت څخه خلک ليرې شوي ول، د مخلوق بندګي شروع وه، د بندګانو وضعي قوانين نافذ وو، د خاورو ډيرکيو ته سجدې کيدې، د شګو، لرګو او ختو څخه جوړ شوي بتانو څخه کومک او امداد غوښتل کېدو. نو دې وخت کې ددغه قبيحو شرکونو، غلطو عقائدو، ناوړه تهذيبونو، فرهنګونو، ثقافتونو، دودونو، د ناکاره اخلاقو او ډول ډول ګناهونو پرضد غږ پورته کول ډير دروند کار و، او د الهي نصرت پرته ددې کار نتيجه صفر معلوميده، خو کله چې محمد رسول الله عليه السلام خپل مسؤوليت، د مبارزې هدف، دښمن او موانع وپيژندل نو بيا يې يوه لحظه صبر هم ونکړو، او په عملي ډول يې پدغه اغزن مزل پيل وکړ.

د مشهور قول په بناء په مکه کې نبي عليه السلام د نبوت څخه وروسته ټول ديارلس کاله تير کړي وو، او مدينه کې يې په اتفاق د علماؤ سره لس کاله ژوند تير کړي وو.

صحيح البخاري 4/ 238 او صحيح مسلم 4/ 1825، 1826 دواړو د ابن عباس رضي الله عنهما او مستدرك الحاكم 3/ 2 خپل سند سره د علي رضي الله عنه څخه روايات راوړي چې نبي عليه السلام مکه کې ديارلس کاله تير کړي دي. او د صحيح البخاري او مسلم وغيره صحيح رواياتو کې د عائشه، ابن عباس او انس رضي الله عنهم څخه دا قول هم صحيح ثابت دی چې نبي عليه السلام په مکه کې لس کاله تير کړي دي، او مدينه کې يې هم لس کاله تير کړي دي.

بعضې رواياتو کې د مکې دور په اړه پنځلس کاله هم راغلي دی، خو حافظ ابن حجر مکه کې د ديارلس کاله نبوت دورې ته ترجيح ورکړې ده، نوموړی وايي: يقينا د هغه اوسيدل په مکه کې ديارلس [كاله] وو، دا د جمهورو وينا ده او همدا مشهوره ده. او د چا څخه چې ددې قول په خلاف خبره نقل شوې، چې دا د ابن عباس، عائشه او انس رضي الله عنهم دي، بيا د معاويه رضي الله عنه څخه هم مشهور نظر همدغه نقل شوی، او پدې باندې ابن المسيب، شعبي او مجاهد هم کلک قول کړی دی، او احمد وايي: زمونږ پر نزد همدا صحيح دی. (فتح الباري 8/ 151).

په مکه کې د دې لس کالو تيرولو روايت په اړه علماؤ دوه توجيهات بيان کړي دي:

اول: کچيرې دا ومنل شي چې درې کاله وحي بنده وه، نو بيا دا خبره په حقيقت بناء ده، چې د نبوت دوره په مکه کې هم لس کاله وه.

دويم: دا د عربانو عادت دی چې کله نا کله عدد سره کسر نه وايي. او همدا دويم قول غوره ښکاري.

د دار الكفر لومړۍ مرحله: د پټ دعوت دور:

د دار الكفر درې مرحلو کې لومړۍ مرحله د پټ دعوت وه، او په لومړيو کې همدا لاره مناسبه وه، ځکه کله چې داعي ځانته يو څو ملګري پيدا کړي، لږ قوت راجمع کړي، په سخته کې د پناه وړولو ځای ځان ته جوړ کړي، د هغې نه وروسته که دا دعوت ښکاره شي نو انسان په مبارزه کې دومره نه ستومانه کيږي. دا د وحي پټ دعوت دوره هم خورا ستونزمنه وه، ځکه څنګه نبي عليه السلام خلکو ته قناعت ورکړي چې زه نبي يم، تر اوسه عام انسان و، او اوس دومره لويه دعوه وکړي چې د اووه آسمانانو د پاسه د کرسي او عرش د پاسه رب ما ته محترم او مقرب ملائک راليږلی، د هغې په توسط يې خپل کلام ما ته راوليږو او زه يې د ټول انسانيت د هدايت په پار وټاکلم، ظاهره کې دې خبره باندې يقين کول سخت و، ځکه کومه ظاهري نښه نبي عليه السلام نه درلوده. اګر که وروسته بيا معجزات ښکاره شو، خو يواځينۍ مؤثره وسيله د رب کلام و، يوځل به چې چا واوريدو نو ډير زر به يې درک کړو چې دا کلام د بندګانو نه دی، او صادق او امين محمد عليه السلام د مبارکې خولې څخه ددې کلام راوتل ددې ګواهي کوي، چې دا انسان د الله عزوجل حق پيغمبر او رسول دی.

د پټ دعوت دورې مودې په اړه هم د علماؤ مختلف اقوال دي:

١.امام ابن إسحاق او واقدي په نزد دا مرحله درې کاله وه.

سيرت د ابن هشام کې د ابن اسحاق قول بغير د کوم سند نه ذکر شوی، او واقدي خپل متروک راوي دی او استاذ [شيخ] يې هم مجهول دی.

٢.علامه بَلَاذُرِي وايي دا موده څلور کاله وه. [أنساب الأشراف]

د مکې عربان پدغه وخت کې په قبيلو ويشل شوي وو، په مکه کې د سياست، تنظيم، پاليسي، پريکړې او تړونونه د قريشو قبايلي سيستم پر اساس کيدلې. قريشو کې دننه ١۴ فرعي قبيلې او څانګې وې.

د دغه قبيلوي او قومي نظام په پايله کې پکار دا وه چې اول اسلام په بنو هاشم کې خپور شوی وی، بيا وروسته په نورو قبيلو کې. ځکه يوې قبيلې د بلې مشري يا داسې کومې خبرې نه منلی، هر يو ځان مستقل ګڼو.

خو د دې په خلاف د اسلام خوريدل د قبايلي عصبيت او قوميت پورې کوم تړاو نه درلود، ځکه د بنو هاشم برخه په اسلام راوړلو کې د نورو قبيلو څخه زياته نه وه.

اګر که بنو هاشمو مينه او نصرت نبي عليه السلام سره د نورو قبيلو په خلاف زيات و، خو دغه مينې دوی اسلام ته راداخل نه کړل، تر دې چې بنو هاشمو کې د نبي عليه السلام ستر ملاتړي ابو طالب هم ايمان رانه وړ.

نو اسلام د قريشو خاندانونو کې په متوازي او مساوي ډول خپور شو، چې دا هم د نبي عليه السلام د حقانيت يو ستر دليل و. او يوه خه امنيتي نقطه هم وه، ځکه هر قبيله پخپل کور کې مصروفه وه، د کفارو قوت او ائتلاف پاشل شوی و، يوې نقطې ته راټول نه و. ځکه بيا يې مقابله ګرانه وه، نو هره قبيله کې يو مسلمان پيدا شو، او خپله قبيله يې ځان پورې مصروف کړه.

لکه أبو بكر الصديق د "تيم" ، عثمان بن عفان د "بنو أمية" ، زبير بن العوام د "بنو أسد" ، مصعب بن عمير د "بنو عبد الدار" ، علي بن أبي طالب د " بنو هاشم" ، عمر بن الخطاب د "بنو عدي" ، عبد الرحمن بن عوف او سعد بن أبي وقاص د "بنو زهرة" ، عثمان بن مظعون د "بنو جُمَح" قبيلې څخه و. بلکې بعضې صحابه بيخي د قريشو څخه نه وو، هغوی د نورو قبيلو پورې تړاو درلود، عبد الله بن مسعود د هذيل، عتبة بن غزوان د مازن، عبد الله بن قيس د أشعريينو، عمار بن ياسر د عَنْس د مذجح، زيد بن حارثة د کلب، طفيل بن عمرو د دوس، أبو ذر د غفار، عمرو بن عبسة د سليم، عامر بن ربيعة د عَنْز بن وائل او صهيب النمري د بنو النَّمِر بن قَاسِط څخه و. د اسلام پيل د يوې قبيلې څخه نه بلکې د ټولو قبيلو څخه زنځيري شکل کې وشو.

دا وګورئ، محترمو ورونو ابتداء د اسلام د قوميت او وطنيت بت ماتولو سره شوې ده، خو نن طالبان او نور کفري ملتونه د مسلمانانو ترمنځ د اختلاف، افتراق، ډله بازۍ تخمونه شيندي، او په مختلفو چلونو سره ددوی اتحاد خرابوي، ځکه دې کفارو نبوي سيرت مطالعه کړې دی، چې د مسلمانانو د بريا راز او مهمه نقطه خپل منځي اتحاد او اتفاق دی، ځکه دا يو قوم نه دی، يو ټبر او خاندان نه دی، بلکې د نړۍ ټول مسلمانان د يو تار پيلل شوي غمي دي، د يو لاس ګوتې دي، د يو وجود اندامونه دي، ددوی جدايي ناممکنه ده. چې دا شرف الله عزوجل نن اسلامي خلافت ته وروبښو چې د عرب او عجم، مشرق او مغرب مسلمانان يې د يو خليفه او نبوي منهج او بيرغ تر سيوري

لاندې راټول کړل. والحمد لله على ذلك.

د اسلامي کاروان لومړي اتلان:

وس به د الله په توفيق سره هغه ممتاز خلک بيان وکړو، چې تر ټولو مخکې يې اسلام قبول کړی، د اسلام لومړي لارويان دي، هغه بختور بندګان دي چې د توحيد قبوليت کې يې لومړی مقام ترلاسه کړی.

او دې ځای نه زموږ ستاسې لپاره هم مهم درس شروع کيږي، د اسلامي نظام قيام په پار د مبارزې ځانګړې اصول او ګټورې لارښوونې پکې شوي دي، چې يوه سيمه کې به د الله د لارې مجاهد خپله جهادي مبارزه په کوم ډول شروع کوي، لومړی به چاته دعوت ورکوي، کوم ډول خلک به د دعوت لپاره منتخبوي، داسې ځای دی، چې يو ملګری هم نه لري، خلک هم د ده سره عقيده کې جوړ نه وي، نو راځئ چې د اسلام لومړيو مسلمانانو احوال باندې پيل وکړو او د اسلامي نظام قيام په پار مبارزې عملي بڼه زده کړو:

۱.د خديجة الكبرى رضي الله عنها ايمان راوړل:

تر ټولو لمړی اسلام راوړلو منقبت د خديجة الكبرى رضي الله عنها په برخه شوی. ځکه نبي عليه السلام چې د وحې راتګ څخه وروسته لمړي ځل کور ته راستون شو، ډير ويريدلی و، نو خديجې ورته ډاډ ورکړو، د هغه ملاتړ يې وکړو او ايمان يې پرې راوړ.

ابن اسحاق په خپل سند سره د عبيد بن عمير تابعي څخه نقل کړي: خديجه رضي الله عنها نبي عليه السلام ته وفرمايل: إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ نَبِيَّ هَذِهِ الْأُمَّةِ. سيرة ابن اسحاق. ژباړه: زما دا ګمان [يقين] دی چې ته ددې امت نبي يې.

[ددې حديث سند ته بعضې معاصرينو صحيح ويلي دي، چې ابن اسحاق تدليس ندی کړی، وهب بن کيسان ثقه تابعي دی، او عبيد بن عمير هم ثقه تابعي دي، د نبي عليه السلام په دور کې زيږيدلی دی، خو بيا هم د تابعي قول شو، مخکې ذکر ددې روايت ذکر وشو]

خو ددې روايت پرته د صحيحينو احاديثو څخه څرګنديږي چې خديجه رضي الله عنها په نبي عليه السلام تر ټولو لومړی ايمان راوړ.

داسې بختوره زنانه وه، چې د اسلام قبوليت ستر شرف ته تر ټولو مخکې ورانډې شوه. او موږ تاسې لپاره پکې دا درس پروت دی چې د حق تابعداران هميش کمزوري خلک وي، خير دی که نن سبا د مجاهدينو پلويان اکثر کمزوري خلک دي، د قومونو او قبيلو مشران د حالاتو د سختيو له امله د اسلامي نظام نصرت ته زړه نه ښه کوي خو يو وخت راروان دی چې د قبايلو وفدونه به د دار الاسلام په لور راروان وي، ان شاء الله.

۲.د علي رضي الله عنه اسلام راوړل:

د سيرت اکثرو کتابونو د خديجې رضي الله عنها پسې ابو بکر صديق رضي الله عنه اسلام ذکر کړی، ځکه چې هغه مشر سړی و، خو موږ ته راجحه دا ښکاري چې د اسلام راوړلو ترتيب کې علي رضي الله عنه د ابو بکر رضي الله عنه څخه مخکې و، دويم قدم کې د اسلام راوړلو شرف علي رضي الله عنه ته حاصل دی.

ځکه علي رضي الله عنه د نبي عليه السلام سره کور کې دننه و، نو اول د کور خلکو پرې ايمان راوړ، بيا خبره بهر خلکو ته ووتله. والله أعلم.

علماء کرام وايي چې علي رضي الله عنه پالنه نبي عليه السلام کوله، ځکه د هغه پلار ابو طالب داسې سړی و، چې بچي يې زيات و، او مال يې کم و، نو نبي عليه السلام سره چې په وړوکوالي کې کوم احسانات کړي وو، وس ورته محمد رسول الله عليه السلام خپله بدله ورکوله. او دا زوی يې ورته ساتو. نو دا ورسره کور کې و، پدغه کيسه باندې دا هم خبر شو، او ايمان يې راوړ.

د علي رضي الله عنه ساتنې په اړه روايات مشهور دي خو سند کې بعضې کمزورياني لري. او هر چې د علي رضي الله عنه سبقت د اسلام دی نو دا خو صحيح احاديثو څخه ثابت دی.

ابو حمزه انصاري وايي چې ما د زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ څخه واوريدل هغه وويل: «أَوَّلُ مَنْ أَسْلَمَ عَلِيٌّ». قَالَ: عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِإِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ، فَأَنْكَرَهُ وَقَالَ: أَوَّلُ مَنْ أَسْلَمَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ. سنن الترمذي بسند صحيح.

ژباړه: تر ټولو لومړی اسلام علي رضي الله عنه راوړی و. عمرو بن مره راوي وايي: ما دا خبره ابراهيم نخعي ته وکړه، هغه دا خبره غلطه وګڼله او ويې ويل: تر ټولو لومړی اسلام ابو بکر الصديق رضي الله عنه راوړی و.

امام ترمذي هم دې اختلاف ته اشاره کړې ده، حديث د ابن عباس رضي الله عنهما يې راوړی دی، چې هغه فرمايي:

«أَوَّلُ مَنْ صَلَّى عَلِيٌّ». " ژباړه: تر ټولو اول مونځ علي رضي الله عنه کړی دی.

بيا مخکې وايي: وَقَدْ اخْتَلَفَ أَهْلُ العِلْمِ فِي هَذَا، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: أَوَّلُ مَنْ أَسْلَمَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ وقَالَ بَعْضُهُمْ: أَوَّلُ مَنْ أَسْلَمَ عَلِيٌّ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ: أَوَّلُ مَنْ أَسْلَمَ مِنَ الرِّجَالِ أَبُو بَكْرٍ، وَأَسْلَمَ عَلِيٌّ وَهُوَ غُلَامٌ ابْنُ ثَمَانِ سِنِينَ، وَأَوَّلُ مَنْ أَسْلَمَ مِنَ النِّسَاءِ خَدِيجَةُ.

ژباړه: د علماؤ پدې خبره کې اختلاف دی، ځينې وايي لومړی اسلام ابوبکر راوړی او ځينې وايي لومړی اسلام علي راوړی. او بعضې علماء وايي: په سړو کې لومړی اسلام ابوبکر رضي الله عنه راوړی، او علي رضي الله عنه اسلام راوړی و چې هغه د اته کالو و، او زنانه وو کې لومړی اسلام خديجه رضي الله عنها راوړی و.

دا يې تطبيق وکړو، چې سړو کې ابو بکر، ماشومانو کې علي او زنانه وو کې خديجه رضي الله عنهم لومړی اسلام راوړنکي وو.

دې وخت کې علي رضي الله عنه څو کلن و ؟

د امام ترمذي قول خو ذکر شو چې هغه وايي اته کلن و. خو حافظ ابن حجر فتح الباري کې دې ته ترجيح ورکړې ده چې لس کلن و. خو ډير د تعجب کار دی چې اته کلن ماشوم يا لس کلن ماشوم تر ټولو اسلام ته سبقت کونکی وي، ځکه خو راتلونکي وخت کې د اسلام ځلانده ستوری وګرځيد.

د احاديثو کتابونو کې د علي رضي الله عنه اسلام راوړل او نبي عليه السلام سره مونځ کول د سه شنبې په ورځ ښودل شوي دي، چې هغه د نورو مسلمانانو څخه اووه کاله مخکې لونځ شروع کړی و. خو دا حديث ضعيف دی. [مسند أحمد 1/ 99 وكشف الأستار 3/ 182 وفي إسناده يحيى بن سلمة بن كهيل شيعي متروك. (تقريب التهذيب 591). وسنن الترمذي 5/ 640 وفي إسناده مسلم بن كيسان مجمع على ضعفه]

امام أحمد بن حنبل په خپل مسند کې د عفيف الكندي په نوم صحابي له خولې د نبي عليه السلام، خديجه او علي رضي الله عنهما مونځ ذکر کړی دی، او دا يې هم ويلي چې دوی لومړني مسلمانان وو.

[مسند أحمد 1/ 209 - 210 ومستدرك الحاكم 3/ 183 وصححه وأقره الذهبي خو ددې په سند کې إسماعيل بن إياس دی، او هغه کمزوری راوي دی. (التاريخ الكبير 1/ 345، 441).]

د علي رضي الله عنه په صحيح سندونو ثابت فضائل ډير زيات دي، نو د کمزورو رواياتو او د دروغو کيسو ذکر کولو ته حاجت نشته.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي جعل في سِيرَ الصالحين عبرةً للمعتَبِرِين، وذكرى للذاكرين، وجعل في الصادقين منهم أسوةً وقدوةً للمقتدين، وأشهد أن لا إله إلا الله، وحده لا شريك له، إله الأولين والآخرين، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله. اما بعد :

قال تعالى " وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ. التوبة " ١٠٠

قال عمر رضی الله عنه " حق على كل مسلم أن يُقَبِّلَ رأسَ عبدَ اللهِ بن حُذَافَةَ وأنا أبدأ بذالك،

ترجمه " په هر مسلمان دا لازمه ده چې د عبدالله بن حذافه رضی الله عنه سر ښکل کړي، او زه پرې اول شروع کوم، نو ودريد، او د عبدالله رضی الله عنه سر يې ښکل کړ،

د همدغې کيسې ځوان د صحابه و له ډلې نه هغه ستره هستي ده چې عبدالله بن حذافه سَهْمي نوميږي،

د تاريخ د لاسه دا پوره وه چې په همدې سړي داسې تيرشوي وای لکه ترده وړاندې چې په ميليونونو عربو تيرشوي وو، خو هغوی ددی څه پروا ونه کړه، او نه ورته هغوی څه پام وکړ، خو ستر اسلام عبدالله بن خذافه رضی الله عنه ته دا موقع ورکړه چې د خپل وخت ددنيا له دوو سترو سردارانو سره ملاقات وکړي چې هغه يو د فارس او د ايران بادشاه کسری دی، او بل د روم ستر «قيصر» دی او له دې دواړو سره يې يوه، يوه داسې کيسه شته چه تل به يې دنيا يادوي او د تاريخ ژبه به يې روايت کوي.

د فارس له بادشاه سره دده کيسه او ملاقات د هجرت په شپږم کال باندی په هغه وخت کې وشو چې نبي ﷺ عزم وکړ چې د خپلو ملگرو نه د ځينو ملگرو په لاس د عجمو بادشاهانو ته خطونه وليږي او د اسلام دعوت ورکړي، نبي ﷺ ته ددې مهم عمل اهميت څرګند ؤ، دا استازي او خط وړونکي به ژرتر ژره داسې لری ښارونو ته ځي چې ددينه مخکې يې تعلق او ليده کاته ورسره نه شته، ددوی د هغه ښارونو د خلکو ژبې هم نه وې زده او د بادشاهانو د مزاجونو په اړه هم معلومات ورسره نه ؤ، ددی سره سره به دا بادشاهان ژر تر ژره د خپلو پلرونو ددين، قدرت، عزت او بادشاهي پريښودلو ته رادعوت کړي، او د هغه قوم ددين منلو دعوت به ورکوي چې نږدې نن اوپرون ددوی له پيروانو څخه ؤ.

دا ډير خطرناک سفر ؤ، په دې سفر تلونکي مفقود يعني ورک شوي او ر استنيدونکي لکه نوی مولود او پيدايش داسې شميرل کيده، خو رسو ل الله ﷺ خپل ملگري راغونډ کړل او د دوی په وړاندی خطبې ويلو ته جگ شو، د الله ﷻ حمد او ثنا او تشهد يې ووايه او ورپسې يې داسې ووېل : امابعد: زه غواړم له تاسو څخه ځينې کسان د عجمو بادشاهانو ته واستوم؛ نو تاسو په ما داسې رد مه کوئ لکه بني اسرائيلو چې د عيسی بن مريم غوښتنه ردکړه!

د رسول الله ﷺ ملگرو ورته ووېل : ای د الله رسوله ! د کوم څه چې اراده لرې، مونږ به د هغه امتثال وکړو چې چيرته دی زړه وي هلته مو وليږه،

نبي کريم ﷺ له خپلو ملگرو څخه شپږ تنه ددې لپاره انتخاب کړل چې د عربو او عجمو بادشاهانو ته اول خط ورسوي، نو له همدې شپږو تنو څخه يو نفر عبدالله بن حذافه سهمي رضی الله عنه ؤ، دی ددې لپاره انتخاب کړای شو چې د نبي کريم ﷺ ليک به د فارس او د ايران بادشاه ته وړي چې کسرٰی نوميده،

عبدالله بن حذافه رضی الله عنه خپله سوارلۍ مجهزه کړه، له خپلې ښځې او بچي څخه يې رخصت واخيست، او د خپل مقصد په لور وخوځيد، او په ډيرو لوړو او وچتو او پر ډيرو ژورو په داسې حال کې کوز او پورته شو، چې له الله ﷻ څخه پرته بل هيڅوک ورسره مدد کوونکې نه ؤ، تر څو چې د فارس سيموته ورسيد، بادشاه ته د تللو اجازه يې وغوښته او د بادشاه د دربار کارکوونکي يې د هغه رسالې په راوړلو خبر کړل چې بادشاه ته يې راوړې وه،

په دې وخت کې کسری امر وکړ چې شاهي دربار دی مزين کړای شي او د فارس مشران او مخور خلک يې دده مجلس ته راوبلل، هغوی هم راحاضر شول ،وروسته يې عبدالله بن حذافه رضی الله عنه ته د داخليدو اجازه ورکړه،

عبدالله بن حذافه رضی الله عنه د فارس بادشاه ته په داسې حال کې ور داخل شو چې خپل سادر يې په ځان راتاو کړې ؤ، خپله عباء يې پر اوږو اچولې او د عربو په

شان یې جامې کړې وې، خو ددې سره عبدالله رضی الله عنه ددنګې غاړې، هسکې او وچتې ونې، او پراخې سینې څښتن ؤ چې د اسلام نور یې په تندي کې بریښېده، او په زړه کې یې د ایمان نور او رڼا بله وه،

عبدالله رضی الله چې کله کسری ولید، سمدستي یې خپل یو نوکر ته اشاره وکړه چې لیک دده له لاس څخه واخلي؛ خو ده وویل " ماته رسول الله ﷺ په دې امر کړی چې تاته به یې لاس په لاس درکوم ، او زه د رسول الله ﷺ د امر مخالفت نه شم کولای،

کسری خپلو نوکرانو ته وویل " پرې یې ږدئ چې ماته رانژدې شي، دی هم کسری ته ورنژدې شو، لیک یې په خپل لاس ورکړ، وروسته کسری یو عرب لیکوال چې دحیرې ؤ " حیره په عراق کې یو ځای دی " نو دا یې راوغوښت او امر یې ورته وکړ چې لیک دده په وړاندې پرانیزي او ده ته یې ووایي، په هغه لیک کې داسې مضمون ؤ،

بسم الله الرحمن الرحیم

د محمد رسول الله ﷺ له لوري د فارس بادشاه کسری ته، سلامٌ علی من اتبع الهدی .....

کسری چې په لیکنه او خط کې دا اندازه واوریده سمدستي یې په سینه کې د غضب اور لمبې وکړې، مخ یې سور واوښت د غاړې رګونه یې وپړسیدل، ځکه نبي ﷺ اول په خپل نوم سره شروع کړی وه لیک یې د خپل کاتب له لاسه واخیست له دې پرته چې په نور مضمون یې ځان خبر کړي په داسې وخت کې یې ټوټه، ټوټه کړ چې ناړې یې وهلې : آیا دی ماته داسې خط لیکي، سره له دې چې زما غلام دی؟ وروسته یې امر وکړ چې عبدالله بن حذافه دده له مجلسه وباسي هغه هم وویستل شو،

عبدالله رضی الله عنه په داسې حال کې د کسری له مجلسه راووت چې په دې نه پوهیدو چې الله ﷻ به څه پیښوي، آیا وژني به یې او که آزاد به یې خوشې کوي؛ خو سمدستي یې له ځان سره داسې وویل " چې د رسول الله ﷺ لیک مې ورساؤ، نور مې والله که هیڅ غم وي، هر څه چې راپیښیږي قبول مې دي، په خپله سوارلۍ سپور او روان شو؛ خو له کسری څخه چې غوصه او قهر لرې شو بیرته یې امر وکړ، چې عبدالله ورته راولي خو هغه موجود نه ؤ، خلکو ولټاوه هیڅ نښه نښانه یې ونه موندله،

په لاره د جزیرة العرب پوری ورپسې لاړل؛ خو دی مخکې خپل هدف ته رسیدلی ؤ، عبدالله چې کله نبي ﷺ ته راغلی، د کسری کړه وړه او د لیک څیرل یې ورته بیان کړل، محمد ﷺ هم تردې نور زیات څه ونه ویل او دا یې وویل " چې الله تعالی دی دده بادشاهي ټوټه، ټوټه کړي،

کسری د یمن والي ته ولیکل چې هغه کس چې په حجاز کې راڅرګند شوی هغه ته دوه تکړه خلګ ولیږه او امر ورته وکړه چې ماته یې راولي...

باذان د یمن والي خپل دوه تکړه ملګري رسول الله ﷺ ته ولیږل او دوی له ځان سره د والي خط رسول الله ﷺ ته وروړ، په هغې کې امر شوی ؤ چې له همدې دواړو کسانو سره بغیر د تاخیر او روستوالي څخه د کسری په دربار کې حاضر شه...

او له هغه خلکو څخه یې غوښتنه وکړه چې د نبي ﷺ احوال واخلي، او دده په اړه پوره معلومات وکړي او له ځان سره هغه معلومات دده حضورته وړاندې کړي چې دوی ترلاسه کړي وي،

دغه کسان په تیز سفر ووتل تر دی چې طائف ته ورسیدل هلته یې د قریشو تجاران وموندل دوی د محمد ﷺ په اړه پوښتنې ورڅخه وکړې هغوی ورته وویل " هغه په یثرب کې دی، وروسته تجاران مکې ته په داسې حال کې راستانه شول چې ډیر خوشحاله او زیري وړونکي وو، دوی قریشو ته مبارکۍ ورکولې او ویل یې" سترګي مو یخې شه! کسری په محمد ﷺ تعرض کړی تاسو به یې له شره خلاص شئ،

د باذان دوه استازي او خط وړونکي د مدینې لور ته لاړل کله چې ور ورسیدل هلته یې له رسول الله سره لیده کاته وشول، د باذان لیک یې ورکړ او ورته یې وویل " د بادشاهانو بادشا کسری زمونږ بادشاه باذان ته لیکلي چې تاته داسې څوک راولیږي چې تا راولي! مونږ تاته راغلي یو چې ته له مونږ سره لاړ شې که دی زمونږ خبره ومنله مونږ به ستا په اړه کسری ته داسې څه ووایو چې ستا په کې ګټه وي او ته یې له شره محفوظ شې او که دی له منلو ډډه او انکار وکړ، نو بیا خو تاته دده زور او قوت معلوم دی ستا او ستا د قوم د هلاکولو په اړه، رسول الله ﷺ وخندل او ورته ویې ویل " تاسو نن ورځ خپلو ځایونو ته لاړ شئ او سبا بیا دواړه راشئ،

سبا چې کله دوی رسول الله ﷺ ته راغلل او ورته یې وویل " آیا تا ځان ددې لپاره تیار کړی، چې زمونږ سره کسری ته لاړ شې؟ نبي ﷺ ورته وویل " نور به د تل لپاره له کسری سره مخامخ نه شئ! هغه الله تعالی ووژه، دده زوی " شیرویه " یې په فلانۍ شپه... او په فلانۍ میاشت وربانډې مسلط کړ، دوی په ځیر، ځیر رسول الله ﷺ ته وکتل او په مخونو کې یې ویره معلومه شوه، ویې ویل " ته پوهیږې ته څه وایې؟ آیا مونږ دا خبره باذان ته ولیکو؟! رسول الله ﷺ ورته وویل " هو! او دا هم ورته ولیکئ چې زما دین به تر هغه ځایه ورسیږي تر کومه ځایه چې د کسری بادشاهي رسیدلې وه، که ته چیرې اسلام ومنې ستا تر لاس لاندی چې څومره زمکه ده هغه به ټوله درکړم او تا به د خپل قوم واکمن او امیر وټاکم، هغه دوه کسان د رسول الله ﷺ څخه رخصت شول باذان ته راغلل او خبر یې ورته راوړ، ده وویل " که چیرې خبره داسې وي لکه محمد ﷺ چې ویلي دي؛ نو بیا خو ریښتنی نبي دی او که همداسې نه وي؛ نو بیا به زه فکر پکې وکړم،

ډیر وخت له نه ؤ تیر شوی چې باذان ته د شیرویه لیک راغی او په هغه کې وو "

امابعد: ما کسرای ووژه او صرف مې د خپل قوم د غچ اخیستلو په نیت ووژه، ځکه ده د قوم د اشرافو او مشرانو وژل، ددوی ښځې یې بندي کول او ددوی مالونو لوټل یې روا ګڼلي وو، که چیرې زما دا لیک درشي؛ نو ستا په وړاندې چې هر څوک دي له هغوی څخه زما لپاره بیعت واخله، باذان چې کله د شیرویه لیک ولوست سمدستي یې یو طرف ته وغورځاوه او په اسلام کې دداخلیدو اعلان یې وکړ، او په یمن کې چې له ده سره څومره فارسیان موجود وو، هغوی هم اسلام ومانه، داد عبدالله بن حذافه رضی الله عنه هغه کیسه وه چې د فارس له بادشاه سره یې لیده کاته شوي وو،

دده هغه کیسه بیا چې د روم له بادشاه قیصر سره یې لیده کاته شوي هغه کومه وا ؟

نو د عمر رضی الله عنه د خلافت په وخت کې ؤ، او دده دا کیسه له ډیرو جالبو کیسو نه یوه کیسه ده، د هجرت په نولسم کال عمر رضی الله عنه یو لښکر د رومیانو سره د جګړې او جنګ لپاره ولیږو، چې په هغه کې عبدالله بن حذافه هم موجود ؤ، د رومیانو ستر بادشاه ته د اسلامي مجاهدینو هغه خبرونه رسیدلي وو چې ددوی عقیده څومره محکمه او ایمان څومره راسخ او مضبوط دی او ځان د الله تعالی او رسول الله ﷺ د لارې په مخکې څومره کامیاب بولي، نو له دې کبله ده خپلو جنګیالیو ته امر وکړ، چې که مو د مسلمانانو له اسیرانو څخه یو تن ونیو، چې ویې نه وژنئ او ما ته یې ژوندی راولئ! د الله تعالی همدا رضا وه چې عبدالله بن حذافه رضی الله عنه د رومیانو په لاس کې اسیر شو، دوی هم خپل بادشاه ته ور وړاندې کړ او ورته ویې ویل " داد محمد ﷺ له هغه ملګرو څخه دی چې د ده دین ته ډیر ورنژدې دی، مونږ اسیر کړ، او تاته مو راوستو،

د روم بادشاه عبدالله رضی الله عنه ته ډیر په اوږد نظر او ځیرتیا سره وکتل، وروسته یې ورته وویل" زه تاته یو کار وړاندې کوم، عبدالله رضی الله عنه وویل" هغه څنګه ؟ بادشاه وویل " زه تاته دا خبره کوم چې ته نصراني شه! که دې داکار وکړ، ستا لاره به خوشې شي، او قدر به دې وکړم،

عبدالله رضی الله عنه په ډیرې بدبینۍ اوبدنیتۍ ورته وویل" افسوس، ماته زر ځله مرګ تر هغه څه غوره دی، کوم څه ته مې چې ته دعوت کوې،

بادشاه وویل " ته راته یو ځیرک او پوهه شخص معلومیږې، که دې زما غوښتنه ومنله په خپل واک او بادشاهي کې به دې شریک کړم او خپله بادشاهي به درسره تقسیم کړم،

عبدالله په ولچکو او زولنو کې بند اسیر وخندل او ویې ویل" په رب العالمین مې دې قسم وي چې ستا هر څه او هغه څه چې عرب یې څښتنان او مالکان دي دا ټول راکوې، ددې په بدل کې چې د محمد ﷺ دین د سترګو د رپولو هومره پریږدم

نو زه بيا هم ورته نه يم تيار،
بادشاه وويل " نو بيا خو دی وژنم!
عبدالله رضی الله عنه وويل " ته او ستا زړه يعني هغه وکړه چې ستا څه خوخه وي، وروسته بادشاه امر وکړ، چې پانسي يې کړئ او په دار يې وخيژوئ، ده خپلو ويشتوونکو ته په رومي ژبه وويل " چې لاسو يې وويلئ ! دلته يو ځل بيا بادشاه د نصرانيت دعوت ورته وکړ خو ده انکار وکړ،
بادشاه وويل " وس يې ښپې وولئ ! ده بيا د نصرانيت غوښتنه ورڅخه وکړه خو ده ونه منله، په دې وخت کې يې نوکرانو ته امر وکړ چې لاس ورڅخه واخلئ او نور يې مه ولئ او امر يې ورته وکړ چې ددار او د پانسې د لرگي څخه يې راکوزکړئ! وريسې يې يوه لويه کټوي راوغوښته، غوړي يې پکې واچول پر اور يې باندې کړه چې جوش شوه وريسې يې د مسلمانانو له ډلې دوه بنديان راوغوختل او امر يې وکړ چې يو تن يې ور واچوئ! هغه يې ور وغورځاوه، نو دستي يې غوښې سره خوړينې اوهډونه يې لوخ او خالي شول، وريسې يې بيا عبدالله بن حذافه رضی الله عنه ته وکتل او نصرانيت ته يې دعوت ورکړ؛ خو عبدالله رضی الله عنه د مخکې جوابونو نه دا ځل ډير په کلکه انکار وکړ،
بادشاه چې کله ورڅخه نا اميده شو؛ نو امر يې وکړ چې دی هم د خپل ملگري پشان په کټوی کې واچوئ! دغه کافرانو چې کله عبدالله رضی الله عنه روان کړ دده د سترگو اوښکې راغلې او په ژړا شو، د قيصر نوکرانو خپل بادشاه ته وويل" دی خو ژاړي، د بادشاه گمان شو چې کيدای شي دی ويريدلی وي؛ نو ورته يې وويل" بيرته يې راولئ، کله يې چې دده مخې ته ودراوه نو بيا يې هم د تير ځل پشان خپله غوښتنه ورڅخه وکړه خو دده ځواب منفي ؤ او انکار يې کولو، بادشاه وويل" هلاک شې نو بيا ولي ژاړې؟! عبدالله وويل" دا خبره مې ژړوي چې په زړه کې راوگرځيدل زه به وس په همدې کټوی کې لويږم زما نفس به پرواز کوي او مړ به شم خو يقينا زما سره دا شوق دی او زه دا غواړم چې زما د بدن او جسم د ويښتانو په اندازه او شمير باندې زما روحونه وای او هر يو په همدې کټوی کې د الله تعالی په لاره کې لويدلی واي......
سرکشه بادشاه وويل" آيا دادی نه ده خوښه چې ته مې سر ښکل کړې او زه دی لاره خوشې کړم؟
عبدالله رضی الله عنه ورته وويل" د مسلمانانو د نورو اسيرانو لاره هم راسره خوشې کوې؟ بادشاه وويل" هو! د ټولو مسلمانانو اسيرانو لاره خوشې کوم،
عبدالله رضی الله عنه وايي" ماله ځان سره وويل د الله تعالی د يو دښمن سر به ښکل کړم، زما او د ټولو اسيرانو لاره به خلاصه کړم، په دې کې ماته هيڅ مسؤليت نه راجع کيږي، وروسته ورنږدې شوم او سر مې ورښکل کړ، د روم بادشاه امر وکړ چې د مسلمانانو ټول اسيران ورته راغونډ کړئ او ده ته يې په لاس ورکړئ هغوی همداسې وکړل،
عبدالله بن حذافه رضی الله عنه عمر رضی الله عنه ته راغی، له تير جريان څخه يې خبر کړ، کله يې چې اسيران او بنديان وليدل عمر فاروق رضی الله عنه ډير پرې خوشحاله شو، نو عمر رضی الله عنه
وويل " حق على كل مسلم أن يُقَبِّلَ رأسَ عبدَ اللهِ بن حُذَافَةَ وأنا أبدأ بذالك.
ترجمه " په هر مسلمان دا لازمه ده چې د عبدالله بن حذافه رضی الله عنه سر ښکل کړي، او زه پرې اول شروع کوم، نو ودريد، او د عبدالله رضی الله عنه سر يې ښکل کړ،
مومنانو مسلمانانو " دا ؤ د عبدالله بن حذافه رضی الله عنه مختصر سيرت نو که څوک د عبدالله بن حذافه رضی الله عنه تفصيلي معلومات حاصلول غواړي هغه دی دغه کتابونه وگوري،
الاصابة في تميز الصحابة د ابن حجر " دويم جلد
تهذيب التهذيب " پنځم جلد
تاريخ اسلام د ذهبي رحمه الله " دويم جلد
او داسې نور کتابونه د سيرت،

وس ددی سيرت نه بعضې فوائد ذکرو كوو،
اوله" د يو قوم يا د يوی ډلې مشرانو ته په اسلام کې داخليد لپاره او د اسلامي قانون او نظام نه دفاع کولو لپاره ملگري ليږل لکه څنگه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم عبدالله بن حذافه او نور صحابه ليږلي وو،
دويمه " کله چې امير يو مجاهد کوم ځای ته ليږي ولو که هغه ځای په ظاهره کې سخت وي نو مجاهد ته پکار دي چې د خپل أمير اطاعت وکړي او خبره يې ومنې او

داسې اطاعت يې وکړي لکه څنګه چې عبدالله بن حذافه رضی الله وکړ....

دريمه " کله چې يو امير په مجاهدينو باندې يو کار کول غواړي نو داسې ندي کول پکار چې سيده ورته امر وکړي بلکې اول يې ذهن سازي وشي او نصيحت ورته وکړای شي دی لپاره چې کوم کار ته امير اراده کړې وي هغه کار مجاهدين په اخلاص سره وکړي او داسې تيار شي چې په هغه کار کولو کې بيا د مرګ پروا هم نلري لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د کافرانو بادشاهانو ته د خطونو ليګلو اراده وکړه نو اول يې مجاهدينو ته نصيحت وکړ.....

څلورمه " د مسلمانانو سفير او استازی به د معلوم وخت او د معلوم کار لپاره کافرانو ته ليږل کيږي او دا کار به نورو مسلمانانو ته ښکاره وي چې دی لپاره د مسلمانانو استازی او سفير ليږل شوي لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم اول مسلمانانو ته وويل چې زه دا کار کوم او بيا يې بعضې صحابه وليږل چې وخت او کار دواړه يې معلوم وو، خو وس د طالبانو سفير او استازي ته وګورئ چې نه يې کار معلوم دی او نه يې وخت معلوم دی او دوی چې هر سفر کوي او هره خبره کوي نو د اسلام او مسلمانانو په خلاف باندې وي نو لهذا دا سفير نه بلکې سفيه او بې وقوف دی......

پنځمه " د مسلمانانو سفير او استازی چې زي نو هغه به د مسلمانانو د امير په امر باندې زي لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د مسلمانانو امير ؤ، او عبدالله بن حذافه رضی الله عنه او نور صحابه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په امر باندې تلي وو نو وس د طالبانو سفير د چا په امر زي؟ دوی خو امير نشته ځکه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه روسته د ټولو مسلمانانو امير به خليفه وي هغه خليفه چې د هغې يو اتفاقي شرط چې دی هغه قريشيت دی لکه نبي عليه السلام فرمايي " كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ، وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي، وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ ". قَالُوا : فَمَا تَأْمُرُنَا ؟ قَالَ : " فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ، أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ ؛ فَإِنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ ".متفق عليه

شپږمه " د مسلمانانو سفير چې کله د کافرو ځای ته ورسيږي نو هلته به هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم د امر کلک پابند وي او د نبي عليه السلام د امر خلاف به نه کوي لکه څنګه چې عبدالله رضی الله عنه وکړل، چې د فارس بادشاه خپلو نوکرانو ته وويل چې دی سړي ته خط رواخلئ نو عبدالله رضی الله عنه ورته وويل چې دا خط به زه تاته لاس په لاس درکوم ځکه چې ما ته رسول الله صلی الله عليه وسلم همدغسې امر کړی ..... نو وس راشئ د طالبانو مشران او استازي وګورئ د رسول الله امر دادی چې پردو ښځو ته مه ګورئ خو د طالبانو مشران ورسره په ميزونو باندې ډوډګانې خوري، د رسول الله امر دادی چې پردو ښځو ته مه ګورئ خو د طالبانو مشران د کافرانو د بربنډو بې حياء او فاحشو ښځو سره تصويران اوباسي، د رسول الله امر دادی چې مسلمان ته ضرر او تکليف مه ورکوئ د مسلمانانو د حياء خيال وساتئ مسلمانان کافرانو ته مه حواله کوئ خو د طالبانو مشرانو په قطر وغيره کې د مسلمان په وژنې د مسلمان په بې حياء کولو او د مسلمان په قتلولو او زندان ته اچولو او داسې نورو تکليفونو باندې د کافرانو سره وعدی کړي......

اوومه " د مسلمانانو سفير او استازی به د کافرانو مخامخ خپل دريز او طبيعت سخت ښکاره کوي لکه څنګه چې عبدالله بن حذافه رضی الله عنه وکړل، خو وس د طالبانو مشرانو او سفيرانو ته وګورئ چې د کافرانو سره په ډېکه خوله خنداګانې کوي او خيټې ورسره جنګوي او داسې مجلسونه ورسره کوي لکه ښځه يې چې د خپل خاوند سره کوي،

ای مسلمانانو تاسو وس سوچ وکړئ چې دا وس مشران او سفيران دي که د کافرانو غلامان او فاسقان دي؟

أتمه " کله چې د فارس او ايران بادشاه د عبدالله بن حذافه رضی الله عنه په راتګ باندې خبر شو نو خپل دربار ته يې مخور او شهرت لرونکي خلک راغونډ کړل داده کافرانو صفت دی چې دوی يې د عام خلکو دوکه کولو لپاره کوي نو وس دغه صفت په طالبانو کې په مکملې طريقې سره موجود دی کله وايي چې سپينګيري او ملکان راغلل نو مونږ دا کار وکړ، او کله وايي چې سپينګيري او ملکان راغلل نو مونږ دا کار پريخد، او داسې نور.....

نهمه " د باطل پرسته او بې دينه انسان يو صفت دادی چې په هغه کې ضد او حسد زيات وي او د حق معلومولو سوچ او فکر نه کوي لکه څنګه چې د ايران بادشاه کسری ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم خط راغلو او د خط په اول کې يې د محمد صلی الله عليه وسلم نوم وليد، نو په ضد او حسد کې راغلو او خط يې ونه کتو او ټوټه ټوټه يې کړ، ....

وس طالبان همدغه خبره کوي چې تاسو د اسلامي خلافت بيانونه نظمونه او ويډيوګانې مه ګورئ دا ددوی ضد او حسد دی ځکه چې انسان کله د حق په لټنه کې وي نو هغه موافق او مخالف دواړه ګوري دی لپاره چې حق ورته معلوم شي خو په طالبانو کې د کافرانو او مشرکانو صفات موجود دي د حق معلوميدو غم او فکر ورسره نشته...

لسمه " کافرانو ته بد دعا او ښيرا کول جايز دي لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د کسری بادشاه ته وکړه چې الله دی دده بادشاهي ټوټه ټوټه کړي،

يولسمه " د کافرانو په دمکئ او اخطار باندې نه دوکه کيدل او د کافرانو ددمکئ نه نه ويريدل لکه څنګه چې د ايران بادشاه د يمن د والي باذان په واسطه باندی نبي عليه السلام ته اخطار او دمکې ورکړه کله چې نبي عليه السلام دغه اخطار وکتو او واوريدو نو په خندا شو ....

خو وس داسې مسلمانان شته چې کافران او مرتدين د زندان دمکې او اخطار ورکړي نو په هغه باندی يره غالبه شي حال دا چې نبوي طريقه داده چې سړي ورته وخاندي او خپل ځان نور هم په ايمان او اسلام باندې کلک کړي، او دمکې او اخطار ورکول مسلمانانو ته داد دشمن ددشمني د لارو څخه يوه لار ده خو ډير په دی کې پاتې راشي او د حق نه واوړي.....

دولسمه " مسلمانانو ته پکار دي چې ويخه او بيداره زندګي وکړي او د غفلت نه زانونه وساتي ځکه چې د مسلمانانو سره ددشمنانو ددشمنی بلله لاره داده چې د مسلمانانو د حالتو او ژوند نه زان خبر کړي او کمزوری زائ وګوري بيا په هغې باندې اقدام وکړي لکه څنګه چې د ايران بادشاه د يمن والي ته دا هم ويلي وو، چې د رسول الله ﷺ او د هغه د حالاتو معلومات هم وکړي...

خو وس چې مونږ د مسلمانانو ژوند او زندګي وګورو نو ټوله د غفلت نه ډکه ده او صراف دا غم دی ورسره چې دنيا څنګه وګټم څنګه يې مصرف کړم او څنګه يې وخورم خو د اسلامي قانون او نظام غم ورسره نشته او نه د کافرانو د دشمنې په سوچ کې دي،

ديارلسمه " مومنانو مسلمانانو ته پکار دي چې د کافران په اړه دومره سخت شي چې د کافرانو د مشرانو په زړونو کې د مسلمانانو نه يره پيدا شي لکه څنګه چې د روم د بادشاه په زړه کې يره پيدا شوې وا ...

نو وس راشه د طالبانو په شمول نورو ټش په نامه جهادي تنظيمونو او ډلو ته، چې اسلام او مسلمانان يې وشرمول او کافران ترى د سترګې د رپ هومره هم نه يريږي...

خو بيا راشئ او د اسلامي خلافت مجاهدين وګورئ چې د ټولې دنيا کافران ترې څومره سخت تنګ شوي او څومره سخت ترې يريږي، ولله الحمد على ذالك...

څوارلسمه " د کافرانو ددشمني بله لاره هغه داده چې مسلمانانو ته مال دولت او ددنيا سامان مخکې کوي خو د مومن مسلمان عقيده او سوچ به دا وي چې د عبدالله بن حذافه رضی الله عنه پشان جواب ورکړي... نو وس طالبانو ته راشئ او ددوی حال وګورئ چې خپله هم ددنيا او د امريکايې ډالرو لپاره کافران شول او د مسلمانانو سره يې دوستي په دشمني او د کافرانو سره يې دشمني په دوستي باندې بدله کړه، او ددی سره يې د کافرو په راشنو او خوراکي سامانونو باندې نور افغانان مسلمانان هم بې غيرته کړل چې وس په کافر باندې پز کولو ته هم ندي تيار او څوک چې ددغه کافرو سره جنګ او جهاد کوي هغې ته خوارج او تکفيريان وايي،

" انالله وانا اليه راجعون "

د لښکرو احصائیې
خراسان ولایت د ربیع الأول د میاشتې د بریدونو پایلې
1444 هـ
ټولیز عملیات : 11
ټولیزه مرګ ژوبله : 25
غلچکي بریدونه
05
ماین چاودنې
06
د بریدونو سیمې
کابل
ننګرهار
کونړ
لغمان
تخار
پیښور
باجوړ
19 طالب ملیشې
جواسیس
05
01 پاکستاني پولیس او آفسران
ویجاړ او زیانمن شوي موټرونه
06

خراسان د مرتدينو مقبره

په خراسان ولايت کې د اسلامي دولت د مجاهدينو د يوې مياشتې د عملياتو بشپړ راپور

د (1444 هـ کال د ربيع الأول له 1 - 30 پورې)

له تخار تر پېښوره ملا ماتوونکي ګوزارونه

د اسلامي دولت مېړنيو مجاهدينو د تېرو مياشتو په څېر دا مياشت هم د طاغوت په پرګټيو اتلوال بريدونه تر سره کړل.

که له يوې خوا د طاغوت بنده ګان کوښښ کوي نړۍ ته دا ثابته کړي چې دوی د صليبي نړۍ د امنيت د ساتلو په موخه د مؤمنانو ورونو او مؤمناتو خويندو په وژلو، ربړولو او زنداني کولو څه چې زموږ د کوچنيو معصومو بچو په بې رحمه وژلو هم دريغ نه کوي، دوی په دې وحشتونو کې له خپلو بادارانو امريکايي درنده ګانو هم يو څو قدمه مخ ته روان دي، خو له بل لوري د اسلامي دولت مجاهدين هم په کړيو وعدو کلک ولاړ دي او له ټولې نړۍ د کفر، شرک او ارتداد د ټغر ټولولو لپاره د صليب او د صليب له پرګټيو سره په ګڼو ډګرونو کې په جګړه بوخت دي.

د اسلامي خلافت مجاهدينو تېره اونۍ د خراسان په لر او بر کې ۱۱ بريالي بريدونه تر سره کړي چې په کې ۲۵ مرتدينو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

ياد بريدونه چې په تخار، کابل، ننګرهار، لغمان، کونړ، باجوړ او پېښور سيمو کې تر سره شوي ډېری برخه يې غلچکي بريدونه او ماين چاودنې تشکيلوي، چې دښمن ته د سر او مال د درووند زيان اړولو ترڅنګ يې د دښمن په ليکو کې په پراخه پيمانه ډار او رعب هم خپور کړی دی، او اوس د مرتدو طالب ملېشو په ګډون نور طاغوتي سرتيري دې حد ته رسېدلي چې د سرتيري د ساتنې لپاره بل سرتيري ته اړتيا او ضرورت دی.

د اسلامي دولت مجاهدينو دا ځل ډېری چاودنې د کابل په زړه کې تر سره کړې چې د مرتدو طالب ملېشو د ګڼو غړو د مرګ ژوبلې ترڅنګ د ملېشو ګڼ موټرونه هم په بشپړ ډول ويجاړ او کباړ شول، په يادو چاودنو کې يوه يې د مرتدو ملېشو د شرکي محکمو پر قاضيانو او غړو تر سره شوه چې ګڼ شمېر مرتدينو ته په کې مرګ ژوبله واوښته.

بل لور ته د ننګرهار په اچين، د لغمان په الينګار او کونړ ولايت کې هم د مرتدو طالب ملېشو په غړو او لېږدونکو موټر د ماين چاودنې تر سره شوې چې د ګڼې مرګ ژوبلې سره سره موټرونه هم د اور خوراک شول، له ياده بايد ونه باسو چې ماينونه د ځپونکې جګړې يو له اساسي موادو شمېرل کېږي چې د دښمن ملا ماتوي، د مجاهدينو روحيه اوچتوي او دښمن په دومره ډار کې لوېږي چې بيا په پاخه سړک هم له ډاره تګ نه شي کولای.

د مبارکو ماینونو ترځنګ دا میاشت د غلچکیو بریدونو او ترورونو میاشت وه، او د مرتدو جواسیسو لپاره یو له خونړیو میاشتو څخه وه، چې په کې چیریکي ډلګیو د مرتدو طالب ملېشو او مرتد پاکستاني پوځ ګڼ شمېر جاسوسان ذبحه کړل، د تفنګچې په مرمیو یې سرونه غلبیل کړل او د خپل ناوړه عمل په سزا یې ورسول.

د یادو جاسوسانو په وژلو سره مجاهدینو دا پیغام هم د حال په ژبه پرېښود چې طاغوتي حکومتونو او پوځونو ته جاسوسي کوونکي دې پوه شي چې د اسلامي دولت د مجاهدینو لاسونه به یوه ورځ نه یوه ورځ هرو مرو ور رسېږي او بیا به د دوی چیغې، فریاد، سلګۍ او آهونه هیڅ په درد ونه خوري، نو مخکې له دې چې د زمریو په پنجو کې راګیر شي له خپلو ناوړه اعمالو دې توبه وباسي او خپل عادي ژوند دې وکړي.

د جاسوسانو د وژلو سربېره مجاهدینو په یوه اتلوال غلچکي برید کې د پاکستاني پولیسو یو ضابط هم د تفنګچې په مرمیو وویشت چې ټک په ټکه مردار شو او د ځمکې مخ ترې د تل لپاره پاک شو، ولله الحمد.

د تېرې میاشتې په مبارکو بریدونو کې په ټولیز ډول ۱۹ د مرتدو طالب ملېشو غړي، ۵ تنه د طالب ملېشو او پاکستاني مرتد پوځ جواسیس او د پاکستاني پولیسو یو ضابط مړه او ټپیان شوي دي او ٦ موټرونه هم ویجاړ او له کاره غورځول شوي، د یادونې وړ ده چې په خراسان ولایت کې مجاهدین د مرتدو طالب ملېشو او د پاکستان د مرتد حکومت په خلاف په جګړه بوخت دي چې د چیریکي بریدونو او ماین چاودنو ترځنګ وخت ناوخت د طاغوت پر بنده ګانو او په خراسان ولایت کې په میشتو مشرکو روافضو خونړي بریدونه هم تر سره کوي او تر هغې به د حق او باطل دا جګړه روانه وي چې د شرک، کفر او ارتداد ټغر په بشپړ ډول ټول او الهي، سپېڅلی او روڼ شریعت نافذ شي.

والله غالب على أمره ولكن أكثر الناس لا يعلمون.

رسول الله ﷺ فرمایلي: (د یوې ورځې او شپې پیره، د یوې میاشتې له روژه نیولو او قیام څخه غوره ده، او که چیرې په دغه حالت کې مړ شي د دغه عمل اجر به یې جاري وي، رزق به ورته ورکول کېږي او له لویې فتنې به په امن شي)

[رواه مسلم]

مؤسسة العزائم الإعلامية
يې وړاندې کوي